RAND CORPORATION

OBJECTIVE ANALYSIS.
EFFECTIVE SOLUTIONS.

Woodrow Wilson
International
Center
for Scholars

د ودرو ویلسن نړیوال مرکز

د رانډ مؤسسه

د څیرونکو د پاره عینی تحلیل مؤثر حلونه

# د مینځنی ختیز پروګرام

# «بهترینی لاری»
# په اسلامی هیوادونو کی د کورنی مترقی قوانین

د ۲۰۰۵ کال د آګست میاشت

## محتویات | پاڼه


مقدمه ۰۳

ښځې او د کورنی قانون مسلې

واده

د واده حد اقل عمر ۰٦

د څو ښځو لرلو مسله ۱۲

د ولی اجازه، د ښځو رضا ۱٦

طلاق

د طلاق حق ۲۴

د اولاد حفاظت او پالنه ۳۰

د میره د مړینی نه وروسته ۳٦

قانونی حقوق

کار کول ۴۰

بشپړ قانونی موقف ۴٦

تبعه ۵۵

تگ راتگ (گرځیدل) ۵۰

د ښځو سره زور زیاتی (وهل ډبول)

کورنی زور زیاتی ۵۹

د ننگ او غیرت په نامه د ښځو وژنه ٦۳

د لغتونو معنی/د اصطلاحاتو لست ۸۱

د راند او د ودرو ویلسن د مؤسسو په باره کی معلومات ۸۳

ضمایم: د ښځو په ضد د هر ډول تبعیض د لری کولو کنوانسیون یا (CEDAW)

# مقدمه

ډیر ماهرین، په اسلامی نړی کی دننه او بهر، قهقرائی ټولنیز اعمال د سیمی د اقتصادی او ټولنیزی ودی د لاری لوی خنډ بولی. د عربو د بشری ودی په باب د ملګرو ملتونو د انکشافی پروګرام رپوټ له یوی خوا د کورنیو د سخت ګیری او د ښځو د ارزښت د لږوالی تر مینځ، او له بلی خوا د ودی د کموالی او رکود د مینځه وړلو په ناکامی کی ځرګند ارتباط وینی. رپوټ وایی چه د مینځنی ختیځ ښځی، ''د ملک د نورو اتباعو سره د مساوی حقوقو او قانونی استحقاق نه لرلو نه چه معمولا په قانون کی ښکاری، کړیږی.'' دا برسیره پدی چه غیر عادلانه خبره ده، د انسانی پانګی د کمیدو سبب هم ګرځی، او د نیمائی برخی وګړو لاس و پښی تړی او پدی توګه د ټولنی تولیدی قوت نیموی.

د اسلامی هیوادونو حکومتونه، قانون جوړونکی او منورین تازه پدی ستونزی پوه شویدی او د حل په لټه کی دی. یو شمیر هیوادونو د خپلو قوانینو په ځیرنی او اړولو بنا کړیده، د خپلو قاضیانو روزنی ته یی پام اړولی، او په محاکمو کی د موجودو قوانینو د عادلانه تطبیق اندیښنه ورسره ده. پدی توګه هغوی متوجه شویدی چه منصفانه او مساوی قوانین چه د اوسنی عصر سره برابر وی، د اسلام د اصولو سره تناقض نلری. بلکه دا هیوادونه خپل حقوقی نظام او قوانین د هغو قبایلی اصولو نه پاکوی چه اسلامی ندی او د اسلام نه مخکی مروج او زیاتره یی زاړه او ظالمانه دی. دا هیوادونه جبری ودونه، د ماشومانو ودونه، د یوی سزا په توګه عفت باندی د تیری حکم، د قومی شخړو د حل دپاره بدو کی د جینکو ورکول او خرڅول، او داسی نور اعمال چه نه یوازی د بشری حقوق د نړیوالو اصولو سره تناقض لری بلکه د اسلام خلاف اعمال هم دی، منع کوی.

ددی روانی ځیرنی او اصلاحاتو دوه مهمی برخی د ښځو او د کورنی د وضعی په ځرنګوالی او تشکیل پوری تړلی دی. د کورنی قوانین اود شخصی موقف قوانین دویمه درجه خبری ندی، بلکه د ټولنی د ژوند بنیاد جوړوی. اساسی مسلی ورپوری نغښتی دی، لکه دا چه یو فرد د چا سره، په کوم عمر کی، او د چا د پاره واده وکړی؛ آیا هغه واده چه خوښی یکی نه وی ختمیدای شی، د چا له خوا، اوپه کومو شرایطو کی؛ آیا د طلاق نه وروسته خپل اولاد لیدلی شی؛ آیا تعلیم او کار کولی شی؛ په خپل ځان باندی واک او د تګ راتګ آزادی لرلی شی؛ د بشپړ تبعه په توګه حقوق او مسولیتونه لرلی شی او د تشدد او بیعدالتی په ضد فریاد کولی او جبیره غوښتلی شی او که نه.

په ډیرو اسلامی هیوادونو کی، لیکلی قوانین په رسمی ډول ښځی د اساسی او مدنی حقوقو نه بی برخی کوی، او ټول عمر کی یی په نورو پوری تړلی اود یو ه نارینه خپلوان یا میړه د لاس لاندی ساتی. ښائی چه قانون حتی په ډاګه نارینه ته اجازه ورکړی چه خپله ښځه یا د کورنی بله ښځینه غړی بندی وساتی، او نه یوازی د شخصی اسنادو د لرلو نه منع کړی بلکه د تګ راتګ حتی د کور نه د وتلو نه ئی منع کړی. نورو دغسی غلتو قوانینو کی هغه شامل دی چه هغه ښځی چه عفت باندی یی تیری شوی وی ، مجبوروی چه د تیری کونکی سره واده وکړی او د هغی ښځی تابعت ورنه اخلی چه د کوم خارجی سره واده کوی خو که کوم نارینه دا کار وکړی، تابعت ترینه نه اخلی.

په دویمه ډله اسلامی هیوادونو کی، اساسی قانون تش په نامه خپلو ټولو اتباعو ته مساوی او برابر حقوق ورکوی، خو هغه ستری نابرابری چه د شخصی او کورنی موقف په قوانینو کی لیکل شویدی، هغه اصول د پښو لاندی کوی او ښځو ته د دویمه درجه تبعه حیثیت ورکوی.

حتی هغه ځای کی چه د ښځو حقوق رسما په اساسی قانون او حقوقی قوانینو کی ورکړل شوی هم وی، که عملی او تطبیق نه شی، نو دا حقوق دهغوی په ورځنی ژوند کی هیڅ معنی نلری. په ځینو ځایونو کی ، قاضیان د قانون په تعبیراوتطبیق کی بیدرکه ډیر واک اختیار لری. ددینه علاوه، په ځینو سیمو کی ښائی مسلکی قاضیان اصلا نه وی؛ او د هغو په ځای فقط په خپل سر ټاکل شوی محلی مذهبی او یا قومی اشخاص قوانین او حکمونه په خپله خوښه او په خپل سرعملی کړی. د پاکستان د یوی کلیوالی شورا دا "حکم" ئی یو ربړونکی مثال دی چه د یوی ځوانی ښځی عفت باندی دی، د هغه جرم په گناه چه ویل کیږی ورور ئی کړی وو، د څو تنو له خوا تیری وشی.

خو له نیکه مرغه، اوس دستی پدی برخی کی ډیرحرکات او بحثونه روان دی چه مونږ ئی د بدلون امید بخښونکی علامی بولو. دری دلیلونه څرگند دی. اول، یو شمیر پر مخ تلونکی هیوادونه ددی ستونزواو زور زیاتی د لری کولو حل لټوی، او د نوو برابرو قوانینو د جوړولو هڅی کی مخکښ شویدی. دویم، د جنگ نه وروسته د بیا ودانولو د جریان د یوی برخی په توگه، چه همدا اوس په افغانستان او عراق کی روانی دی، د اساسی قانون او نورو قوانینو جوړولو ته ډیره نړیواله توجه او مشوره روانه ده. دریم، د ارتباطاتوبهتره کیدل چه په نړیواله سطح ئی د افکارو او نظریاتود تبادلی چاری هم په اسلامی نړی کی او هم په نړیواله سطحه ښی کړیدی. دی خبری مسلمانو حقوقی څیړونکوته توان ورکړی چه د حقوقی مسلو ډیر پراخ او غنی تعبیر او تفسیروکړی او داسی قوانین جوړ کړی چه د حقوقو د ټولو پیژندل شوو مکتبونو بهترین عناصر پکی نغښتی وی. ۱

د مدنی ټولنی او غیر حکومتی مؤسسی عمل، څارنه، روزنیره مبارزه او د نړیواله کنوانسیونوعملی کیدلی (لکه د ښځو په ضد د هر رنگه تبعیض د له مینځه وړلو کنوانسیون ، .... پانی ته لاړ شی)، ددی مثبته انکشافاتو ملاتړ کولی شی. CEDAW

## ددی پروژی په باره کی

ددی پروژی هدف دا دی چه یوموجز اولنډ سند جوړکړی چه په اسلامی هیوادونو کی د کورنی قانون د تطبیق او عملی کولو لپاره "بهترینی طریقی" پکی ښول شوی وی. په همدی دلیل، مونږ هیله لرو چه هغه مثبت انکشافات چه د اسلامی نړی په حقوقی او قضائی چارو کی راځی، نورو هیوادونو او د قانون عملی کونکو ته په آسانه او بهتره توگه ورسیږی، چه د عین ستونزو سره لاس و گریوان دی. مونږ امید لرو چه دا څیړنه به قانون جوړونکو، حقوقی وکیلانو او د مدنی ټولنی ډلو ته گټوره وی.

ددی سند معنی دا نده چه گنی مشخص تجویز کوی یا د ټولو اسلامی هیوادونود کورنی ټول قوانین ښیی. بلکه دا د "بهترینو طریقو" یوه مجموعه ده چه د ښځو اوکورنیو هغه مسلی راسپړی چه د هغوی د شخص ترقی او د ژوند د ښه کیدو دپاره، ډیری مهمی گڼل کیږی، او داسی لاری چاری ښیی چه په هغو کی منورو اسلامی قانون پوهانو اسلامی اصول د ننی عصر د اخلاقی او ټولنیزه ارزښتونو سره پخلا کړی چه یو پرمختلونکی حقوقی اصل تری جوړ کړی.

د پروژې غړو د الجزایر، مصر، اندونزیا، ایران، اردن، لبنان، مالیزیا، مراکش، پاکستان، سوریې، تونس، او ترکیې قوانین او کورنی قواعد وڅیړل. او د نوروهیوادونو د ارقامو او معلوماتو سره ئې مقایسه کړل؛ او د استعمال شوو ارقامو اندازه مو ښودلې ده، او دا ښکاره

کوی چه آیا دا مقایسه د ټول مینځنی ختیز ده او که د شمالی افریقا (مینا) د سیمې، عربی نړی، یا هغو هیوادونو چه اکثریت اوسیدونکی یې مسلمانان دی.

د راند مؤسسی اود څیړونکو د پاره د وودرو ویلسن نړیوال مرکز (تفصیل په ... پانې کی) د ۲۰۰۵م کال په مارچ کې د ویلسن دمرکز د میځنی ختیز د پروګرام د رئیسی، هاله اسفندیاری، او راند د مؤسسی لوړرتبه سیاسی تحلیل ګری او د مینځنی ختیز ځوانانو د ابتکار د پروګرام رئیسی، شیریل بینارد پدی پروژې باندی ګډ کار او همکاری پیل کړه. یوی ډلی څیړونکود پورته یادو شوو ۱۲ اسلامی هیوادونو اساسی قوانین او د کورنی قوانین د واده او طلاق نه نیولی د قانونی حقوقو او د ښځو په ضد د زور زیاتی پوری مسلو کی یو بل سره مقایسه کړل. پدی څیړنی کی یوازې په لیکلو قوانینو باندی غور ونه شو، بلکه د هغو په عملی کیدو، او په همدی موضوعاتو کی نورو دویمه درجه مقرراتو او قواعدو باندی هم غور وشو.

هر فصل کی د موضوع په ارتباط د اصلاح غوښتونکو اساسی اهداف بیان شوی، د بدلون لپاره مترقی نمونی په نښه شوی، دواړه یاد شوی، هغه چه د مساوات او برابری مشخځ هدف په بشپړ ډول تر سره کوی، او هغه چه یو اندازه بهتری راولی مګر ځینو برخو کی نیمګړتیاوی هم لری؛ او هغه ستونزی هم بیانوی چه په بشپړ ډول د مترقی قوانینو د عملی کیدلو په لاره کی موجودی دی. فصلونه اجمالی بڼه لری او د هری مقایسی لپاره جدولونه جوړ شوی. ټول ارقام دامکان تر حده پوری تازه دی.

مونږ امید لرو چه دا سند به د یوی ګټوری معلوماتی مرجع حیثیت ولری. مونږ د کریستین کارلوچی د راند د مؤسسی، او د جیلیان فرامکین د ویلسن د مرکز، نه د دی سند په ترتیب کی مننه کوو؛ د پروفیسرانو ناتان براون، د نړیوالی سولی لپاره د کارنیګی د مؤسسی؛ لیلا لبیدی، د تونس د پوهنتون؛ والنتین مقدم، د یونیسکو؛ فلیپاسترام د ویلسن د مرکز؛ او کاترین واریک د امریکن پوهنتون د مهارتونو نه د دی فصلونو په لوستلو او هغو باندی د غور کولو له امله مننه کوو. مونږ همدارنګه غواړو د ایوان هینسلای، ماتان راب، او فریبا یاسی، نه چه د ویلسن مرکز مؤقت غړی وو د هغوی د څیړنو او د رند د مؤسسی د فیلیس ګیلمور نه د وروستی سند د ایدت کولو لپاره مننه وکړو. د هر یوه کار ډیر اعلی وو.

---

۱ د حقوقو پنځه پیژندل شوی مکتبونه معمولا ډیر مختلف دریځونه لری، حتی د شخصی او کورنی قانون په ډیرو ابتدائی مسلو کی. لدی امله چه دا ټول په مساوی ډول اصلی قوانین دی، په نظریاتی لحاظ قانون جوړونکو ته توان ورکوی چه د هر یوه نه بهترین ټکی راواخلی او غوره ئې کړی.

## د واده حد اقل عمر

قرأن کی د واده حد اقل عمر دقیقا ندی تعریف شوی، فقط بلوغ د حد اقل جواز عمر په توگه یاد شویدی. دا خبره ددی سبب گرځیدلی چه د واده د حد اقل عمر په باب، په تیره بیا ددی تیری پیړی، په قوانینو کی د پام وړ انشعاب او اختلاف لیدلی کیږی.

ځوانی ښځی په واړه عمر کی د واده له امله د جسمی او روحی خطرونو سره مخامخ کیږی. د واده د حد اقل عمر د پاره د یوه مناسب عمرټاکنه، چه ډیر کم نه وی، دواړو خواو مخصوصا ښځو ته د یو شمیر دلایلو له امله ډیرمهم دی.

اول، په ډیر کم عمر کی امیندواری، د ډیرو ستونزو سره ملگری وی او د مور او د ماشوم د مړینی د زیاتیدو سبب گرځی. دویم، واده معمولا د ښونځی نه د ځوانو جینکیو د وتلو سبب گرځی. دریم، یوه نجلی یا ډیره ځوانه ښځه پداسی موقف کی نه وی چه د واده په باره کی په پوهی سره خپله رضا ځرگنده کړی.

### اهداف

* تعلیم ته پوره لاس لرنه
* په خپله د خپل ژوند د شریک د ټاکلو حق
* واده سره په غور د رضا د ښودلو توان
* په جسمی او روحی لحاظ د یوی بالغی ښځی محفوظه امیندواری

### غتی ستونزی

۱. د واده حد اقل عمر لا هم په اسلمی هیوادونو کی متفاوت دی (جدول ووینی). ډیرو پر مخ تللو هیوادونو د ښځو او نارینه وو لپاره عین عمر ټاکلی دی (چه په جدول کی په تورو کرښو لیدل کیږی).

۲. ښځی معمولا مجبوره کیږی چه د واده سره سم خپل تعلیم پریږدی. پدی توگه، ټولنی چه د واده حد اقل عمر پکی څه باندی ۱۷ یا ۱۸ کاله دی، د تعلیم د پاره زیاتره موقع ورکوی. د واده د حد اقل عمرپه باب قوانین باید تطبیق شی اود خوښی اورضا تقاضا باید پکی وی (راتلونکی فصل ووینی)، د کم عمره خلکو ودونه چه د واده د قانونی عمر نه واړه وی باید منع - یا جبرا باطل - شی. قضائی معافیتونه چه د حد اقل عمر د محدودیت

**د واده حد اقل عمر: لنډيز**

**عمر**

| **هيواد** | **نارينه** | **ښځه** |
|---|---|---|
| الجزاير ا | ۲۱ | ۱۸ |
| مصر ا | ۱۸ | ۱٦ |
| اندونيزيا ب | ۱۹ | ۱٦ |
| ايران ا | ۱۵ | ۱۳ |
| **اردن پ** | ۱۸ (۱٦) | ۱۸ (۱۵) |
| لبنان ت | ۱۸ | ۱۷ |
| ماليزيا ا | ۱۸ | ۱٦ |
| **مراکش (المغرب)** | ۱۸ | |
| پاکستان ث | ۱۸ | ۱٦ |
| سوريه ا | ۱۸ | ۱۷ |
| تونس ب | ۲۰ | ۱۷ |
| **ترکيه ا** | | |
| **۱۷** | | |

**ا** مذهبی يا مدنی محکمی کولی شی چه استثنأت راولی او د نا بالغو د واده اجازه ورکړی.

**ب** "د غلط پوښ" قانون ـ د تشريح لپاره يی متن ته لاړ شی.

**پ** شاهی فرمان د واده حد اقل عمر ۱۸ کلونوته لوړ کړی خو په قانون کی لا ليکل شوی ندی.

**ت** د مذهبی اقليتونو لپاره استثنأت شته.

**ث** قانون د تطبيق وړ ندی ( نا بالغه ودونو ته سزا ورکول کيدای شی، خو د کم عمره خلکو ودونه لاهم قانونا منل کيږی).

يادونه: هغه هيوادونه چه نومونه ئی په تکو تورو حروفو ليکل شويدی د نارينه او ښځی دعمرد برابری او مساوات مقررات لري.

نه د تيريدو اجازه ورکوی بايد فقط په ډيرو ښکاره تعريف شوو مواردو کی وی، او داسی حالاتو کی نه وی چه په ښځو باندی زور زياتی لا پسی ډير کړی.[۲]

---

۲ د مثال په توګه، کله چه داسی ښځه چه په عفت باندی ئی تيری شوی يا يرغمل شوی وی، حمله کونکی سره واده کولو ته د فشار لاندی راوستل شی.

۳. ”د غلط پوښ“ د بندونو نه - چه د واده حد اقل عمر پکی واده سره د رضا د حد اقل عمر نه فرق لری - باید ډېر وشی. د تونس په شان قوانین، چه په ۱۷ کلنی کی د ښځو د ودیدو اجازه ورکوی، مگر د مدنی رضا ورکولو عمر نارینه او ښځی دواړو ته ۲۰ کاله ټاکی، او د ۲۰ کلنو نه د کم عمره ښځو د ودیدو د پاره د هغی د مور پلار اجازه غواړی، او کیدای شی چه ناوړه عواقب ئی دا وی چه ښځی د خپل ژوند د شریک د انتخاب د حق نه محرومی کړی.

**د بدلون ليوالتيا**

۱. اوس چه د اقتصادی اړتیاوو له امله دداسی کورنیو شمیر زیاتیږی چه دوه تنه باید پکی کار وکړی، او په واړه عمر کی د امیندواری په خطرونو باندی خبرتیا زیاتیږی، نو په واړه عمر کی د ودونو اندازه په کمیدو ده. په زیاتیدونکی ډول، د هغو ښځو قدر په ډیریدو دی چه د کورنی سره د اقتصادی مرستی توان لری. په عین حال کی دغه پوهه هم په زیاتیدو ده چه تعلیم او ذهنی پوخوالی یوی ښځی ته د اولاد راوړلو او ښه روزلو بهتره او زیاتره توان ورکوی. پدی برسیره، پداسی حال کی چه ښځی او نارینه په ټولنیزو چارو او مسلکی فضا کی یو بل سره ډیر وینی، دا احساس هم په زیاتیدو دی چه ځوانان باید د خپل ژوند د شریک په ټاکلو په خپله برخه واخلی.

۲. په مینځنی ختیز کی عمومی لیوالتیا دا ده چه واده وروسته واچول شی: یوه څیړنه ښیی چه د ۱۹۷۰ او ۱۹۶۰ د لسیزو په اولو کلونو کی ، د هغو ښځو شمیر چه د شل کلنی نه مخکی یی ودونه کړیدی، د پرمخ تلونکی نړی په تناسب د مینا په سیمه کی څه باندی دوه چنده لږ شویدی. ۳

---

۳ سوشیلا سینگ او رینی سامارا. ”په پر مخ تلونکو هیوادونو کی، کم عمر کی د ښځو ودونه“، د کورنی پلان جوړولو د نړیوال منظر ۲۲ له مخی، ۱۴۸-۱۵۷+۱۷۵، ۱۹۹۶. دا څیړنه، د ډیموگرافی او روغتیا په سروی گانو بنا ده، او په ۴۰ پر مخ تلونکو هیوادونو کی د مختلف عمرونو د ښځو نه پکی پوښتل شوی چه په کوم عمر واده شویده. څیړنی کی د مینا د سیمی شپږ هیوادونه (مصر، اردن، مراکش، سودان، تونس، او یمن) شامل وو. د ۲۰ کلنی نه مخکی ودونو شمیر په پنځو اسلامی هیوادونو کی د ټولو نه ډیر کم شوی وو(سودان، مراکش، تونس، اردن او اندونیزیا).

## تطبیق

۱. تطبیق مهمه مسله ده؛ په واقعیت کی د **مراکش** قانون د قانون د تطبیقیدو د اهمیت یادونه کوی: " د کورنی قانون قضا ته د قانون د ساتنی ډیر مهمه وظیفه سپاری او عامه څارنوال ته وظیفه ورکوی چه د کورنی قانون د تصریح او عملی کیدو لپاره په هر حقوقی اقدام کی برخه واخلی."۴ یوازی په کاغذ باندی د جینکو د واده د حد اقل عمر بدلول د ۹ نه ۱۳ ته (**ایران**) یا د ۱۵ نه ۱۸ ته (**مراکش**) کی دا نه تضمینوی چه خلک د قانون مراعات کوی.

۲. مگر، ښه قوانین د بدلون د جریان لپاره اساسی شرط دی. هغه اسلامی هیوادونه چه مترقی کورنی قوانین لری او د هغو د عملی کولو لپاره پرله پسی هلی ځلی کوی، نسبت نورو هیوادونو ته د جینکود واده د حد اقل عمر د لوړول په چارو کی ډیر بریالی دی.

۳. د قانون تطبیق او په هغو باندی چه د قانون نه تیری کوی د جدی بندیزونو لگول مهم دی. هغه ودونه چه د قانونا ټاکل شوی حد اقل عمر نه ټیټ عمر کی کیږی، باید قانونا موثق ونه گڼل شی، او میندو پلرونو او ولیانو ته قانونی سزاوی ورکړل شی.

۴. همدارنگه باید د وروسته واده کولو په گټو باندی، او په واړه عمر کی د واده په خطرناکه نتیجو باندی د عامو خلکو د خبرولو لپاره پراخه تعلیمی مبارزه وشی. او ټولنیز مشران پدی مبارزی کی برخه واخلی. قضا باید د قانون په سم تطبیق باندی په بشپړ ډول واقفه وی، او محاکم باید وڅارل شی. قاضیان او نود رسمی او غیر رسمی حقوقی مقامات باید پدی ښه خبر کړای شی چه مسؤل به وگڼل شی او د زړو قوانینو او قواعدو تطبیق او یا د قانون نه تیریو باندی سترگی پټول ناوړه عواقب لری.

### نمونه وی موارد

په **مراکش** کی، مداوانه، یک کورنی قانون د ۲۰۰۴م کال په فبروری کی اصلاح شو، او ښځو ته پکی ډیر حقوق ورکړل شول. دا اصلاحات په اسلامی اصولو ولاړ وو. د ښځو د واده

---

۴ زده کړی کی د ښځو شراکت،

http://www.learningpartnership.org/events/newsalerts/morocco0204.phtml.

حد اقل عمر د ۱۵ نه ۱۸ کالو ته لوړ او د نارینه د واده د حد اقل عمر سره برابر کړای شو. د برابری اومساوات په ارتباط اضافی بدلونونو کی یو دا دی چه ښځه او میړه په کورنی کی ګډ او شریک مسؤلیت لری او بالغه ښځه په خپله د ځان ساتلو حق لری، نه دا چه اختیار یی د کورنی دکوم نارینه غړی په لاس کی وی، او ښځه کولی شی چه دا حق په آزاد او مستقل ډول عملی کړی. د اسلام په چوکاټ کی په دغسی نوو، مترقی قوانینو کی د ښځو د حقوقو شاملولو سره، مراکش دهغو اسلامی هیوادونو یو مثال دی چه غواړی په عصری ټولنی کی ورګډ شی.۵

په **ترکیه** کی، نارینه او ښځی نه شی کولی چه د ۱۷ کلنی نه مخکی واده وکړی. په خاصو شرایطو کی د ډیرو مهمو دلایلو په وجه، قاضی کولی شی چه یو نارینه یا یوی ښځی ته اجازه ورکړی چه په ۱٦ کلنی کی واده وکړی (۱۲۴ ماده). مګر د یوی اضافی څارنی په توګه، د واړه عمر دغسی ودونه د کوم حقوقی استازی د حضور نه پرته تر سره کیدای نه شی (۱۲٦ ماده).٦

په **اردن** کی، یو شاهی فرمان په ۲۰۰۱ کال کی د واده حد اقل عمر، ښځو او نارینه دواړو ته ۱۸ کاله وټاکه؛ پخوا د نارینه لپاره د واده حد اقل عمر ۱٦ کاله او د ښځو لپاره ۱۵ کاله وو. (دا فرمان تر اوسه پوری رسما قانون کی ندی شامل شوی.۷)

---

۵ د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، د دیموکراسی، بشری حقوقو او کار څانګه. "مراکش." دبشری حقوقود اصولو په باب د هیواد راپور - ۲۰۰۴م کال. د فبروری ۲۸، ۲۰۰۵:

;http://www.state.gov/g/drl/rls/hrrpt/2004/41728.htm

"د هغو سترو اصلاحاتو لیست چه د کورنی په نوی قانون کی د اوسنیو موادو په مقایسه راوستل شویدی،" د 'مراکش دیموکراتیک ټولنی' له خوا راټول شویدی، ۲۰۰۴.

http://www.learningpartnership.org/events/newsalerts/moroccofamlaw.pdf,

د اپریل په ۱۳، ۲۰۰۵ ترتیب شویدی. همدارنګه دی ځای ته باید رجوع وشی:

.http://www.learningpartnership.org/events/newsalerts/morocco0204.phtml

٦ د ختیزی اروپا د ښځو حقوقی ابتکار. " د کورنی قانون راپور: ترکیه."

ftnlhttp://www/seelineproject.net/FamilyLaw/TurkeyFL.htm#

۷ ایمورای پوهنتون. "اسلامی کورنی قانون،"

Http://www.law.emory.edu/IFL/,2004.

## د نورو قضییو څیرنه

**تونس** د تونس قانون نارینه ته چه عمر یی د ۲۰ کلونو نه او ښځی ته چه عمر یی د ۱۷ کلونو نه لږ وی د واده اجازه نه ورکوی، مگر دا چه د ښځی اومیره د ښی گنی لپاره د محکمی خاصه اجازه اخیستل شوی وی (۵ ماده). ددی قانونی حد نه د کم عمره خلکو ودونه د هغوی د ولیانو د اجازی او رضا پوری تړل شویدی (٦ ماده). د تونس قانون ښځی او نارینه دواړو ته په ۲۰ کلنی کی بشپړ مدنی قابلیت ورکوی (۱۵۷ ماده).۸

**الجزایر** د الجزایر د ۱۹۸۴م کال د کورنی قانون په مطابق، یو قاضی۹ پکار دی تر څو د وداه لپاره د نارینه عمرچه قانون کی ۲۱ کاله دی اود ښځی عمرچه ۱۸ کاله دی، واړوی. ۱۰

**پاکستان** د ماشوم د واده د مخنیوی د ۱۹۲۹م کال د مقرری او د اوسنی دریځ له مخی،د واده حد اقل عمر نادینه ته ۱۸ کاله او ښځی ته ۱٦ کاله دی. دغی مقرری کی د ماشومانو د قراردادی ودونو لپاره سزا هم ټاکل شویده. مگر، "دماشومانو د قراردادی ودونو په باب د سزا د احکامو سره سره، دغسی ودنونه نه فسخ نه گڼل کیږی."۱۱

**سوریه** په سوریه کی، د واده حد اقل عمر د نارینه لپاره ۱۸ کاله او د ښځو لپاره ۱۷ کاله دی، که څه هم چه قضا ته صلاحیت ورکړل شوی دی چه د دینه د کم عمره ځوانانو ودونه هم مجاز وگڼی. مگر د پاخه عمر نارینه سره د ډیرو ځوانو ښځو د واده د مخنیوی لپاره قواعد ټاکل شویدی. "که چیری محکمه دښځی اونارینه په عمرونو کی توپیر ووینی، قاضی کولی شی چه د واده اجازه ورنکړی. دواړه خواوی باید د ولیانو اجازه په بشپړ ډول ولری، که څه هم چه قاضی کولی شی چه د ښځی د ولی غیر معقوله اجازه او اعتراض رد کړی(پدی شرط د دواړو خواوو د کفایه موقف مساوی وی.)۱۲

---

۸ جمال ج. ناصر، د شخصی موقف په باب اسلامی قانون، ۳ تعدیل، اید کلوور نړیوال قانون. ۲۰۰۲م کال، ۵۰ پانه.

۹ په اسلام کی، قاضی د مذهبی قانون قضاوت کوی.

۱۰ الجزایر کی د ۱۹۸۴ کال د کورنی قانون، ۷ ماده، ترجمه شوی د طاهر محمود له خوا. په اسلامی هیوادونو کی د شخصی قانون دریځ، ۲ تعدیل شوی برخه، ۱۹۹۵م کال، ۱۰۱ پانه

۱۱ د ایموری د پوهنتون د قانون او مذهب پروگرام « د اسلامی کورنی قانون» http://www.law.emory.edu/IFL/index2.html

۱۲ یو ولی د کمسنو نماینده، مینځگړی او محافظ دی او یا دا چه قانون فکری توانایی ونه لری. د ایموری پوهنتون «د کورنی اسلامی قانون» http://www.law.emory.edu/IFL/ , ۲۰۰۴ کال.

## د ډيرو ښځو لرل

اسلامی هيوادونو کی د څو ښځو د لرلو مسله په مختلفو طريقو حل شويده.

يوه ډله هيوادونه داکار محدودوی، شرطونه پری لګوی، او په ځينی مواردو کی، په ډيری تندی د څو ودونو د کرکجن عمل مخه نيسی.

**اهداف**

* د څو ښځو لرلو منع کول يا
* ددی کار محدودول چه لږ تر لږه په ښځی، اولادونو، او کورنی باندی د دی کار ناوړه اثرونه لږ شی.

**ددی هدف عملی کول او ستونزی**

۱. هغه عام شرايط چه هغو هيوداونو چه د څو ښځو لرل منع کوی، ايښی دی په لاندی ډول دی:

الف. مخکنی ښځه يا ښځی بايد د ميړه ددی نيت نه خبری کړای شی چه غواړی بله ښځه وکړی

ب. مخکنی ښځه يا ښځی بايد رضا ولری.

پ. ميړه بايد ثابته کړی چه د بل ښځی کول "عادلانه او لازم" دی (ښکاره دلايل يی دا دی چه مخکنی ښځه بی اولاده ده، په جسمی لحاظ د واده اړيکو ته مناسبه نده، ليونی ده، يا جسمی نيمګړتيا لری او يا جنسی اړيکو ته غاړه نه ږدی).

ت. ميړه بايد ډاډ ورکړی چه نوی واده به يی د پخوانيو ښځو او دهغوی د اولادونو په ژوند باندی ناوړه اثر ونه لری.

ث. ميړه بايد تضمين ورکړی چه د خپلو ټولو ښځو او اولادو سره عادلانه سلوک کوی.

۲. کيدای شی چه دا شرط چه دويم يا بل واده "عادلانه او لازم" وی، د يو لړقوی قواعدو د وضع کيدو عامل وګرځی، خو ابهام يی د انديښنی وړ دی، ځکه کيدای شی چه په ډيری وړی بهانی باندی د بلی ښځی کول توجيه شی. په ځينی مواردو کی د مثال په توګه، شايد مقامات دا ومنی چه د نارينه اولاد زيږولو کی د ښځی "ناکامی"، بل واده جواز ګرځوی (بنګله ديش او پاکستان ). د دغسی حالت د مخنيوی لپاره په سينګاپور کی محکمی خلک تشويقوی چه د بل واده په ځای اولاد په فرزندی واخلی.۱۳

---

۱۳ " په خپلو حقوقو باندی خبرتيا: په اسلامی نړی کی ښځی، کورنی، قوانين او رواجونه،" ښځی چه د اسلامی قوانينو لاندی ژوند کوی، ۲۰۰۳م کال، ۲۰۰ پانه، لندن، انګلستان.

۳. د هغو هیوادونو د قوانینو په اساس چه د ځو ودونو کول محدودوی، هغه نارینه چه ځو ښځی لری باید د ټولو سره برابره رویه ولری، او پدی کی دا هم شته چه که د واده په وخت کومه موافقه شوی وی د هری ښځی لپاره باید د استوګنی ځانګړی ځای برابر کړای شی. که ددی ټکو نه سرغړونه کیږی، ښځه یا ښځی کولی شی چه میړه محکمی ته بوځی.

## نمونه وی موارد

### ۱. د ځو ښځو کول منع دی

**تونس.** د شخصی موقف قانون په تونس کی د خپلواکی نه لږ وروسته په ۱۹۵٦ کی ومنل شو چه د نورو قوانینو تر څنګ، د ځو ښځو کول منع کوی.۱۴ د شخصی موقف د قانون په ۱۸ ماده کی راغلی دی چه هر سړی چه د یوی نه زیاتی ښځی کوی باید چه د یو کال قید سزا، یا د ۲۴۰ زره تونسی فرانکو جریمی سزاو او یا دا دواړه سزا ګانی ورکړل شی. د ۲۱ مادی په اساس، د یوه نه د زیات ودونو کول، غیر عادی ګڼل کیږی او ښځی، د هغوی ولیان، میندی، او یا حقوقی څانګه هغه فسخ کولی شی. او نتیجه دا ده چه داسی ګڼل کیږی چه دویم واده اصلا ندی شوی. مګر، ښځه لا هم خپل مهر غوښتی شی او د که اولاد ولری سړی یی قانونا پلار ګڼل کیږی؛ او ښځه باید د بل میړه کولو نه مخکی د عده وخت پوره کړی.۱۵

**ترکیه.** په ۲۰۰۲ کال کی، ترکیی د خپل مدنی قوانینو ستر اصلاحات بشپړ کړل، او یوه نتیجه یی دا وه چه د یوه نه زیات ودونه منع شول. د قانون پدی تعدیلاتو کی چه د انفاذ د وخت

نه یعنی د ۱۹۲٦ م کال نه بیا چا لاس پکی نه وو وهلی، ددی حقوقی اصل الغا هم شامل وو، چه "دکورنی مشر نارینه دی" او په ځای یی ښځی او نارینه دواړو ته په کورنیو چارو کی مساوی او برابر رول ورکړل شو.۱٦

**لبنان.**۱۷ په لبنان کی، د ښځو شخصی موقف زیاتره د هغی د مذهبی ډلی پوری تړلی دی. لبنان ۱۹ مذهبی ډلی په رسمیت منی چه هر یوه خپل مذهبی قوانین لری. د دروز د قبیلی د ۱۹۴۸ د شخصی دریځ د قانون له مخی (۱۰ ماده) د ځو ښځو لرل منع دی. د مدنی واده د ۱۹۹۸ کال قانون، ۹ ماده، چه مبارزینو پیشنهاد کړیده خو تر اوسه پوری لا تصویب شوی نده، د ځو ښځو لرل غیر قانونی ګرځوی. ۱۸

---

۱۴ د امریکا بهرنیو چارو وزارت، "د تونس جمهوریت" د ۲۰۰۴م کال جولای.

۱۵ " په خپلو حقوقو باندی خبرتیا: په اسالمی نړی کی ښځی، کورنی، قوانین او رواجونه،" ښځی چه د اسلامی قوانینو لاندی ژوند کوی، ۲۰۰۳م کال، ۲۰۴ پانه، لندن، انګلستان.

۱٦ ښځی د ښځود بشری حقوقود پاره. " د ترکیی قانون ښځی د نارینه وو سره برابری ګڼی." د ۲۰۰۲ کال د جنوری ۱۳.

http:www.wwhr.org/?id=770

۱۷په اردن کی، فقط ځینی فرقی د ځو ښځو لرل منع کوی.

۱۸ "خپلو حقوقو باندی پوهیږو: ښځی، کورنی، قوانین او رسم او رواجونه په اسلامی نړی کی"، ښځی چه د اسلامی قوانینولاندی ژوند کوی، کال ۲۰۰۳، ۲۰۴ پانه، لندن، برتانیه.

## ۲. د ځو ښځو لرل مقید دی

**مالیزیا.** د ځو ښځو لرل د شرعی محکمی اجازه غواړی. یو میړه باید په لیکلی توګه توجیه کړی چه ولی بل واده کول ورته ضروری او عادلانه کاردی ( په دلایلو کی کیدای شی چه د ښځی شنډتوب، جسمی کمزوی، او یا لیونتوب شامل وی)؛ باید د خپل عاید او مالی مکلفیتونو تفصیلات څرګند کړی؛ او باید محکمه پدی قانع کړی چه دی کولی شی د ټولو ښځو سره مساوی رویه ولری. که دا پورتنی قیودات پوره نکړی، ٦ میاشتی قید او جریمه پری لګولی کیږی.۱۹

**پاکستان.** د کورنیو د اسلامی قوانینود احکامو په اساس، د ځو ښځو یا ودونو لرل مقید دی، او یو نارینه ته فقط په مشخصو شرایطو کی او د مشخصو طرزالعملونو لاندی اجازه شته چه بیا واده وکړی. د مثال په توګه، یوه تقاضا دا ده چه نارینه باید د نوی ښځی کولو لپاره (د موجوده ښځی د استوګنی د ځای، نه د میره) د محلی حکومتی مقاماتو لیکلی اجازه واخلی. میره باید متحده شورا په دی قانع کړی چه د پخوانی ښځی یا ښځو رضا یی د بل واده کولو لپاره تر لاسه کړیده. نوی واده باید "عادلانه او ضروری" وی او د موجوده ښځی د جسمی او روحی حالت پر بنا ولاړ وی. که یو میره چه ډیر ودونه یی کړیدی، خپلی پخوانی ښځی سره مساوی او معادله رویه ونکړی، یا د غوښتل شوو طرزالعملونو رعایت ونکړی، د کال ۱۹۳۹ د اسلامی واده د فسخ کیدو مقرره ښځی ته اجازه ورکوی چه خپل واده فسخ کړی. ۲۰

**اندونیزیا.** د کال ۱۹۸۳ یوه پالیسی غواړی چه عامه(خدمتګاران) مامورین او د وسله واله قواوو غړی باید، د بل واده د پاره په عادی اجازو برسیره، د خپلو آمرینو اجازه هم واخلی. د کال ۱۹۹۰ پالیسی په بنا، ښځینه عامه مامورینی اجازه نلری چه د چا دویمه، دریمه یا څلورمه ښځه شی. د ځو ښځو لرل یوازی محکمی ته د درخواستی ورکولو له لاری مجاز دی او شرطونه یی دا دی چه پخوانی ښځه یا ښځی ورسره مخکی له مخکی موافقه ولری، د نوی واده ضرورت موجود وی( اوسنی ښځه په لا علاجه مرض اخته وی یا شنډه وی، او داسی نور)، او دا تضمین موجود وی چه میره به خپلو ټولو ښځو او اولادونو سره عادلانه سلوک کوی.۲۱

بنګله دیش، سینګاپور، او فیلیپین په هغو نورو هیوادونو کی شامل دی، چه د ځو ښځو لرلو لپاره پکی د محکمی رسمی اجازه ضروری ده.

---

۱۹ عین منبع.

۲۰ عین منبع.

۲۱ عین منبع.

**د څو ښځو لرل: لنډيز**

| هېواد | د څو ښځو لرلو په باب دريځ |
|---|---|
| الجزاير | د ځلورو ښځو کولو اجازه شته؛ خوکه خبرورکړل شوی نه وی، مخکنی ښځه د طلاق دعوی کولی شی. |
| مصر | د ځلورو ښځو پوری کولو اجازه شته؛ پخوانی ښځی باید خبری شی، اوکه ثابته کړی چه د نوی واده نه ورته ضرر رسيدلی، طلاق اخيستلی شی. |
| اندونيزيا | د واده اساس د يوی ښځی لرل دی، خو د واده قانون د هغو خلکو لپاره چه مذهب يی جازه ورکوی د څو ښځو لرل نه منع کوی. |
| اردن | کوم قيد په ډيرو ودونو نشته غيرددی پخوانيو حکمونو نه چه نارينه بايد د ټولو ښځو سره برابر سلوک وکړی او هری يوی ته عليحده ځای ونيسی. |
| لبنان | لبنان ۱۹ مذهبی فرقی په رسميت منی چه هر يوه يی ځانته مذهبی قانون لری. د دروز فرقه د څو ښځو لرل منع کوی. په ۱۹۹۸ کی مبارزينو هڅه وکړه چه ټولو فرقو کی د څوودونو کول غير قانونی شی. |
| ماليزيا | د څو ودونو کولو لپاره د يوی شرعی محکمی اجازه پکار ده. ميره بايد په ليکلی ډول ووای چه ولی بل واده ورته ضروری او عادلانه کار دی. د لازم طرزالعمل نه تعقيبول د ٦ مياشتو قيد او نقدی جريمی سزا لری. |
| مراکش | ځلورو پوری ښځو کول مجاز دی، خو د قضا اجازه بايد واخيستل شی؛ ښځی کولی شی چه د واده شوی سړی سره د واده کولو نه انکار وکړی؛ ټولی خوای بايد په نوی واده خبری اوسی؛ پخوانی ښځه د طلاق غوښتنه کولی شی. |
| پاکستان | د کورنيو د اسلامی قوانينو د احکامو په اساس، د څو ښځو کول مقيد دی او يوه سړی ته يوازی د مشخصو شرايطو لاندی د بل واده کولو اجازه ورکول کيږی. که ددی طرزالعمل نه تيری وشی، پخوانی ښځه يا ښځی کولی شی چه ميره محکمی ته بوځی. |
| سوريه | د يوه قاضی اجازه ضروری ده. که ميره د بل واده لپاره قانونی دليل او يا د مالی توان لرل ثابت نکړای شی، کيدای شی چه د بل واده کولو غوښتنه ئی رد شی. |
| تونس | د يوه نه د زياتو ودونو کول غير قانونی اومنع دی. |
| ترکيه | د يوه نه د زياتو ودونوکولغير قانونی او منع دی. |

## د ولي اجازه او د ښځو رضا

په ډیرو اسلامي هیوادونوکې یوه عامه ستونزه، په تیره بیا په هغو هیوادونو کې چه غریب دي، فیوډالي بڼه لري، او/یا د ټولنیزو ډلو ترمنځ لوی توپیرونه لیدل کیږي، دا ده چه ځوانې ښځې د اقتصادي ګټو لپاره یا هم د سیاسي اونورو فشارونو لاندې ورکول کیږي یا خرڅیږي. په ځینو هیوادونو کې، د افغانستان په شمول، جګړه ماران او نور زورور خلک کولی شي چه کورنۍ مجبوره کړي چه خپل لوڼې په تاوان کې ورکړي؛ او ودونه د پلرونو یا قومونو د اقتصادي ګټو لپاره کیږي. دا مسله ددې حقیقت له امله نوره هم پسې پیچله شویده چه دغسې ځوانې ښځې معمولا کم عمره او تقریبا ټولې نا خوښې وي او په نتیجه کې داسې ودونه معمولا د زور زیاتي نه ډک وي.

په اسلامي نړۍ کې د واده په برخه کې د میندو پلرونو یا د ولي د رول په باره کې، د واده سره د موافقې په باب یا هم د ښځو ددې حق په باب چه خپله میره په خپله وټاکي، نه په مدني قانون کې او نه هم په شرعي قانون کې. واحد دریځ نشته. مګر، په عین حال کې اسلام دا هم نه وائي چه ښځه دې د هغې د خوښې او رضا نه پرته واده کولو ته مجبوره کړای شي، او یا دې یوه بالغه ښځه په خپله خوښه د واده کولو نه منع کړای شي.

په هر حال، په ټولې اسلامي نړۍ کې اصلا په عمل کې معمولا ښځې په خپله خوښه د خپل میره په ټاکلو کې د هر رنګه نظر ورکولو نه بې برخې دي - که دا ټکي په نظر کې ونیسو چه اسلامي ټولنو کې میرونو او دهغوی کورنیو ته څومره ډیر واک او صلاحیت ورکول کیږي - که څه هم چه دا فیصله د هغوی د سوکالي او خوشحالي لپاره ډیره زیاته مهمه هم ده.

په ماشومتوب کې واده، پردیو سره واده، د تره، ترور، ماما او عمه اولادونو سره واده، د میره خپلوانو سره د کونډې واده،۲۲ لا هم د اسلامي نړۍ په ډیرو برخو کې عام دي. د ښځې د رضا په اخیستو کې مذهبي مکلفیت - د ښځې د بې تجربه ګۍ، د کورنۍ د فشار، او د اطاعت او حیا د رواج له امله - تش په نامه خبره ده. عملي تصور دا دی چه "خاموشي د رضا" معنی لري - او دا د شک نه ډکه خبره پدې ده چه پلرونه، کورنۍ، قبیلې، او ټولنې د یوې ځوانې او احتمالا ناراضه ښځې په مقابل کې ډیر زیاد قدرت او قوت لري.

**اهداف**

* دا ډاډ چه دواړه خواوې په آزاد ډول د واده سره خپله رضا څرګنده کړي

* ښځو ته اجازه وي چه د خپل ژوند شریک په خپله وټاکي. دا ډاډ وي چه یوه خوا هم مجبوره نکړای شي چه د مخکې نه سنجول شوی او جبري واده ته غاړه کیږدي او یوه خوا هم په خپله خوښه واده کولو نه منع نه شي.

---

۲۲ د کونډې واده، هغه رواج دی چه کونډه د خپل فقید میره د کوم ورور، سره یا د اولې ښځې او یا هم دویمې ښځې په توګه واده کولو ته مجبوریږي.

## د اسلامی افکارو مکتبونه

* **حنفی** فقه[۲۳] وایی چه د دواړو خواوو رضایت د واده لپاره ضروری دی او د ولی رضا زیاتره بی ارتباطه ده (که څه هم چه ولی په ځینو محدودو مواردو کی اعتراض کولی شی).[۲۴]

* **شیعه** فقه (کله کله جعفری هم بلل کیږی) هم غواړی چه دواړه خواوی واده ته راضی وی. ځینی شیعه گان غواړی چه ولی د پخوانیو نا واده شوو لونو د واده سره رضایت ولری؛ ددینه علاوه د ولی رضائیت ضروری ندی. ځینی شیعه عالمان وایی چه پلار د اجبار[۲۵] حق د باکره لونو په برخه کی لری.[۲٦]

* **حنبلی** فقه د ښځی د ولی د رضا غوښتنه هم کوی، خو دا هم وایی چه د بالغی ښځی رضا هم پکار ده (د نا بالغه ودیدونکی ښځی رضا ته اړتیا نشته). ولی باید واده د ښځی په گټه وگرځوی، او د واده تړون د زوم او د ناوی د ولی تر مینځ کیږی ( هیڅکله په خپله د ناوی سره نکیږی).[۲۷]

* **شافعی** او **مالکی** فقه په واده کی هم د ناوی د ولی رضا غواړی، اوهم د یوی باکره لور د لومړنی واده د اجبار حق پلرونو ته ورکوی (ولی ته یی نه ورکوی).[۲۸]

* ټول څلور مکتبونه د د هغو ښځو رضا غواړی چه باکره نه گڼل کیږی؛ مگر، یوازی حنفی او جعفری فقه کی ناوی حق لری چه په خپله د واده تړون وکړی. [۲۹]

---

۲۳ فقه اسلامی قانون او حقوقی قواعد دی او د څلورو مذاهبود قانونی احکامو ( واحد یی مذهب دی)، یا د څلورو افکارو د مکتبونو په نامه یادیږی.

۲۴ کیسیا علی. " د خوښی او جبر واده،" د کال ۲۰۰۳ د جون ۱۹:

http://www.muslimmatrimonial.com/muslimmatrimonial/articles/islamic/marriage/consent-and-forced-marriage.shtml, د کال ۲۰۰۵ د جون ۸.

۲۵ د اجبار معنی دا ده چه یوه باکره نجلی په زور ودیږی، او د واده بندو بست د نجلی د پلار )یا په نادره مواردو کی، که پلار مړ وی د نیکه، له خوا کیږی.

۲٦ په خپلو حقوقو پوه یو.

۲۷ عبدالرحمن ضوی، "واده،" http://www.usc.edu/dept/MSA/humanrelations/womeninislam/marriage.html , د کال ۲۰۰۵ د جون ۸؛ "په اسلام کی واده" ، http://www.ummah.net/Al_adaab/fiqh/nikah.html کال ۲۰۰۵، د جون ۸.

۲۸ ضوی، "واده"؛ "واده په اسلام کی".

۲۹ ت. پ. هیوز. د اسلام دیکشنری، ۱۸۸٦: . http://muslim-canada.org/marriage_dictionaryofislam.html ، کال ۲۰۰۵ د جون ۸.؛ علی، "د رضا او اجبار واده".

**مهمی ستونزی**

۱. د ښځی دا حق چه خپل میره په خپله وټاکی باید تأمین او وساتل شی. د مثال په توگه په **پاکستان** او په هغو هیوادونو کی چه دین او دولت ئی سره بیل دی، لکه **ترکیه**، دا حق د شریعت یو طبیعی امتداد بلل کیږی. په **تونس** کی، ښځی چه د مدنی قانون په حساب د رضا ورکولو په عمر (۲۰ کلنی) وی، باید د خپل واده سره رضا ولری؛ په **مراکش** کی، د کورنی قانون د تازه اصلاحاتو تقاضا دا ده چه هره ښځه باید د واده سره رضائیت ولری.

اکثر قانون احکام د ناوی د رضائیت غوښتنه کوی خو همدغه حکم بیا د نورو تعدیلونو له لاری کمزوره کوی. د مثال په توگه، د **ایران** قانون په ډاگه وائی هغه مامور چه د واده او نکاح مسؤل دی باید د دی ټرون شرایط دواړه خواوو ته ولولی او هغوی باید هره یوه په ځانگړی توگه دا شرایط لاسلیک چه د هغو د منلو معنی لری. مگر، د امریکا د بهرنیو چارو د کال ۲۰۰۴ د یوه راپور له مخی، هغه ښځی چه پخوا ئی واده ندی کړی حتی هغه چه عمرونه یی د ۱۸ کالو نه لوړ دی، اول باید یا د پلار یا نیکه اجازه ولری که نه محکمه ئی باطلوی.۳۰

۲. ډیر مترقی قوانین نارینه او ښځو ته مساوی حقوق ورکوی، او ښځوته توان ورکوی چه د خپل ځان نمایندگی او په خپله د خپل واده ټرون وکړی. بیا هم دا د حنفی فقه یو طبیعی دوام دی، خو نور هیوادونه، لکه مالکی **مراکش**، هم وایی چه اسلام ښځو ته اجازه ورکوی چه د خپل واده ټرون په خپله وکړی.

۳. مترقی قوانین بی لدینه چه د عمر موضوع په نظر کی ونیسی، واده سره د ښځی د رضا اخیستوغوښتنه کوی او پدی توگه د اجبار حق چا ته نه ورکوی. اکثر اسلامی هیوادونه د اجبار حق نه ورکوی خو پدی برخه کی سلوک اود قانون د تطبیق چاری فرق لری. په مدونه کی د کال ۲۰۰۴ په اصلاحاتو سره، **مراکش** د اجبار حق له مینځه ویوړ.

په ځینی هیوادونو کی، لکه **تونس** او **ترکیه**، دا عمل جرم گڼل کیږی، او د ښځی رضا چه پکی نه وی هغه واده بی اعتباره او باطل گڼل کیږی. په **عراق** کی د کال ۱۹۵۹ نه مخکی، "د واده جبری ټرونونه" چه لا عملی شوی نه وو، باطلیدل.۳۱ مگر په **پاکستان** کی قبایلی کورنیو د جبری ودونو نه، معمولا د شخړو د حل د یوی وسیلی په توگه، په بدیو کی د ښځو ورکولونه کار اخلی. دا عمل غیر قانونی دی او د پاکستان په محکمو کی په کامیاب ډول ورسره مقابله شوی، خو په ډیرو مواردو کی د دغسی ودونو خبر محکمو یا حقوقی سیستم ته نه رسیږی.۳۲

---

۳۰ د امریکا د بهرنیو چارو وزارت. " د هیوادونو راپور - ایران": http://www.state.gov/g/drl/rls/hrrpt/2004/41721.htm کال ۲۰۰۵، د اگست ۵.

۳۱ د ایمورای پوهنتون د حقوقو پوهنځی.

۳۲ په خپلو حقوقو خبری یو، ۷۹ پانه.

**د ولی اجازه:** لنډیز

**ولی/وکیل.....**

**باید رضائیت ولری**

**(د واده مخه نیولی شی)**

**واده مجبورولی شی**

| **هیواد** | **زوم** | **ناوی** | **(اجبار یا بل شی)** |
|---|---|---|---|
| الجزایر | نه | د ۱۸ کالو نه وړه باکره | نه |
| مصر | نه | هو(ا) | نه |
| اندونیزیا | هو | هو | نه |
| ایران++ | د ۱۵ کلنو نه وړوکی | د ۱۳ کالونه وړه یا باکره(ا) | |
| اردن | نه | د ۱۸ کالو نه وړه | |
| لبنان | نه | د ۱۷ کالو نه وړه (ا) | کله نا کله(ب) |
| مالیزیا(پ) | نه | هو | کله نا کله (ت) |
| **مراکش(پ)** | **نه** | **نه** | **نه** |
| **پاکستان(پ)** | **نه** | **نه** | **نه** |
| سوریه | د ۱۷ کالو نه وړوکی(ا) | د ۱۷ کالو نه وړه(ا) | |
| تونس(پ) | نه | د ۲۰ کالو نه وړه | نه |
| **ترکیه(پ)** | **نه** | **نه** | **نه** |

**(ا)** په ځینی حالاتو کی د قضائی **اقدام** طرزالعمل موجود دی.

**(ب)** شیعه ولیان د اجبار حق لری.

**(پ)** ښځه د خپل واده ترون په خپله کولی شی.

***(ت)*** *په دوه ایالتونو، کیلانتان او کیدا، کی اجبار منل کیږی.*

***یادونه:*** *مغه هیوادونه چه نومونه یی په تیاره لیکه ښودل شویدی، د ښځو په برخه کی ئی، درپوارړه اهداف ترلاسه کړیدی.*

۱. هغه قوانین چه د ښځو د حقوقو حفاظت کوی، باید د اجرأ وړ وی. په ځینی هیوادونو کی، لکه **الجزایر**، جبری واده مجاز ندی، مگر مرتکبینو ته سزا نه ورکول کیږی. ډیری ځوانی ښځی د کورنی او ټولنی فشار لاندی د خپل خوښی خلاف واده ته مجبوریږی او یا ډیری لږی داسی مراجع ورته شته چه د هغو له لاری خپله نا خوښی څرگنده کړی. د ټولنیز ملاتړ شبکی چه پدغسی مواردو کی د ښځو سره مرسته کولی شی، او همدارنگه رسمی او غیر رسمی عدلی سیستم ته لاس لرنه معمولا وجود نلری.

۲. د موجوده قوانینو په باره کی غیر کافی خبرتیا، د هغو د تطبیق په لاره کی بله لویه ستونزه ده. د عنعنوی ودونو ترونونه معمولا د مدنی مقاماتو د خبرتیا نه پرته کیږی. په نتیجه کی، د مدنی قانون د تحریماتو تطبیق خو لا څه چه ښائی خلک لا حتی پری خبر نه وی. ډیر هیوادونه، لکه **الجزایر** او **اندونیریا**، د ښځی رضا غواړی (لږ ترلږه چه ناراضه نه وی) ، خو هیچ داسی کومه واقعی لاره هغی ته برابروی چه خپل اعتراض او ناخوښی پری څرگنده کړی او د غیر قانونی واده نه د خلاصون طریقه او میکانیزم هم نشته (لکه د واده الغأ یا باطل کیدل).۳۳ حتی په هغو هیوادونو کی چه د ولی تقاضا نه کوی، لکه **مراکش**، هم د کفایه۳۴ غوندی ټولنیز عمل معمولا ښځو ته دستور ورکوی چه څه وکړی.

## نمونه وی موارد

په کال ۲۰۰۴ کی د موضوعانه کی د پراخو اصلاحاتو راوستو، **مراکش** یوه ښه نمونه وگرځوله. د مراکش د نوی قانون لاندی، ښځی د خپل ځان ولیانی کیږی، کولی شی چه د خپل واده انتظام په خپله وکړی، او په هیڅ ډول شرایطو کی په زور واده ته مجبوریدلی نه شی. پداسی حال کی چه ددی قاون د تطبیق په لاره کی د پام وړ ستونزی لا پاتی دی، د مراکش بیشانه کورنی قانون د مراکش ښځو ته د واده سره د رضا لرلو داسی حقوق ورکوی، چه د اسلامی نړی د پاره ډیره ښه نمونه گرځیدلی شی.۳۵

د **تونس** قانون، نه یوازی دا چه د واده سره رضائیت لرل یوازی د ناوی او زوم مسؤلیت بولی بلکه، د داسی ودونو د ختمولو لپاره چه د ناوی رضا پکی نه وی اخیستل شوی هم څرگند طرزالعملونه لری. تونسی ښځی کولی شی داسی ودونه چه د ښځی د رضا نه پرته په زورشوی وی، خولا عملی شوی نه وی، په محکمه کی ړنگ کړی، بی لدینه چه کوم عواقب ولری؛ که واده عملی شوی وی، بیا نو ښځه کولی شی چه خپل مهر وساتی، او که د واده نه کوم اولاد پیدا شی، هغه اولاد منل کیږی او ښځه د اولاد د نفقی د اخیستو مستحقه گرځی. په تونس کی د کورنی د قانون عملی کیدل په هغه اندازه ټینگ ندی لکه د ښځو په باره کی چه د نورو

---

۳۳ په خپلو حقوقو خبری یو، ۹۱ پانه.

۳۴ کفایه د ښځی او دمیړه تر مینځ د مساوات خبری کوی، معمولا په ټولنیز دریځ او اقتصادی چارو کی مساوات، لکه دا چه یوه ښځه باید په خپلی طبقی کی چا سره واده وکړ، چه دا فیصله اکثرا د هغی د کورنی او قبیلی له خوا کیږی.

۳۵ له اسوسیشن دیموکراتیک دی فیمیس دو مراکو ، ۲۰۰۴ د کال ۲۰۰۵ د پرپیل په ۱۳ خپور شو.

قوانینو عملی کیدل دی، ( لکه د کار او وظیفی په ځای کی)، خو د قانونی بازخواست لاری چاری شته. ۳٦

**ترکیه** هم د ناوی او هم د زوم نه غواړی چه رسما خپله رضا اعلان کړی. ښځی کولی شی چه پدی نامه چه واده په زور او جبر شوی د هغه د ړنګیدو غوښتنه وکړی. په ترکیی کی د ښځو یوی سروی ښودلی ده چه ٪۵۴ ښځو خپل میړونه په خپله لیدلی او په خپله خوښه ئی، بی د کورنی د مداخلی نه ورسره ودونه کړیدی. مګر همدی سروی داهم ښودلی وه چه ۴۱٪ ترکی ښځی د کورنیو د بندو بست له لاری واده شویدی، او ددی جملی نه ۲۹٪ ئی خوښی نه دی. ۳۷

**پاکستان** د ښځو ددی حق تضمین کوی چه بی د ولی د رضا نه په خپله د خپل واده تړون وکړی. اجبار منع دی. ۳۸

## د نورو مواردو څیړنه

په **مالیزیا** کی، دا غیر قانونی ده چه د یوی ۱٦ کلنی ښځی او یا ۱۸ کلن نارینه او یا د دی نه د غټ عمر لرونکی ښځی او نارینه د واده مخه ونیولی شی. که څوک دا کار وکړی جریمه، یا بندی کیږی او یا هم دا دواړه سزاوی ورکول کیږی؛ خو سره لدی هم قانون د ولی رضائیت په واده کی حتمی بولی، خو محکمی کولی شی چه د ولی انکار رد کړی. ۳۹

په **الجزایر** کی ولی ددینه منع دی چه واده په جبراو زور وکړی (۱۳ ماده) یا هم دا چه یوه ښځه د هغی د رضا نه پرته واده کړی. ولی دا هم نه شی کولی چه ښځه د واده کولو نه منع کړی: "د الجزایر د قانون ۱۲ او ۱۳ ماده حکم کوی چه هیڅ ولی نه شی کولی چه خپل قییم د وداه کولو نه منع کړی، پدی شرط چه قییم واده وغواړی او واده ئی په ګټه هم وی. که ولی ښځه د واده کولو نه منع کړی، قاضی کولی شی چه د قانون د ۹ مادی په اساس ورته د واده کولو اجازه ورکړی. مګر، یو پلار کولی شی چه خپله باکره لور د واده کولو نه منع کړی پدی شرط چه دا ممانعت د هغی په ګټه وی. خو هیڅ ولی ، پلار وی که بل څوک، نه شی کولی چه خپل قییم واده کولو ته مجبوره کړی، او دا هم نه شی کولی چه بی د هغی د رضا نه ئی واده کړی." ۴۰

---

**۳٦ د امریکا د بهرنیو چارو وزارت. "د هیوادونو راپورونه ـ تونس":**

**http://**www.state.gov/g/drl/rls/hrrpt/2004/41733.htm **. ۱٦ د جون ۲۰۰۵ د کال**

۳۷ په خپلو حقوقو خبر یو، ۸٦ پانه.

۳۸ د ایمورای د پوهنتون د حقوقو پوهنځی.

۳۹ په خپلو حقوقو خبر یو، ۷۲ پانه.

۴۰ ناصر، ۵۴ پانه.

# د طلاق حق

د اسلامي نړۍ په ډیرو هیوادونو کی ، نارینه په یو اړخیز او غیر مشروط ډول د طلاق ورکولو حق لري. په همدی هیوادونو کی، ښځی معمولا دا نه یوازی دا چه دغه حق نلری، بلکه که د طلاق حق ورکړل هم شی، باید محکم ته لاړی شی او د خپلو میرونو نه طلاق واخلی او هلته د رنګ رنګ تولتنیزو، حقوقی او اداری ستونزو او کاغذ بازیو سره مخامخ کیږی.

په ډیرو اسلامی هیوادونو کی، ښځی معمولا د نارینه وو په نسبت پدغسی مسلؤ کی لکه، مالی ملاتړ، د اولاد ساتنه، د اولاد لیدل، او د اولاد د ولی کیدو او بیا واده کولو په برخه کی په ډیری نا مساعده وضع کی دی.

## اهداف

* دا ډاډ چه نارینه بی موجبه خپله ښځه طلاقه نکړی، ترڅو چه هغی ته خبر ورکړل شوی نه وی، مشخص دلایل ورښودل شوی نه وی،او یا د مینځګړتوب هڅه او د قضا څارنه نه وی شوی.

* ښځی، او نارینه، دواړو ته دا توان ورکړل شی چه په عین حالاتو کی طلاق واخلی او په عین طریقه ئی واخلی.

* د طلاق په وخت ښځی ته د مالی مرستی بندو بست وشی.

## ستری ستونزی او تطبیق

***قضائی تغافل***

۱. په تونس، مالیزیا، ایران او یمن کی قانون غواړی چه ټول طلاقونه باید په قانونی محکم کی وشی. پداسی حال کی چه قوانین پدی برخه کی ډیر متفاوت دی چه ښځه تر کومه حده پوری د طلاق غوښتلو حق لری، او په کوم اساس طلاق غوښتلی شی، اکثر دا هیوادونه حکم کوی چه د طلاق چاری دی د محکم له خوا په مخ بوتلل شی. د مثال په ډول:

* په **تونس** کی، چه مبارت [41] منل کیږی او په یو اړخیز ډول طلاق [42] له مینځه وړل شوی، طلاق فقط د محکم له لاری ممکن دی. که څه هم چه هره چه خوا کولی شی چه د واده د ړنګیدو غوښتنه وکړی، په تونس کی ښځه او میړه دواړه باید په ګډه د طلاق درخواستی وکړی. قاضی کولی شی چه د ښځی او میړه تر مینځ د ماشوم د حفاظت، او خرڅ غوندی مسلو کی توافق تأئید کړی.

---

۴۱ مبارت معنی دا ده چه دواړه خواوی په طلاق باندی موافقی ته رسیدلی وی (دا په لږ شمیر اسلامی هیوادونو کی قانونی دی).

۴۲ د طلاق معنی په یو اړخیز ډول د میړه له خوا طلاق دی.

* په **ایران** کې، چه طلاق پکې منل کیږي، میره کولی شي چه خپله ښځه بې د هیڅ دلیل د ښودلو نه طلاق کړي. مګر طلاق یوازې د محکم له لارې مجاز دی او د میره له خوا د طلاق مستقل اعلان محکمې ته د منلو وړ ندی. پدې بر سیره، د محکمې کاتب یوازې هغه طلاق رسماً ثبتولی شي چه د محکمې له خوا اجازه ورکړل شي او وروسته له هغه چه ښځې ته مهر، خرڅ، او یا د کورد کار د پاره تنخواه ورکړل شوی وي. قانون داسې تعبیریږي چه هیڅ محکمه نه شي کولی چه یو نارینه خپلې ښځې ته د طلاق ورکولو نه منع کړي؛ خو د ښځې ټولې مالي مسلې باید د بیلتون نه مخکې حل او فیصله شوې وي.۴۳

### *د واده په ړنګولو کې مساوات*

۱. د **پاکستان**ستره محکمه یوې ښځې ته اجازه ورکوې چه د میره سره د نه جوړیدو په بنا د واده د ړنګیدو درخواستې وکړي. پاکستانی ښځې کولی شي چه په تقریبا هماغه شرایطو چه یو نارینه ئې کولی شي، طلاق هم واخلي. محکمې په عمومې توګه د مسلمانې ښځې دا وینا " چه د الله په نامه یې وکړي"، منې چه د خپل میره سره ژوند نه شي کولی.۴۴

۲. په کال ۲۰۰۰ کې **مصر** یو قانون نافذ کړ چه ښځو ته د خپلو میرونو نه د ګذارې نه کولو په بنا د طلاق اخیستو اجازه ورکوی. دا طلاق د ښځې نه غواړي چه خپل مهر بیرته وسپاري. ددې نوی قانون نه مخکې، یوه میره کولی شو چه خپله ښځه حتی د هغې د خبرتیا نه پرته هم طلاقه کړي، پداسې حال کې چه ښځه مجبوره وه چه قاطع ثبوت ولري او په مستقله توګه وښیې چه میره یې وهې ډبوي. "د عامه افکارو د ملاتړ د تر لاسه کولو لپاره، د [مصر] حکومت تر ټولو قوي ستراتیژي دا وه چه په اسلامي قانون کې د خول د حق [طلاق بې له کومې ګناه نه] په موجودیت باندې تأکید وشي. د الازهر شیخ دا ومنله چه ووایي چه د خول حق په اسلام کې شته او د حضرت پیغمبر خپل مثال ئې راوړ چه دا حق ئې تائید کړی دی (هغه حدیث ته ایشاره وه چه د ثابت ابن قیص ښځې بې د کوم دلیل نه د طلاق غوښتنه وکړه او وې ویل چه میره ئې خوښ ندی، تری کرکه لري او نور ورسره ژوند نه شي کولی).»۴۵

۳. د **سوریې** د شخصې دریځ د (۱۹۵۳کال) قانون حکم کوی چه د ښځې د طلاقولو لپاره د میره دلیل د قضا له خوا داسې وڅیړل شي چه نارینه ته په خپل سر د طلاق ۴۶ ورکولو لپاره مالي سزا ورکړل شي.۴۶ د سوریې د شخصې دریځ قانون وائې چه، کله چه یو میره خپله ښځه بې د لیله طلاقوي، باید مالي تاوان د یوه کال خرڅ په اندازه هغې ته ورکړي.

---

۴۳ په خپلو حقوقو خبر یو، ۲۶۲ پانه.

۴۴ دا الفاظ د خورشید بیبې د قضیې د سر نه اخیستل شویدی، چه په PLD کې په ۱۹۶۷م کال SC ۹۷ راغلې دی.

۴۵ په خپلو حقوقو خبر یو، ۳۱۱ پانه

۴۶ د ایمورای پوهنتون د حقوق پوهنځی، "سوریه، د سرویې عربی جمهوریت": د ۲۰۰۵م کال د جون ۲۰.

http://www.law.emory.edu/IFL/legal/syria.html

۱. د واده د ړنګیدو نه وروروسته د مالی مسلو ویش په ځینو برخو باندی اثر اچوی. د ښځی لومړنی مالی حق د هغی مهر دی. مهر هغه پیسی یا جایداد دی چه ښځی ته د واده په وخت ورکول کیږی. ۴۷ دا خبره چه مهر باندی څه کیږی، د طلاق د شرایطو او دهغو قوانینو د جزئیاتو سره چه د هغه په اساس طلاق تر سره کیږی مستقیم ارتباط لری. دویم مالی حق د متاع حق دی چه ښځی ته د طلاق سره د موافقی د سوغات په توګه ورکول کیږی او طلاقی شوی ښځی ته د خرڅ ورکولو ابتدا ګڼل کیږی. اسلامی قوانین ددی تقاضا کوی چه یوه طلاق شوی ښځه باید د طلاق، یا طلاق تفویض یا طلاق تعلیق، د حقوقی یا مشروط طلاق، نه وروسته، په ځینو خاصو شرایطو کی د خپل میره نه متاع تر لاسه کړی. د واده د ړنګیدو نه وروسته، هغه پیسی چه یوی ښځی ته د انتظار په دوران کی رسیږی، د هغه خرڅ یوه برخه ګڼل کیږی چه میره ئی باید ورکړی. دا نفقه نده، او دا هم رسمآل صحیح نده چه د"طلاق نه وروسته خرڅ" وبلل شی.۴۸

۲. په هغو هیوادونو کی چه د واده د ړنګیدو نه وروسته د انتظارد دوران تقاضا کوی (تر یوه مشخص وخته پوری چه ولیدل شی چه ښځه امیندواره ده او که نه)، نارینه د ښځی د خرڅ ورکولو مسؤل دی، مګر، که طلاق ښځی غوښتی وی، او ښځه "ملامته" وګڼل شی، بیا نو کیدای شی چه د خرڅ اخیستو حق د لاسه ورکړی.

۳. له بده مرغه چه صرف نظر لدینه چه د خرڅ پیسی څومره سخاوتمندانه دی، تطبیق ئی معمولا یوه ستونزه ده. همدارنګه، د هغی مودی اندازه په مختلفو هیوادونو کی د یو بل نه فرق لری چه یوه ښځه یکی د خرڅ اخیستو مستحقه کیږی. په تونس کی داسی ښکاری چه ښځی کولی شی چه د درخواستی نه مخکی غیر محدودی مودی پوری هغه خرڅ وغواړی چه ورکړل شوی ندی. په پاکستان کی د قانون په حساب ښځی کولی شی چه د درخواستی نه مخکی ٦ کلونو پوری خرڅ وغواړی. مصر، یمن، او الجزایر کی دا وخت یوه کال ته محدود شویدی.

۴. ځینی هیوادونه، د مصر، مالیزیا، او الجزایر په ګډون، په مشخص ډول ښځی ته دا حق ورکوی چه، که غواړی، کولی شی چه د انتظار په موده کی د میره سره خپل ګډ کور کی پاتی شی. ښکاره ده چه دا هغه حالت نه روالی چه ښځه بی کوره شی او د طلاق نه سمدستی وروسته د سختیو سره مخامخ شی او وخت ورکوی چه د ځان چاره وکړی، او نوی ځای پیدا کړی.

---

۴۷ م. هدایت الله او اسد هدایت الله. د ځمدی قانون د ملا اصل، ۱۸ چاپ، ۱۹۷۷: ن.م. تریپاتی پرایویت لمیتید، بمبی.

۴۸ په خپلو حقوقو خبر یو، ۳۱۱ پانه.

## د نمونه وی مواردو څېړنه

### *هغه هیوادونه چه طلاق په رسمیت نه منی*

**تونس.** د شخصی دریځ د قانون په ۳۱ مادی کی، طلاق چه د دواړو خواوو په رضا وی (یا مبارت) منل شویدی. طلاق یوازی د محکمی له لاری تر سره کیدای شی او یوازی وروسته له هغه چه قاضی د دواړو خواوو د پخلا کولو هڅه اول کړی وی. د قانون ۳۱ ماده همدارنگه "د نارینه د خوښی یا د ښځی د غوښتنی" د اساس په شمول، ښځی او میړه ته مساوی حقوق او اساسات ورکوی.

محکمه په دریوعلی البدل حالاتو کی د طلاق حکم ورکولی شی: د دواړو خواوو رضائیت وی، د زیان په اساس وی (پدی معنی ده چه ښځه/میړه د خپلو هغو حقوقو او مسؤلیتونو په تر سره کولو کی چه په قانون کی یاد شویدی پاتی راغلی وی او ناکامه وی)، یا هم میړه یا ښځه غواړی چه طلاق واخلی. د زیان دلیل په اړه، محکمه کولی شی چه درخواستی رد کړی. د خوښی طلاق غوښتنی کی، قاضی مکلف دی چه طلاق ومنی او باید فقط ښځی یا میړه ته د تاوان ورکولو فیصله وکړی.۴۹

**اندونیزیا.** د واده د قانون په اساس، ټول طلاقونه باید د محکمی له لاری وشی. یو میړه چه د اسلامی قانون په بنا واده کړی وی، باید مذهبی محکمی ته لیکلی خبر ورکړی چه دخپلی ښځی د طلاقولو نیت لری، او دخپلی دی غوښتنی دلایل هم وښیی. که چیری دلایل د هغو اتو موجودو دلایلو نه چه میړونو او ښځو دواړو ته میسر دی (لیست ئی لاندی ښودل شویدی) د یوه سره اړخ ولگوی، دواړه خواوی په ځانگړی توگه د پخلاینی سلا کارانو ته د خبرو او مشورو دپاره غوښتل کیږی. که د روغی خبری ناکامه شی، محکمه دواړه خواوی ورغواړی چه د طلاق جریان ووینی. ۵۰

د طلاق د پاره اته دلایل شته: که یوه خوا په منکراتو کی اخته وی، لکه شراب څښل یا قمار وهل؛ که میړه خپله ښځه څه باندی دوه کاله یوازی پری ایښی وی؛ که میړه ۵ کاله یا زیاتره په زندان کی وی؛ که کور کی وهل ډبول روان وی؛ که داسی ناروغی وی چه د واده اړیکو باندی اثر واچوی؛ که د ښځی او میړه تر مینځ دوامدار اختلاف او جنجال وی؛ که د تعلیق نه (د واده په تړون کی یو حالت دی) تیری شوی وی؛ او د ارتداد خبره په مینځ کی وی. ۵۱ د اندونیزیا د طلاق قانون کی "د ښځی او میړه حقوق کی فرق نشته".

---

۴۹ په خپلو حقوقو خبر یو، ۲۹۸ پانه.

۵۰ په خپلو حقوقو خبر یو، ۲٦۲ پانه او ۲٦۹ پانه.

۵۱ د آسیا د ټولنیزو مسلو پروگرام، "اسلامی کورنی قانون او د مسلمانو ښځو دپاره عدالت." http://www.asiasource.org/asip/muslimwomen.cfm#divorce ، د کال ۲۰۰۵ د جون ۱۸.

**هغه هیوادونه چه طلاق په کی د محکمی د اقداماتو له لاری تر سره کیږی**

**مراکش.** د نورو پرمختګونو تر څنګ، په ۲۰۰۴م کال په مراکش کی په مدونه (کورنی قانون) کی اصلاحاتو په طلاق کی د دواړو خواو د رضائیت حق ټینګ کړ او دمیره له خوا په یو اړخیز

ډول طلاق ورکول یی د شدید قضائی کنترول لاندی راوست:"انکار او طلاق، چه تعریف یی د واده ړنګیدل دی، یو خاص حق دی او په هماغه اندازه چه نارینه یی لری ښځه یی هم لری، د

قضائی څارنی لاندی، او د هری خوا د حقوقی حالاتو سره سم تر سره کیږی." پدی نوی قانون کی "د طلاق اصل د دواړو خواوو د رضائیت او د قضائی څارنی لاندی" منل شویدی.

نوی قانون "د ښځی دا حق چه د زیان په نامه (واده کی زو ر زیاتی، د میره بی موجبه غیاب، د مالی ملاتړ نشتوالی ...) د طلاق غوښتنه وکړی ټینګوی، اوقاضی د ښځی په امر طلاق اعلانوی. پدی برسیره، د هغو احکامو په تر سره کولو کی ناکامی چه دواده په تړون کی راغلی وی، ښځی ته حق ورکوی چه طلاق وغواړی. (اوس دستی دا ډیره سخته ده چه ښځه د زیان او کړاو مسله ثابته کړی.)" ۵۲

**الجزایر.** یوه ښځه کولی شی چه د لاندی دلایلو په بنا د طلاق درخواستی ورکړی:

* خرڅ نه وی ورکړل شی او پدی باره کی قضاوت شوی وی
* کمزوری او ناتوانی چه په نتیجه د واده د مکلفیتونو د تر سره کیدو مخه نیسی
* میره څه باندی څلورو میاشتو پوری د ښځی سره د جنسی اړیکو نه ډډه وکړی
* میره باندی څه باندی وی کال قید ختلی وی او پدی مودی کی یی ښځه بی خرڅه پری ایښی وی
* هر رنګه زیان او کړاو چه په قانون کی راغلی وی، لکه خرڅ نه ورکول یا بی موجبه نور ودونه کول
* هرر نګه غیراخلاقی عمل، که شدید او د سزا وړ وی او ثابت شوی وی.

د طلاق یو دلیل "د میره اراده او غوښتنه ده". مګر، طلاق فقط د محکمی د قضاوت له لاری تر سره کیدای شی، چه هلته هم اول باید قاضی د ښځی میره تر مینځ د روغی کول هڅه وکړی (د یوی مودی په ترڅ کی چه د دریو میاشتو نه زیاته نه وی). د محکمی احکامو باندی هم مرافعه غوښتل کیدای شی. ۵۳

---

۵۲ لو اسوسیشن دیموکراتیک دی فیمیس دو مراکو، د کال ۲۰۰۵ دا پریل ۱۳.

۵۳ په خپلو حقوقو خبر یو، ۲٦۲ پانه

**هغه هیوادونه چه قانون یی مالی روغه او پیسی ورکول منی**

**تونس.** محکمی دا فیصلی کوی چه د طلاق په وخت هری خوا ته څومره مالی تاوان ورکړل شی. د محکمی تعبیر دا دی چه که کومه ښځه په "غلطه" طلاق شوی وی، هغی ته متاع ورکول کیدای شی چه یا نقدی پیسی وی، یا د جایداد انتقال، او یاهم میاشتنی قسط. د متاع اندازه د ژوند د هغی سطحی په بنا فیصله کیږی چه ښځه ورسره عادت ده. ۵۴

**مالیزیا.** یوه ښځه چه "بی د عادلانه دلیل" نه طلاقه شوی وی، کولی شی چه د متاع اخیستو درخواستی ورکړی او خپل مهم هم وساتی. د متاع اندازه باید منصفانه او عادلانه وی. ښځه/میره باید محکمی ته خبر ورکړی چه د ښځی او اولادونو د خرڅ، د کور، د حفاظت او د واده د شتمنیو د ویش په سر یا موافقی ته سره رسیدلی دی او یا ئی غواړی. ۵۵

<u>**د طلاق حق: لنډیز**</u>

| هیواد | د طلاق حقوق |
|---|---|
| الجزایر | طلاق نه منل کیږی. د دواړو خواوو رضا چه وی طلاق مجاز دی. ښځه کولی شی د مشخصو دلایلو له امله طلاق وغواړی. د روغی هڅه جبری ده. |
| مصر | ښځه دطلاق غوښتنه کولی شی؛ د خپل مهر نه باید تیره شی. |
| اندونیزیا | هر رنګه طلاق باید د محکمی نه تیر شی. دلایلو کی د ښځی او نارینه تر مینځ توپیر نشته. |
| ایران | طلاق دوه تنه شاهدان غواړی. ښځه کولی شی چه په مشخصو دلایلو طلاق وغواړی. |
| اردن | هر خوا په ډیرو دلیلونو د طلاق غوښتنه کولی شی، د ناخوښی او د جسمی او یا روحی ناروغی په شمول. |
| لبنان | ښځه په ډیرو دلیلونو کولی شی طلاق وغواړی، د ناخوښی په ګډون. د روغی هڅه جبری ده. مذهبی اقلیتونه ښائی بل رنګه احکام تعقیب کړی. |
| مالیزیا | هره خوا کولی شی چه د طلاق غوښتنه وکړی. د طلاق خبرتیا او ثبت لازمی ده. |
| مراکش | د طلاق باید محکمی له خوا ورکړل شی. د دواړو خواوو په خوښه طلاق مجاز دی. ښځه کولی شی چه د مشخصو دلایلو له امله د طلاق غوښتنه وکړی. |
| سوریه | ښځه کولی شی چه په ډیرو دلایلو طلاق وغواړی، د ناخوښی په شمول. د روغی هڅه جبری ده. |
| تونس | ښځه او میره کولی شی چه د خاص امتیاز او یا زیان په نامه طلاق واخلی. طلاق په رسمیت نه منل کیږی. د روغی هڅه جبری ده. |

۵۴ په خپلو حقوقو خبر یو، ۳۲۰ پانه

۵۵ عین منبع.

## د اولاد سرپرستی او خرڅ

د طلاق په حالت کی اسلامی هیوادونه معمولا د میندو حقوق چه خپل اولادونه وروزی محدودوی، حتی دخپلو اولادونو د لیدو حق نه ورکوی. برخلاف دا هیوادونه پلرونو ته "طبیعی حق" ورکوی چه د اولادونو سرپرست وی؛ د ماشوم سرپرستی هغه وخت پلار ته ورکول کیږی چه ماشوم یو معین عمر ته ورسیږی (معمولا ډیر وړوکی وی). که پلار مړ شی، د ماشوم د اړتیاوو او خوښی په نظرکی نیولو نه پرته، پلرنی نیکه یا بل نارینه خپلوان سرپرستی ته غوره بلل کیږی. د اولاد بایلل لوی گواښ دی چه ښځی پداسی ودونو کی چه د زغم وړ نه وی بندی ساتی.

**اهداف**

* دا داډ حاصلول چه ښځه او نارینه د اولاد په ساتنی او سر پرستی کی، د هغوی د پالونکو او گټونکو په توگه مساوی حقوق ولری.
* د اولاد ښی گټه باید د پلرنی " مالکیت" د حقوقونه مقدم وگڼل شی.

**اساسی ستونزی**

١. بهتره ده چه دبیلتون نه وروسته ماشومانو د ولی کیدو، سرپرستی، او خرڅ مسلی د داسی قوانینو له لاری حل شی چه د ماشوم گټی پکی په نظر کی نیول شوی وی او دواړو، مور او پلار، ته مساوی حقوق او مسولیتونه ورکړی. د **ترکیی** د مدنی حقوقو قانون ۱۸۲ ماده وایی، "د یوه اصل په توگه ، قاضی د ماشومانو سرپرستی هغه چا ته ورکوی چه فکر کوی د ماشوم بهتره پالنه کولی شی. او پدی برخه کی نارینه د ښځو نه بهتره ندی." ٥٦

٢. د طلاق نه وروسته مسلمانو ښځو ته معمولا د اولادونو فقط محدوده سرپرستی ورکول کیږی. هغه عمر چه د سرپرستی مسله پکی ختمیږی په مختلفو هیوادونو کی مختلف دی، خو پدی کی بیا ټول یو دی چه د نجلی عمر د هلک په نسبت لوړ دی. د مثال په ډول، **د تونس** قانون کی (٦٧ ماده) وایی چه یو ماشوم هلک باید په ۷ کلنی کی د مور نه پلار ته وسپارل شی او نجلی په ۹ کلنی کی، غیر لدینه چه قاضی بل حکم کړی وی.٥٧

---

٥٦ جنوب ختیزه اروپا، د ښځو حقوق ابتکار. "د کورنی قانون راپور: ترکیه."
http://www.seelineproject.net/FamilyLaw/TurkeyFL.htm#ftn1

٥٧ جمال ج. ناصر. د شخصی دریځ اسلامی قانون. ۳ چاپ اید کلور نړیوال قانون ۲۰۰۲ کال ۱۷۱ پانه.

ځینی هیوادونه لکه **مصر**، **لنبان او پاکستان** عین مادل تعقیبوی. ۵۸ ځینی هیوادونه لکه **الجزایر او ایران** د مور په برخه کی وضع اوس هم نامناسبه ده. ځکه چه که ښځه بیا واده وکړی ماشومان بیرته پلات ته تسلمیږی.

۳. په ځینو مواردو کی حتی که پلارد اولاد د ساتنی لپاره مناسب سرپرست ونه ګڼل شی، بیا هم د پلارد کورنی غړی، د مور او دهغی د خپلوانو په نسبت غوره بلل کیږی.

---

۵۸ د ایمورای د پوهنتون د قانون او مذهب د پروګرام په وینا. "اسلامی کورنی قانون".:http://www.law.emory.edu/IFL/indesx2.html "پاکستان کی د اولاد د سرپرستی چاری لا هم د ولیانو او سرپرستانو د ۱۹۸۰ کال د مقرری سره سم روانی دی. دا مقرره وایی چه محکمی باید د شخصی دریځ قانون نه هدایت واخلی چه ماشوم پکی مبتدا ګڼل کیږی. مسلمانانو ته عمومی حکم دا دی چه طلاقه شوی ښځه د ۷ کالو پوری د نارینه اولاد دسرپرستی مستحقه ده... او د جینکو لپاره د بلوغ عمر تاکل شویدی. محکمی ته داهدایت هم شوی چه د ماشوم عمر، جنس او مذهب او د پیشنهاد شوی ولی او ساتونکی خصلت او توان ، اوهمدارنګه په خپله د ماشوم خوښه که هغه د هوښیارانه فیصلی توان ولری، په نظر کی ونیسی. که صغیر دیر وړوکی وی یا که نجلی وی، محکمی ته هدایت شوی چه مور غوره وبولی. په ټولومواردو کی د اولاد ګټه مقدمه او مهمه ګڼل کیږی.

## د ماشومانو په ارتباط حقوق: لنډيز

| ملک | هلک | نجلی | د ماشوم خرڅ | د ماشوم لیدل |
| --- | --- | --- | --- | --- |
| | **د مور حقوق** | | | **د پلار حقوق** |
| | **سرپرستی** | | | |
| الجزایر ا،ب | ۱۰(۱٦)پ | واده/۱۸ | | |
| مصر ا | ۱۰(۱۵)پ | ۱۲(واده)پ | | هو |
| اندونیزیا | د محکمی له خوا فیصله کیږی، معمولا ۱۲ کلنی پوری مور ته ورکول کیږی؛ د هغی نه وروسته د اولاد خپله خوښه | | | |
| ایران ب | ۷ | | | |
| اردن ا | بلوغ | | پخوانی قانون ث | هو |
| لبنان ا | ۷ ت | ۹ ت | پخوانی قانون | محکمه ئی فیصله کوی |
| مالیزیا ا | محکمه ئی ټاکی، پلار "طبیعی" ولی گڼل کیږی | | | حل شوی ندی |
| مراکش ۱ | حد اکثر (یعنی ۱۸) | | | |
| پاکستان ا | ۷ ج | بلوغ ج | | |
| سوریه | ۹ ج | ۱۱ ج | د عده په وخت تر ۹ میاشتو پوری ت | |
| تونس ا | ۷ | ۹ | دولت ئی ورکوی | هو؛ 'ولی' باید د ترانسپورت خرڅ هم ورکړی |
| | د هغی نه وروسته باید محکمه فیصله وکړی | | | |
| ترکیه | محکمه ئی باید وټاکی | | خرڅ ورکول لازمی دی | هو |

ا غیر مسلمانانو ته سرپرستی نه ورکوی او یا ئی مقیدوی.

ب ښځی که بل واده وکړی د اولاد سرپرستی د لاسه ورکوی.

پ محکمه کولی شی چه په قوسینو کی لیکل شوی عمر زیات کړی.

ت محکمه صلاحیت لری چه رد ئی کړی.

ث د طلاق دپاره د اوږدی مودی خرڅ.

۴. ښه خو دا ده چه د سرپرستي پالیسي باید مور او پلار دواړو ته مساوي حقوق ورکړي، او هم میندي او هم لوڼي د هغوي د نارینه سیالانو سره برابر وګڼي، ښځه د اولاد په سرپرستي کي بي کفایته و نه بولي او د ماشوم د سرپرستي د دوران ختم هم د ماشوم په جنس پوري ونه تړي. ډیر اسلامي هیوادونه ښځو ته اصلا د اولاد د پالني او ساتني حق په هغه حالت کي چه ښځه اسلام ته بد ووايي، "غیراخلاقي" عمل یا زنا وکړي، یا هم د اولاد د پلار نه په جغرافیائي لحاظ ډیره لري لاړه شي نه ورکوي.۵۹ په **ایران** کي، که مور بیا واده وکړي د اولادونو په هر عمر کي چه وي، د سرپرستي حق بیخي د لاسه ورکوي. ۶۰

۵. د اولاد خرڅ د بیلتون نه وروسته هم په همدي د یو هیوادو نه بل ه پوري فرق لري، په ځینو حالاتو کي مشخصه پاملرنه ورته کیږي او اکثرا د محکمي خوښي ته پریښودل کیږي. دا هم د مالي ملاتړ په برخه کي صدق کوي او هم د ماشوم د لیدو دپاره د هغي مور یا پلار د حق په برخه کي چه سرپرستي نه وي ورکړل شوي. د خرڅ د فیصلي تطبیق مشکله ده، په تیره د طلاق په مواردو کي، او کله چه مور یا پلار رسمي وظیفه ونلري. **تونس او ترکیه** د ماشوم د سرپرستي او ساتني دنده مور او پلار دواړو ته ورکوي، او محکمي د هغو فیصلو ملاتړ کوي چه د ماشوم ښي ګټه او ګټه پکي وي ددي معني دا ده چه پلار د بلوغ د وخته پوري خرڅ ورکوي او مور ماشوم ساتي. که څه هم چه دا بهترینه طریقه بلل شویده، پلار د ولي په حیث نسبت مور ته ډیر حقوقو لري، او مور ته مسولیت ډیر ورترغاړي وي خو د څارني ډیرحقوق نلري.

۶. میندي معمولا د اولاد د سرپرستي او خرڅ په برخه کي به تیټ موقف کي وي. هغه ودونه چه رسما ثبت شوي نه وي، هغه مؤثق نه ګنل کیږي، او باطل شمیرل کیږي او دغسي واده نه پیدا شوي اولاد او مور ته هم د ټولنیزو معیارونو په حساب سزا ورکول کیږي او هم د حقوقي قوانینو په حساب چه ښځه د ماشوم یوازیني سرپرسته ټاکي، او معمولا د خرڅ د پوره کولو توان نلري. د **مصر** محکمي معمولا په هغو ښځو انتقاد کوي چه غواړي د ماشوم پلار وښیي.۶۱ په **ترکیه** کي اصلاح راستونکو د قانون نه د "غیر مشروع" لفظ لري کړ. او د خرڅ او میراث اخیستو لپاره یي مناسبي حقوقو لاري برابري کړي. ۶۲ کله چه د ماشوم پلار معلوم نه وي او جنجال پري وي، باید داسي طریقي موجودي وي چه میندو ته اجازه ورکړي چه د ماشومانو پلار معلوم کړي او خرڅ ترینه واخلي.

---

۵۹ په خپلو حقوقو خبر یو، ۳۳۹ پانه.

۶۰ د امریکا د بهرنیو چارو د وزارت، د دیموکراسي، بشري حقوقو او کار د څانګي د "بشري حقوقو د رعایت په باب د هیوادونو راپورونه - ۲۰۰۴." ایران، کال ۲۰۰۵ د فبروري ۲۸.:http:/www.state.gove/g/drl/rls/hrrp/2004/41721.htm "د ۲۰۰۳م کال په نوامبر کي، حکومت د ماشوم د سرپرستي اوسني قانون تعدیل کړ، چه د طلاق په حالت کي یي د ماشوم زوي سرپرستي تر ۲ کلني پوري او د لور تر ۷ کلني پوري مور ته ورکوله او دهغي نه وروسته سرپرستي پلار په غاړه اخیسته. نوي قانون یوي مور ته د ۷ کلني پوري د ماشوم د سرپرستي اخیستو خوښه ورکوي؛ د هغي نه وروسته پلار سرپرستي اخلي. د ۷ کلني دعمر نه وروسته، په جنجالي قضیو کي، د ماشوم د سرپرستي فیصله محکمه کوي، او د ماشوم ښي ګټه په نظر کي نیسي.

۶۱ په خپلو حقوقو خبر یو، ۲۳۰ پانه.

۶۲ په خپلو حقوقو خبر یو، ۲۳۰ پانه.

۷. غیر مسلمانی میندو ته ندرتا د ماشوم سرپرستی ورکول کیږی. په **تونس** کی، غیر مسلمانی میندی د ماشوم سرپرستی د ٥ کلنی پوری اخلی، "پدی شرط چه دا خطر نه وی چه ماشوم د هغی دین ته تمایل پیدا کړی." ٦٣ حتی حقوقی احکام چه په مشخص ډول یوی غیر مسلمانی مور ته د اولاد د سرپرستی د سپارلو په باب څه نه وایی، یوی ښځی ته که خپل دین بدل کړی ، د ماشوم د ساتلو چاری مشکله کوی. د نورو تر څنګ، **الجزایر، لبنان، مصر، مراکش او پاکستان،** قوانین غواړی چه د ماشوم د سرپرست په ټاکلو کی باید د ټولو نه اول د "ماشوم خپله ښی ګټه او ګټه" په نظر کی ونیول شی، دا **هغه** تعریف دی چه کله کله داسی تعبیریږی چه ګنی مذهبی تربیت هم پکی دی.٦٤ د **پاکستان** له خوا په کال ۱۹۹۱ کی د شریعت مقرراتو انفاذ ، دا تأئید کړه چه د ټولو قوانینو احکام به "د شریعت په رڼا کی تعبیریږی او د پاکستان ټولو مسلمان اتباع باید شریعت ومنی او دهغی مطابق رفتار وکړی." ٦٥

## د بدلون په لور تمایلات

* د بیلتون نه وروسته ښځو ته د اولاد د سر پرستی د مساوی حق په تضمین کی، د تطبیق په چارو کی توپیر او تنوع مهمه مسله ده. د اولاد سرپرستی په چارو کی د نارینه او ښځو د حقوقو د مساواتو د تضمین معنی دا نده چه، نوری مسلی به، لکه د ښځی دا فیصله چه بیا واده وکړی، او یا د خپلی خوښی ځای کی، چه د میره د ځای نه یی ډیر لر ی هم وی، واوسیږی، د هغی دغه اساسی حق تری وانخلی. دا مسله د خرڅ په برخه کی هم صدق کوی، او په قانون کی خلاوی شته چه هغه څه نه چه مور او ماشوم ورته اړتیا لری ډیری لږ خرڅ ورکول مجاز بولی. د دغو احکامو تطبیق د یوه ځای نه بله پوری ډیر فرق کوی، حتی په هغو هیوداونو کی چه ملی قوانین ئی ډیر مشخص هم دی.

* د **مراکش** د کورنی قانون په اړول شوی شکل کی داسی ژبه کارول شویده چه د اولاد د سرپرستی تر لاسه کولو کی د یوی ښځی حق تضمینوی، او پدی پوری یی نه تړی چه ښځه د ماشوم د پلار نه څومره لر یاوسیږی او یا دا چه بل میره کوی او کنه. همدارنګه هغه پیسی چه مور ته د تاوان او جبیری په توګه ورکړل شوی دهغو پیسو د اندازی نه بیلی ګڼی چه د اولاد د ژوند د کیفیت د ساتنی لپاره لازمی دی، او دا داډ حاصلوی چه خرڅ فقط یو ځل خرڅ ورنکړل شی، بلکه د دایمی ملاتړ مکلفیت پلار باندی واچول شی. ٦٦

---

٦٣ د تونس د شخصی دریځ قانون (۱۹٥٦)، چه په ۱۹۸۱ کی تعدیل شو، ٥۹ ماده. د محمو طاهر ترجمه، په اسلامی هیوادونو کی د شخصی وضیعت قانون، ۲ تعدیل شوی چاپ، ۱۹۹٥، ۱۷٦ پانه.

٦۴ د ایمورای پوهنتون د قانون او مذهب پروګرام. "اسلامی کورنی قانون".

٦٥ عین منبع.

٦٦ له اسوسیشن دیموکراتیک دی فیمیس دو مراکو، دکال ۲۰۰٥ د اپریل ۱۳.

## نمونه وی موارد

په کال ۲۰۰۴ کی د **مراکش** په مدونه کی د اصلاحاتو راوستو نه وروسته، یوه ښځه نه یوازی دا چه په قضا کی د اولاد د سرپرستی د اخیستو مساوی (او معمولا بهتره)حق لری، داسی مسلی لکه د پلار سره نزدی ځای کی اوسیدل، د کار کولو انتخاب، یا په آینده کی د واده کولو فیصله د هغی دا موقف نه دلوی. ښځه همدارنگه که سرپرستی پلار ته ورکړل شی د مرافعی دعوی حق لری او کولی شی چه د اولاد سرپرستی بیرته واخلی او وښیی چه هغه دلیل چه ددی حق تری اخیستل شوی نور نشته. ”د اولاد سرپرستی اوس باید مور ته وسپارل شی، بیا پلار ته بیا مورنی نیا ته. که دا ممکنه نه وی ، نو قاضی باید سرپرستی د ماشوم مناسب ترین خپلوان ته ورکړی او دماشوم گټه په نظرکی ونیسی.“

پدی برسیره، د ژوند چاری، او د کورنی کار توقعات باید ددی سبب نه شی چه د یو نجلی د سرپرستی د ختمیدو عمر باندی اثر واچوی. دواړه نارینه او ښځینه ماشومان باید ۱۸ کلنی پوری سرپرست ولری. ٦٧

د **تونس** د قانون په اساس، میندی پلرونه د اولاد د سرپرستی او حفاظت په چارو کی مساوی حقوق لری. د واده په وخت کی میندی او پلرونه د خپلو اولادونو په وړاندی گډ حقوق او گډ مسؤلیتونه لری. د طلاق نه وروسته، د اولاد د گټو په نظر کی نیولو سره قاضی فیصله کوی چه سرپرستی چا ته ورکړی. که سرپرستی مور ته وسپارل شی، دا داولاد د سفر، تعلیم او مالی چارو صلاحیت هم د مور سره وی.٦٨ بر سیره پدی، د تونس د شخصی دریځ قانون دا مشخصوی چه ”محکمه باید، حتی که ترینه غوښتل شوی هم نه وی، تولی هغه مهم چاری فیصله کړی چه د ښځی میره د استوگنځی، د ماشومانو د خرڅ او د سرپرستی او د ماشومانو د لیدو پوری تړلی وی،“ مگر دا چه ښځه میره د دغسی مرستی اخیستو نه ډډه وکړی او سرپرست نه شی کولی چه نه یوازی دا چه خپل زوج د ماشوم لیدو ته پری نه ږدی بلکه باید د سفر خرڅ ئی هم ورکړی.٦٩

د **ترکیی** اصلاح شوی مدنی قانون (د کال ۲۰۰۲ د جنوری ۱ کی تسوید شوی) نه یوازی دا د مور او پلارو دواړو دا حق تضمینوی چه د اولاد سره شخصی علایق وساتی، بلکه مور او پلار دواړه ددینه منع کوی چه د پلار یا مور سره د اولاد علایقو ته تاوان ورسوی. ”ددی شخصی علایقو حدود دا دی: مور او پلار دواړه باید د اولاد سره د بلی خوا علایقو ته د تاوان اړولو نه ډډه

---

٦٧ عین منبع.

٦٨ په خپلو حقوقو خبر یو. ۳۴۴ پانه.

٦٩ د تونس د شخصی دریځ قانون (١٩٥٦)، په ١٩٨١ کی تعدیل شوی، ۳۲ ماده. ترجمه د محمود طاهر. په اسلامی هیوادونو کی دشخصی دریځ قانون، ۲ تعدیل شوی چاپ، ١٩٩٥، ١٧۴ ـ ١٧٥ پانه؛ ناصر جمال ج. د شخصی دریځ اسلامی قانون. ۳ چاپ. کلوور نړیوال قانون. ۲۰۰۲م کال . ١٦٩ پانه.

وکړی. مور او پلار باید د اولاد د تعلیم او روزنی په چارو کی د خنډ راوستو نه ډډه وکړی."[۷۰] ددینه علاوه، یوه اندازه پیسی تضمینوی چه د خرڅ لپاره ورکړل شی، او پدی برخه کی قاضی ته صلاحیت ورکوی چه د مور او پلار مالی وضعه او توان معلوم کړی، او د پیسو په ټالکو د ماشوم د ژوند  د کیفیت سطحه په نظر کی ونیسی.

۷۰ د جنوب ختیزی اروپا د ښځو د حقوقی ابتکار، ۱/۳۲۴ ماده. " د کورنی قانون راپور: ترکیه."

http://www.seelineproject/FamilyLaw/TurkeyFL.htm#_ftn1

## د میړه د مرګ نه وروسته مسلې

تقریبا په ټولې نړی کې د ښځو دپام وړ برخه ، د بالغه ښځو په سلو کې د۷ نه تر ۱۶ پورې کونډې دی. ۷۱ دا شمیر د دوامداره جګړو له امله نور هم پسې زیاتیږی؛ په همدی وجه اسلامی هیوداونو چه آینده په نظر کې نیسی دا مهمه ګڼلی ده چه د کونډو حقوق خوندی کړی. اصلی مسلې د خرڅ او د انتظار په موده کې د ښځې د استوګنځی خبره ده. د انتظار موده هغه وخت دی چه دا معلومه شی چه آیا کونډه امیندواره ده او که نه، پدی توګه دا په میراث، د بیا واده کولو په حق، او د اولادونو د سرپرستی او پالنی په مسل باندی اثر اچوی.

**اهداف**

* د کونډو لپاره د خرڅ او میراث اخیستو ډاډینه
* میندو ته د اولادونو د سرپرستی د حقوقو حاصلولو تضمین

**اساسی ستونزی او تطبیق**

۱. د کونډ د خرڅ او میراث حقوق

أ. کونډی باید دا حق ولری چه د انتظار په موده کی د خپل میړه په کور کی واوسیږی (دا د سمدستی اقتصادی مشکلاتو ا د بی کوری مخه نیسی). مګر، دا کار باید دهغی په خپله خوښه وشی، جبری نه وی. که یوه کونډه غوره بولی چه بل چیرته واوسیږی، باید مجبوره نکړای شی چه د میړه کور کی پاتی شی.

ب. کونډی باید حق ولری چه د یوه مشخص وخته پوری انتظار وباسی. د انتظار وخت باید ډیر اوږد نکړای شی، مګر باید دومره وی چه معلومه شی چه امیندواره ده او که نه او تر څو د میراث او خرڅ مسلی حل شی.

ت. قانون او دود دستور معمولا پدی برخه کی مبهم وی چه آیا یوه کونډه د میړه د مرګ نه وروسته د عده په وخت د خرڅ مستحقه ده او که یوازی په جایداد کی د برخی اخیستو استحقاق لری. په ډیرو مواردو کی د ښځو او اولادونو خرڅ د میړه د جایداد نه مخکی لدی چه تقسیم شی ورکول کیږی.۷۲

---

۷۱ "ښځی ۲۰۰۰: کونډتوب: نا مریی ښځی، منزوی او محرومی ساتل شوی." ملګری ملتونه. کال ۲۰۰۰ ډسمبر، ۷ پاڼه

http://www0.un.org/womenwatch/daw/public/wom_Dec%2001%20single%20pg.pdf

۷۲ "په خپلو حقوقو خبر یو: ښځی، کورنی، قوانین او دود دستور په اسلامی نړی کی،" ښځی چه د اسلامی قوانینو لاندی اوسیږی، ۳۰۲ پاڼه، کال ۲۰۰۳، لندن: برتانیه

ب.   یوه ښځه د خپل میره د جایداد اتو کی د یوی برخی مستحقه ده او د خپل د پلار د جایداد تقسیم کی د پلار د نارینه اولاد په تناسب نیمه برخه وررسیږی.[73] له بده مرغه چه ، په عمل کی، نارینه خپلوان معمولا مسلمانی کونډی په میراث کی د هغوی د حق نه محروموی.[74] په **بنگله دیش** کی د میراثی جایداد په باب د ۱۹۹۵ یوه سروی ښیی چه فقط په سلو کی ۲۵ کونډو چه سروی شوی وی، د مور پلار د میراث نه خپله سمه برخه تر لاسه کړی وه، او فقط په سلو کی ۳۲ ته د خپلو میرونو د میراث سمه برخه ورکړل شوی وه.[75] هغو ځایونو کی چه د میراث حقوق نه تطبیقیږی ښځی چه کونډی په بشپړ ډول د خپل میره د خپلوان په خیر خیرات متکی اوسی.

۲. د کونډو د اولاد د سرپرستی حقوق

أ.  په ټولی سیمی کی په تاریخی لحاظ عام دستوردا دی چه ښځه او میره دواړه مسلمان وی، او میره مړ شی، صغیراولادونه حق لری چه د خپلی یوی ښځینه خپلوانی سره واوسیږی، نسبت دیته چه د کورنی د نارینه مشر خپلوان سره.

ب.  د صغیر اولاد تعریف په هر هیواد کی فرق لری. همدارنگه د مالی سرپرستی او د پالنی او حفاظت تر مینځ هم توپیر شته. مالی سرپرستی ( دیوه صغیر د جایداد اداره) معمولا د پلرنی نیکه سره وی، حتی که د اولاد د پالنی او لویولو سرپرستی مور ته هم ورکړل شوی وی. ددی دود ریښی هغی زمانی ته ځی چه ښځو یا هیڅ او یا هم لږ تعلیم درلود او د ورځنی ژوند په اداره کی یی هیڅ تجربه نلرله، نو د نارینه مرسته ضروری وه چه داسی اساسی مسلی په مخه بیول شی. نن ورځ په سیمی کی وقعی وضع هغسی نده.

ت.  په ځینو هیوادونو کی ښځی لا هم باید د قانون په محکمه کی دا ثابته کړی چه د اولاد دمالی سرپرست کیدو او د هغوی د پالنی او ساتنی قابلیت او توان لری. خو په **ترکیی او تونس** کی داسی نده، ځکه هلته ښځی د نارینه سره هم د سرپرستی او همد پالنی په چارو ی مساوی حقوق لری.

**د قضیو څیړنه**

***اوله مسله: د خرڅ او د میراث حقوق***

د کونډ د انتظار د مودی د پیل او پای وخت باید په وضاحت تعریف شی. ځینی مثالونه په لاندی ډول دی:

---

۷۳ "ښځی ۲۰۰۰: کونډتوب: نا مریی ښځی، منزوی او محرومی ساتل شوی." ملگری ملتونه. کال ۲۰۰۰ ډسمبر، ۷ پانه
http://www0.un.org/womenwatch/daw/public/wom_Dec%2001%20single%20pg.pdf

۷۴ عین منبع.

۷۵ عین منبع.

**الجزاير.** دکورنی د قانون د ٦١ مادی په رڼا کی، یوه کونده مکلفه نده چه د انتظار په موده کی د میړه د کوره ووځی. مګر دا چه ناوړه اخلاقی عمل پری ثابت شی.٧٦

**اندونیزیا.** د کونډو دپاره د انتظار موده ۱۳۰ ورځی دوام کوی، او د هغوی ښځو تر مینځ چه میاشتنی عادت یی روان وی او دهغو چه میاشتنی عادت یی وچ وی کوم فرق نه کیږی.٧٧ پدی توګه دا خبره چه آیا ښځه لا هم د اولاد راوړلو په عمر کی ده او که نه، بی ارتباط ده، او په همدی وجه په دی موقت دوران کی د ښځی دا حق محفوظ ی چه خرڅ باید ورکړل شی.

***دویمه مسله: کونډو ته د اولاد د سرپرستی د ورکولو حقوق***

د میړه د مرګ نه وروسته، یوه کونده، که خپله یې وغواړی، باید د خپلو اولادونو دسرپرستی او پالنی مستحقه وی. ځینی مثالونه په لاندی ډول دی:

**تونس.** په تونس کی قانون د سرپرستی او پالنی په چارو کی میندو پلرونو ته مساوی حق ورکوی. که میره مړ شی، محکمه د اولادونو (عموما د صغیرانو) د سرپرستی او پالنی حق مور ته ورکوی، او هغه د اولاد په سفر، تعلیم او مالی چارو کی هم صلاحیت لری.

**ترکیه.** د زوج نه د بیلتون، طلاق، یا مرګ په حال کی د سرپرستی په ارتباط حکم دا دی چه د پلار او مور تر مینځ تبعیض نشته. د ۱۸۲می کادی په رڼا کی، قاضی د اولاد سرپرستی هغه چا ته ورکوی چه د اولاد بهتره پالنه وکړای شی. که میره مړ وی، ډیرامکان لری چه دغه شخص د اولاد مور وی. محکمی پدی برخه کی نارینه د ښځو نه بهتره نه بولی. ٧٨

**اندونیزیا.** د اندونیزیا د واده دقانون له مخی، که جنجال موجود وی، محکمه فیصله کوی چه څوک دی د اولادونو سرپرست وی. عموما محکمی د ۱۲ کلنو نه د وړو اولادونو سرپرستی مور ته ورکوی. د هغی نه لوړ عمر کی بیا د اولاد خپله خوښه مقدمه ګڼل کیږی. ٧٩

---

٧٦ "په خپلو حقوقو خبر یو: ښځی، کورنی، قوانین او دود دستور په اسلامی نړی کی،" ښځی چه د اسلامی قوانینو لاندی اوسیږی، ۳۰۷ پانه، کال ۲۰۰۳، لندن: برتانیه.

٧٧ عین منبع.

٧٨ "په خپلو حقوقو خبر یو: ښځی، کورنی، قوانین او دود دستور په اسلامی نړی کی،" ښځی چه د اسلامی قوانینو لاندی اوسیږی، ۳۴۴ پانه، کال ۲۰۰۳، لندن: برتانیه.

٧٩ "په خپلو حقوقو خبر یو: ښځی، کورنی، قوانین او دود دستور په اسلامی نړی کی،" ښځی چه د اسلامی قوانینو لاندی اوسیږی، ۳۴۴ پانه، کال ۲۰۰۳، لندن: برتانیه.

د میره د مرگ نه وروسته مسلی: لنډیز

د ښځو حقوق

| هیواد | خرڅ او میراث | د انتظار موده | د اولاد سرپرستی او/یا پالنه |
|---|---|---|---|
| الجزایر ت | هو | څلور میاشتی او ۱۰ ورځی ا | سرپرستی او پالنه ب |
| مصر ت | هو | دمیاشتنی عادت ۳ دوری | یوازی سرپرستی |
| اندونیزیا | هو | ۱۳۰ ورځی پ | سرپرستی او پالنه |
| ایران | هو | څلور میاشتی او ۱۰ ورځی ا | یوازی سرپرستی |
| اردن | هو | د میاشتنی عادت ۳ دوری | یوازی سرپرستی |
| لبنان | هو | | یوازی سرپرستی |
| مالیزیا ت | هو | | سرپرستی او پالنه ب |
| مراکش ت | هو | څلور میاشتی او ۱۰ ورځی ا | یوازی سرپرستی |
| پاکستان | هو | څلور میاشتی او ۱۰ ورځی ا | یوازی سرپرستی |
| سوریه | هو | | یوازی سرپرستی |
| تونس | هو | ۳ میاشتی | سرپرستی او پالنه |
| ترکیه | هو | ۳۰۰ ورځی | سرپرستی او پالنه |

ا. که چیری یوه کونډه امیندواره وی، د ولادت پوری، هر یو یی چه وروسته وی.

ب. مگر دا چه وصیت لیک کی بل څه ویل شوی وی (یوازی دسرپرستی په برخه کی)

پ. غیر د هغو مواردو نه چه ښځی میاشتنی عادت نلری، او دانتظار موده ۳ میاشتی ده.

ت. یوه کونډه مکلفه نده چه د انتظار په موده کی د میره کور نه ووځی.

## د ښځو استخدام او د کار کولو حق

په تيری يوی لسيزی کی، په مينځنی ختيز کی د ښځو استخدام ډير زيات شويدی. خو بيا هم، د ښځو د تعليمی سطحی د لوړيدو سره سره - او د MENA په سيمه کی د صحی چارو د بهتری سره سره چه د تولداتو اندازه يکی کمه شوی، او ښځی د کار قوی کی په چټکی ورشامليږی - په سيمه کی لا هم د ښځو استخدام په ټولی نړی کی د هر بل ځای نه لږ دی. ۸۰

**اهداف**

* نارينه او ښځو ته د استخدام د فرصتونو د مساوی لاس لرنی ډاډينه

* د استخدام د غير تبعيضی اقداماتو ټينګول (د معاشونو په ګډون)

**اساسی ستونزی**

۱. د ښځو کار کولو زياتيدل په سيمی کی د بشری پانګی د پرمختيا ضروری برخه ده. په مينځنی ختيز کی د ښځو کار کول په تيری يوی ربعی پيړی کی ډير شويدی، خو لا هم د نړی داوسط حد نه لږ دی. د ملګرو ملتونو د انکشافی پروګرام په وينا، تقريبا ۳۳٪ عربی ښځی د ۲۰۰۴م کاله پوری د کار ساحی ته تللی دی، پداسی حال کی چه په ټولی نړی کی دا رقم ۵۵٪ دی.۸۱ دا خبره لا هم شته چه ښځی بايد منزوی او محرومی وساتل شی، د کار د ساحی نه د ليری ساتلو په طريقه بايد د نا واده شوو لونو شهرت او نوم وځارل شی، او يا دا چه ښځی بايد فقط د کور کار ته مقيدی شی.

۲. د ښځو کار کول د MENA په سيمه کی لا هم يوه خاصه ستونزه ده. پدی سيمی کی ميړونه معمولا ددی خبری نه چه ښځه بايد مطيع او تابع اوسی د ښځی د دی توان د محدودولو لپاره کار اخلی چه د کور نه بهر کار پسی وګرځی. په عنعنوی اسلامی واده کی، ميره د ښځی خرڅ ورکوی (د هغی نفقه بايد ورکړی)؛ په مقابل کی د ښځی نه دا تمه ده چه د هغه اطاعت وکړی. ۸۲ د ميره د صلاحيت اندازه باندی د نظر اختلاف شته، مګر عنعنوی ټولنی معمولا هغه ته ډير واک اختيار ورکوی، او ميړونه معمولا د خپل ښځو فعاليتونه محدودوی او د عالی تحصيلاتو ، کار او

---

۸۰ د MENA د پرمختيا رپوټ، "په مينځنی ختيز او شمالی افريقا کی جنس او پرمختيا: ښځی په عامه محيط کی" نړيوال بانک. غير ايدت شوی چاپ، ۲۰۰۳ سپتمبر. ۴۲ پاڼه.

۸۱ ملګری ملتونه انکشافی پروګرام. بشری انکشاف راپور ۲۰۰۴م کال، د انترنيت له لاری:

http://hdr.undp.org/statistics/data/ د کال ۲۰۰۵ د جون ۱۷

۸۲ دينی عالمان معمولا دا حکم د قرآن د ۳۴:۴ م آيت په بنا کوی: "نارينه د ښځو ساتونکو او نفقه راوړونکی دی، ځکه الله يوه ته ډير (قوت) ورکړی نسبت بل ته، او ځکه چه نارينه د هغوی ملاتړ په خپلو شتمنيو کوی. پدی اساس ښی ښځی هغه دی چه اطاعت کوی، او (د ميره په غياب) کی ځان ساتی، او الله ئی ساتی." دی آيت کی د نارينه لپاره مناسبی طريق هم ښودل شويدی چه د هغو په ذريعه د خپلو ښځو اطاعت تر لاسه کړی. خينی مسلمانان وايی چه دا آيت مشخصا د زنا موضوع ته اشاره کوی.

http://www/islamweb.net/ver2/archive/article.php?lang=E&id=38534 د کال ۲۰۰۵ د جون ۱۷

سفر نه ئی منع کوی. ۸۳ په ځینی اسلامی هیوادونو کی، دغسی وینا لا هم د قانون په زور عملی کیږی، لکه په **ایران، اردن**، او **قطر** کی. په **قطر** کی د مثال په ډول، یوه ښځه چه کار پسی گرځی باید د خپل میره لیکلی اجازه ولری؛ دغه هیواد حتی پدی لته کی دی چه همدا حکم په غیر مسلمانو او غیر قطری ښځو هم تطبیق کړی. نور هیوادونه د اطاعت دومره کلک او شدید تعبیر نه کوی، او یا یی بیخی د قانون نه باسی، لکه په **مراکش، ترکیی** او **تونس** کی. دغسی رویه د MENA د سیمی نه بهر اسلامی هیوادونو کی دومره ډیره نه لیدل کیږی، لکه **اندونیزیا، بنگله دیش، او مالیزیا** (لاندی واقعیتونه وگوری)، چه هلته د ښځو استخدام د نړی داوسط حد سره اړخ لگوی او یا هم ترینه زیات دی.

۳. دکار کول نه د ښځو منع کول، او په نتیجه کی نه پریښودل چه د میره نه به غیر مستقل عاید ولری، د ښځو خودمختاری تر ډیره حده پوری محدودوی او د طلاق په حالت کی ژوند ورته لا پسی سختوی. مگرد زیاتیدونکو اقتصادی فشارونو، سره کورنی دوه عایداتو ته د کورنی د ملاتړ لپاره مخه کوی، او پدی توگه دا فرصت برابریږی چه د ټولنی دهغو وگړو غټ شمیر چه کار یی نه کاوه او لوی اقتصادی بوج لږ شی. ۸۴

۴. ځینی اسلامی هیوادونه، کله چه ښځی کار ته داخلی شی، هغوی ته د مساوی معاش ورکولو، مساوی رخصتی او مساوی کار ډاډ، د کاغذ په مخ، ورکوی. **د مراکش** د کار نوی قانون، چه په ۲۰۰۴م کال کی تصویب شو، نارینه او ښځو ته د کار په برخه کی مساوی حقوق ورکوی. پدی برسیره، دا قاون "دا اصل هم بیا تقویه کوی چه د ښځو په وړاندی باید تبعیض ونشی، د ولادت رخصتی او حقوق یی بهتره کړی او د کارگرو اتحادیو کی د ښځو د شاملیدو حق منی." مگر بیا هم د قانون په تطبیق کی سستی، ددی نوی قانون انفاذ او مؤثریت دیر محدودوی. ۸۵ **په مصر** کی د کار په نوو مقرراتو کی داسی الفاظ کارول شویدی چه د ښځو په گټه دی خو لا هم تبعیضی الفاظ لری (د مصر دقانون څیرنی ته رجوع وکړی).

۵. ښځی معمولا په ځینو ځانگو کی د کار کولو نه منع کیږی، او دقانون او یا هم د دود دستور له مخی داسی مسلکونو ته مقیدیږی لکه معلمی، د ټوټو جوړولو او جامو جوړولو په فابریکو کی عادی کارکول، د عامه ښی گڼی ټولنیز کار، او کرهنه. ۸۶

---

۸۳ د آزادی کور. ۵ پانه.

۸۴ د MENA د پرمختیا رپوټ، ۳ پانه.

۸۵ تجارت عادلانه کړی، "مراکش" http://www.maketradefair.com/en/index.php?file=labour_morocco.htm د کال ۲۰۰۵ د جولای ۲۸.

۸۶ محترمه شاهدخت بسامه بن طلال، «ښځی په عربی ټولنه کی» د نړیوالو څیرنو انستیتیوت، د ۱۹۹۶ د مارچ میاشت

**په کار کولو کې د ښځو حق**

| هیواد | د میره د اجازې نه پرته | جنسي تبعیض غیر قانوني دی | مساوي معاش | ٪ اقتصادي فعاله ښځې ا،ب | نور احکام |
|---|---|---|---|---|---|
| الجزایر | | هو | هو | ۳۱ | |
| مصر | نه | هو ث | هو | ۳٦ | |
| اندونیزیا | | نه | هو | ٥٦ | |
| ایران | نه | هو ث | نه | ۳۰ | |
| اردن پ | نه | نه | نه | ۲۸ | دکار او تعلیم مساوی حق تولو ته د ښځ په شمول |
| لبنان پ | نه | نه | نه | ۳۰ | |
| مالیزیا پ | نه | نه | نه | ۴۹ | |
| مراکش | هو | هو | هو | ۴۲ | |
| پاکستان | | | | ۳٦ | |
| سوریه | هو | هو | هو | ۲۹ | قانوناً، دولت باید د ښځو د کار کولو د لارې خندونه لرې کړي |
| تونس | هو | هو | هو | ۳۸ | د ښځو لپاره جبري عسکري خدمت |
| ترکیه | هو ت | هو | هو | ٥۱ | |

ا UNDP د بشري پرمختیا راپور۲۰۰۴، انترنیت کې: ,http://hdr.undp.org/statistics/data/ ، جون ۱۷ کال ۲۰۰٥

ب "په اقتصادي لحاظ فعاله ښځې" یا کار کوي او یا هم په فعالانه ډول د کار رسمي ځای کې کار پسې ګرځي.

پ د جنس په ارتباط کوم مشخص قانوني احکام بیخي نشته.

ت د سلا مشورو تقاضا کیږي مګر واجب الاجرا نده.

ث مساوات پداسي حالت کې شته چه د شریعت سره متضاد واقع نه شي.

نوټ: هغه هیوادونه چه نومونه یې په تورو کرښو لیکل شویدي داسي قوانین لري چه د کار په ځای کې ښځو سره ښه سلوک باید وشي.

هغه مسلکونه چه د نارینه و سره ګډ کار غواړی، او یا د نارینه له خوا یی سرپرستی کیږی، ښځه کارونه نه ګڼل کیږی. او پدی کی نرسینګ، هم شامل دی چه ډیو اسلامی هیوادونو کی د نرسانو ډیر سخت کمبود هم شته. امتیازات هم لکه تقاعدی معاش په مساوی ډول نه ورکول کیږی.۸۷

٦. په ځینو هیوادونو کی (مخصوصا په **تونس** او **مراکش**) کی، محدود شمیر ښځی په مسلکی لحاظ غتو مقامونو ته رسیدلی دی، خو اکثریت ښځی په عادی کارونو کی پاتی دی، او یا غیر رسمی کارونه کوی. د ښځو نه اکثرا تمه کیږی چه په کرهنی کی او په وړو شخصی کمپنیو او کار بار کی کار وکړی بی لدینه چه قرارداد ورسره وشی یا امتیازات ورکړل شی. پدی برخه کی د کار رسمی قوانین نه تطبیقیږی، او ښځی د هغو کارګو په جمله کی نه حسابیږی چه د رسمی سکتور کارونو کی سیالی وکړای شی. او په موجود مقرراتو کی په غیر رسمی سکتور کی د ښځو حقوق خوندی ندی. د ترکیی په اطرافی سیمو کی د ښځو د پاره اساسی کارونه، ٪۸۴، د کورنیو تجارتونو کی بی معاشه کار دی. حتی لویو ښارونو کی هم اکثریت ښځی په غیر رسمی کارونو بوختی دی. په پاکستان کی ٪٦۴ ښځی په ښاری سیمو کی په غیر رسمی کارونو لګیا دی. ۸۸

**واقعیتونه**

۱. په نړی کی د ښځو استخدام زیات شویدی، او اسلامی هیوادونه ددی نه مستثنی ندی. د ملګرو ملتونو د انکشافی پروګرام په وینا، د کار په قوت کی د ښځو ونډی د ۱۹۹۵م کال نه راپدیخوا په عربی هیوادونو کی قریبا دوه برابره ډیره شوی، د ٪۱۷ نه ٪۳۳ ته په کال ۲۰۰۴ کی. ۸۹

۲. د MENA په سیمی (عربی هیوادونو) کی د ښځو استخدام د نړی د اوسط نه ډیر زیات لږ دی، همدارنګه په غیر عربی اسلامی هیوادنو کی هم، لکه افغانستان، (٪۴۸ ښځی کار کوی)، مالیزیا (٪۴۹)، ترکیه (٪۵۱)، اندونیزیا (٪۵٦)، او بنګله دیش (٪٦٦). ۹۰

---

۸۷ د آزادی کور. ۵ پاڼه. د سروی په لوړو سپارښتنو کی دا لاندی شاملی دی: "۴. په سیاسی، حکومت، او خصوصی سکتور کی د ښځو د مخی نه باید حقوقی او عنعنوی خنډونه لری شی. حکومتونه باید قاطع ګامونه واخلی چه په سیاست، او تجارت کی د ښځو مشری تقویه کړی، د مختلفو کلکو اقداماتو او د تبعیض د قربانیان د فریا داوریدو لپاره د شکایاتو یو میکانیزم.. ٦. حکومتونه باید د ښځو داقتصادی مساوات د لاری نه د حقوقی او ټولنیزو خنډونو دلری کولو لپاره کلک ګامونه واخلی. مخصوصا، د کار قوانین باید دا ډاډ حاصل کړی چه ښځو ته دکار په برخه کی هر سطحه کی چه وی د مساوی امتیازاتو ورکولو مخ ونه نیول شی. حکومتونه باید د ښځینه کارګرو د ټولنیزو اړتیاوو غم وخوری، لکه ترانسپورت، او د ماشومانو ورکتون، څو هغه ټولنیز فشارونه چه ښځو باندی راځی او هغوی د کار کولو زړه تورن کوی لری شی. د کار هغه قوانین چه د مساوی فرصوتونو حکم کوی باید تطبیق شی.." ۱۳، ۱۴ پاڼی.

۸۸ د نړیوال باک د جنسونو د وضعی پروژه، http://genderstats.worldbank.org/

۸۹ د ملګرو ملتونو انکشافی پروګرام، د بشری انکشاف راپور ۱۹۹۵، ۲۴ پاڼه؛ د ملګرو ملتونو انکشافی پروګرام، د بشری انکشاف راپور ۲۰۰۴: http://hdr.undp.org/statistics/data/.

۹۰ د ملګرو ملتونو انکشافی پروګرام، د بشری انکشاف راپور ۲۰۰۴: http://hdr.undp.org/statistics/data/

۳. د CEDAW (... پاڼه وګورئ)، ۱۱ ماده، د کار په برخه کی د ښځو د حقوقو په باره کی ده. یولسمه ماده د ښځی د کار کولو، مساوی فرصتونو ، او مساوی وظیفو تر لاسه کولو ، د خپلی خوښی د وظیفی انتخاب، او د عامه خدماتو نه د استفادی او روغتیائی پالنی حق ، او د ولادت د رخصتی او د ولادت او ماشومانو د روزلو پوری تړلو نورو مسلو کی د ښځو د حقوقو د خوندی کیدل تائیدوی. د هغو هیوادونو نه چه سروی ګانی پکی شویدی فقط یوه هیواد، **مالیزیا**، د ۱۱ مادی سره احتیاط ښودلی؛ مګر ځو نورو لاسلیک کونکو، (لکه **اردن او لبنان**) ددی کنوانسیون مواد په قانون کی تطبیق کړی ندی. د قانون تطبیق هم یوه جدی ستونزه ده، په تیره بیا په هغو هیوادونو کی چه غیر رسمی کارونه پکی ډیر رواج دی.

## نمونه وی موارد

په ۲۰۰۴م کال کی د **مراکش** د مدوانه قانون سترو اصلاحاتو، د واده د اطاعت مفکوره زړه وبلله. نارینه خپلی ښځی د تعلیم او کار کولو نه نشی منع کولی، او ښځی بیخی آزاده دی چه کار وکړی. **۹۱** حتی په مدوانه ددی اصلاحاتو نه مخکی هم په مراکش کی د ښځو کاریګرو شمیر ډیر وو. په کال ۲۰۰۴ کی، ۴۱،۸٪ ښځی په مراکش کی په اقتصادی لحاظ فعاله وی. **۹۲** پداسی حال کی چه ډیری ښځی په مراکش کی په عامه خدماتو کی په کار لګیا وی، د مراکش دریمه برخه ډاکترانی، او ځلورو کی یوه برخه د پوهنتون پروفیسرانی دی. **۹۳**

**تونس** د کار کولو، او همدارنګه د مساوی او معادل معاش په برخه کی د ښځو حقوق تضمینوی. په کال ۲۰۰۳ کی قریب ۲۰۰۰ تجارتونه او شخصی کار بارونه د ښځو په لاس کی وو. **۹۴** په کال ۲۰۰۴ کی د تونس د ښځو ۳۷،۵٪ ښځی د کار په قوی کی شاملی وی، چه دا د MENA د سیمی په هیوادونو کی د ښځو دکارکولو تر ټولو لوی شمیر دی. **۹۵** تونس همدارنګه ښځی په جبری توګه د عسکری خدمت ته هم بیائی، او فکر کوی چه دا کار به د جنسونو تر مینځ مساوات ډیر او تقویه کړی.**۹۶**

---

۹۱ د ملګرو ملتونو انکشافی پروګرام، په عربی سیمی کی حاکمیت او اداری پروګرام (UNDP-POGAR) د هیواد شاخص: جنس - مراکش": http://www.pogar.org/gender.asp?cid=12, د کال ۲۰۰۵، د جون ۱۷

۹۲ د ملګرو ملتونو انکشافی پروګرام، د بشری انکشاف راپور۲۰۰۴ http://hdr.undp.org/statistics/data/ د کال ۲۰۰۵ د جون ۱۷

۹۳ د ملګرو ملتونو انکشافی پروګرام، په عربی سیمی کی حاکیت او اداری پروګرام (UNDP-POGAR) د هیواد شاخص: جنس - مراکش": http://www.pogar.org/gender.asp?cid=12, د کال ۲۰۰۵، د جون ۱۷

۹۴ د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، "د هیوادونو راپور د بشری حقوقو اعمال ۲۰۰۴ - تونس،" د کال ۲۰۰۵ د فبروری ۲۸.

۹۵ د ملګرو ملتونو انکشافی پروګرام، د بشری انکشاف راپور۲۰۰۴ http://hdr.undp.org/statistics/data/ د کال ۲۰۰۵ د جون ۱۷

۹۶ د ملګرو ملتونو انکشافی پروګرام، په عربی سیمی کی حاکیت او اداری پروګرام (UNDP-POGAR) د هیواد شاخص: جنس - مراکش": http://www.pogar.org/gender.asp?cid=12, د کال ۲۰۰۵، د جون ۱۷

**ترکیې** خپل اساسي قانون واړوو چه د کور د چارو اداره د میره او ښځي ګډ مسؤلیت وګرځوی او د کور د لګښت پیټی د نارینه داوړو نه واړوی او دواړو باندی ئی واچوی او دا کار ئی د هغو اصلاحاتو په لړ کی وکړی چه ددی سبب شول چه اروپائی اتحاد ئی په غړیتوب باندی غور وکړی. که څه هم چه ۵۱٪ ښځی د پام وړ اقتصادی فعالیتونو کی لګیا دی، ( دا دMENA د سیمی د هیوادونو تر ټولو صنعتی هیواد دی)، خو په صنعتی او خدماتی سکتور کی ښځی لا د نارینه و سره برابری ندی، او نارینه ته د ښځو په نسبت پدی سکتور کی د دوه برابرو نه زیات

ډیر کار پیدا کیږی. ۹۷ مګر، لیوالتیا پدی کی ډیره ده چه ښځی د کرهنی نه بغیر نورو کارو کی برخه واخلی. په کال ۱۹۸۰ کی په اقتصادی لحاظه د فعاله ښځو ۸۸٪ په کرهنی کی په کارونو بوختی وی؛ دا شمیر د ۱۹۹۰ لسیزی پوری ۶۵٪ ته لږ شویدی اود صنعتی او تولیدی

کارونو په سلو کی ۲۵ اوس ښځی کوی. ۹۸ د کال ۲۰۰۲ پوری په کرهنی کی د ښځو کار کول د۵۶٪ ته راټیټ شو. ۹۹ د ښځو تنخواه ګانی لا هم د نارینه وو په نسبت ډیری کمی دی. که څه هم چه دومره ډیر مثبت کار پدی برخه کی شوی، " لا هم ښځو ته د کار ورکولو او په کار په ځای د جنسیت په بنا د تبعیض د له مینځه وړلو لپاره مشخص حقوقی احکام نشته... او که څه هم چه په عین تولیدی کارونو، عین وظیفی او د کار عین ځای کی د عین کار لپاره نارینه او ښځی ته مختلف معاش ورکول منع دی، خو بیا هم د واقعی ارزیابی د یوه سیستم نشتوالی کی، چه دا پکی معلومه شی چه تولید مساوی دی، پخوانی تبعیضونه لا هم روان دی. ۱۰۰

پداسی حال کی چه د **مصر** قوانین عموما د کار په برخه کی ښځو په ګټه دی او په کار کی د ښځو او نارینه وو لپاره عین معاش ټاکی، په مصر کی د جنس په بنا تبعیض لا هم ډیر قوت کی پاتی دی، او ټولنیز فشارونه د کور نه بهر کار پیدا کولو کی د ښځی کلک مخالفت کوی. د مثال په ډول، که څه هم چه د کار یو نوی قانون په کال ۲۰۰۳ کی تصویب شو، او داسی الفاظ پکی دی چه د ښځی دکار کولو حق منی، مګر بیا هم ځینی مشخص ټولنیز توقعات هم منعکسوی. ښځی د ماښام د ۷ بجو نه وروسته او د سهار د ۷ بجو نه مخکی کار کولو نه منع دی. پدی برسیره، د هر استخدام کونکی نه چه غواړی ښځو ته کار ورکړی، تقاضا کیږی چه د هغوی حفاظت وکړی او د ترانسپورت وسیله ورکړی (۸۹ ماده). دا ټکی شاید د ښځو د استخدام په برخه محدودیتونه او ستونزی راولی۱۰۱

---

۹۷ والینتین م. مقدم. د ښځو عصری کول: په مینځنی ختیز کی د جنس او ټولنیز بدلون مسله. دویم چاپ. چاپونکی: لین راینر، بولدر کال ۲۰۰۳.

۹۸ والینتین م. مقدم. ۴۳ پاڼه.

۹۹ http://die.gov.tr/english/SONIST/ISGUCU/040603ie.html

۱۰۰ ښځی د بشری حقوقو د پاره ، http://www.wwhr.org/images/newlegalstatus.pdg , د کال ۲۰۰۵ د جون ۲۸

۱۰۱ د مصر د ښځو د حقوقو مرکز.

## د نورو مواردو څیړنه

. د مصر د خصوصی تجارتونو ۱۷٪ مالکان ښځی دی، او هغوی په نورو مسلکونو کی هم لکه، بانکداری، د پام وړ پرمختگ کړیدی او ډیری ښځی په لوړی اقتصادی طبقی کی دی او ډیری کامیابی تجارانی ، "وړی کاپیتالیستانی" دی. ۱۰۲ خو که څه هم چه د ښځو معاشونه په رسمی سکتور کی ( په کال ۱۹۸۸ کی د نارینه د معاش د ۷۰٪ نه په کال ۱۹۹۸ کی ۸٦٪ ته) لوړ شول، خو په غیر رسمی سکتور کی بیا معاشونه لږ شول ( په کال ۱۹۸۸ کی د نارینه د معاش د ۸۲٪ نه په کال ۱۹۹۸ کی ۵۳٪ ته). ۱۰۳

**د ایران** قانون "د اسلامی اصولو سره سم" ښځی او نارینه ته د اقتصادی حقوقو په گډون، مساوی دریځ او مساوی حقوق ورکوی.

---

۱۰۲ د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، د دیموکراسی، بشری حقوقو، او کار څانگه. "مصر." د هیوادونو راپورونه د بشری حقوقو د اعمالو په برخه کی - ۲۰۰۴. د ۲۰۰۵ د فبروری ۲۸. http://www.state.gov/g/drl/rls/hrrp/2004/41720.htm. "په مینځنی ختیز او شمال افریقا کی د ښځو حقوق، چاپونکی سمینه نظیر او لی تامپرت، د آزادی کور، ۷۰ پانه. دکال ۲۰۰۵ دجولای ۲۸، http://www.freedomhouse.orge/research/menasurvey/

۱۰۳ ل. جاش بایونز، او سارا گامیج، "آیا په پرمخ تلونکی نړی کی بهتره کاریگر د بهتره کارونو د مینځ ته راتلو سبب وگرځی،" د اقتصادی پالیسی انستیتیوت کال ۲۰۰۵، جدول نمبر ۸. http://www.epi.org/content.cfm/books_good_jobs جولای ۲۹، ۲۰۰۵

# د ښځو قانونی درېځ لرلو حق

د مینځنی ختیزد اکثره هیوادونو اساسی قوانین یوه جمله لری چه د ټولو اتباعو د مساوات تضمین کوی. مګر، په همدی هیواونو کی ښځی معمولا په عمل کی د مساوی حقوقو نه برخورداره ندی او معمولا ښځی خپلواک قانونی حیثیت نلری، چه د ټولو اتباعو تر مینځ د مساوات د ټینګولو لپاره لازمی دی.

**اهداف**

* دا ډاډینه چه د نارینه او ښځو لپاره اساسی مساوات لومړنی بنیادی ګام دی.

* روان حقوقی تبعیضونه باید د ښځو لپاره د ښځی حقوقی درېځ د ټینګولو له لاری لری کړای شی.

* د تبعیض نه پاک عدلی سیستم جوړ کړای شی، چه د قانون د عملی کولو مناسب طرزالعمل ولری.

* ښځو ته مساوی حقوق ورکړل شی چه تړونونه ختم او جایداد اداره کړای شی.

* د محاکمو په ټولو مراحلو کی د ښځی سره مساوی سلوک وشی.

**ستری ستونزی او تطبیق**

۱. **افغانستان، الجزایر، بحرین، لیبیا، عمان، د فلسطین خودمختاره اداری، قطر، سوریی، ترکیی** او **تونس** په خپلو اساسی قوانینو کی اعلام کړی چه "ټول اتباع مساوی دی او باید د جنس په بنا تبعیض ونه شی.". د **اردن، پاکستان، مصر، لبنان، مراکش، کویت، او د متحده عربی اماراتو او یمن** اساسی قوانینو کی په مشخځ ډول د جنس یادونه نده شوی، خو په ځای یی ویل شویدی چه ټول اتباع د قانون په وړاندی مساوی دی." ۱۰۴

۲. که څه هم چه د مساوات مفکوره د مینځنی ختیز د ټولو هیوادوو په ملی اساسی قوانینو کی راغلی ده ۱۰۵ ، خو په ټولی سیمی کی ښځی واقعا د حقوقی مساوات نه برخورداره ندی. د تابعت حقوق په غیر مساوی توګه تطبیقږی؛ په اکثریت هیوادونو کی، د عین جرم لپاره ښځو ته د نارینه وو په نسبت سخته سزا ورکول کیږی، او محکمو کی د د یوی ښځی شاهدی د نارینه د شاهدی د نیمائی حیثیت لری.

---

۱۰۴ د آزادی کور، د ښځو حقوق په مینځنی ختیز او شمالی افریقا کی: تابعت او عدالت. د کال ۲۰۰۵ د می ۲۰.

http://www.freedomhouse.orge/research/menasurvey د کال ۲۰۰۵ د جولای ۱۱.

۱۰۵ سعودی عربستان اساسی قانون نلری، ښځی د قانون په وړاندی مساوی ندی (ښځی د رای ورکولو، او د موټر چلولو حق اونور داسی حقوق نلری).

۳. حتی په هغو هیوادونو کی چه ښځی پکی په حقوقی لحاظ د نارینه وو سره مساوی هم دی، د قانون عملی کیدل اساسی سوال دی. **مراکش** چه پدی تازه کلونو کی یی په قانون کی ښځی د نارینه سره برابری کړی، لا هم عدم مساوات اود قانون د انفاذ ستونزی لیدل کیږی. د مراکش ښځی د خپلو قانونی حقوقو په تر لاسه کولو کی مشکلات لری، ځکه ددوی په وړاندی تبعیض شته او په عدلی سیستم کی ملاتړ نلری. په محکمو کی هغه قضیی چه د طلاق په باره کی وی ډیر وخت نیسی، او ښځی معمولا دا توان نلری چه هغه څه چه قانونا ددوی دی تر لاسه کړی، ځکه چه قانون په مناسب ډول نه عملی کیږی.

## کنوانسیونونه

د کال ۲۰۰۵ د مارچ د ۱۸ نه راپد یخوا، ۱۸۰هیوادونو ـ د ملګرو ملتونو د غړو ۹۰٪ هیوادونو ـ CEDAW لاسلیک کړی، او پدی توګه یی ځانونه مکلف کړیدی چه د هغی د ټکو خلاف هیڅ کار به نه کوی. ۱۰٦ د کنوانسیون ۱۵ ماده وایی:

أ. غړی هیوادونه باید په قانون کی ښځی او نارینه ته مساوی حیثیت ورکړی.

ب. غړی هیوادونه باید ښځو ته، په مدنی چارو کی، داسی حقوقی توان ورکړی چه د نارینه د توان سره معادل وی او ددی توان نه د کار اخیستو لپاره هم هماغسی فرصوته چه نارینه وو ته ئی ورکوی، ښځو ته هم ورکړی. په تیره بیا، ښځو ته باید د تړونو د ختمولو او د جایداد د اداره کولو مساوی حق ورکړل شی اود محکمو په هره سطحه کی باید مساوی سلوک ورسره وشی.

ت. غړی هیوادونه دا منی چه ټول تړونونه او ټول نور خصوصی وسیلی چه هر رنګه حقوقی بنه ولری او د ښځو قانونی توان مقید او محدود کړی، باید فسخ او له مینځه ویوړل شی.

ث. غړی هیوادونه باید ښځی اونارینه ته ، د تګ راتګ ، او د اوسیدو د ځای د ټاکنی په قانون کی عین حقوق ورکړی.

۲. د MENA د سیمی اکثر هیوادونو دغه کنوانسیون لاسلیک کړیدی او باید دهغه ټکی عملی کړی.

### نمونه وی موارد

د مراکش باچا پدی تازه وختونو کی د ښځو حقوقی وضعی کی اصلاحات راوستل، او د ښځی دا حقوقی تعریف یی چه د نارینه نه کمه ده له مینځه ویوړ او په قانون کی یی مساوی اعلان کړی. د خپل هیوادو پارلمان ته په یوی وینا کی، باچا، شپږم محمد وویل، "یوه ټولنه څنګه کولی شی چه په مخه لاړه شی، چه ښځی یی چه د ملک نیمائی وګړی دی، ګوری چه حقوق یی د پښو لاندی کیږی. او د بیعدالتی، تشدد، او انزوا نه کړیږی، او دهغه کرامت او عدالت نه خوند نه اخلی چه زمونږ شانداره دین ورته ورکړی دی." ۱۰۷-

۱۰٦ د ښځو په ضد د هر رنګه تبعیض د له مینځه وړلو کنوانسیون. ملګری ملتونه.
http://www.un.org/womenwatch/daw/cedaw/reports.html#s [د ۲۰۰۵ د جولای ۱۸]

۱۰۷ IRI جمهور رئیس بوش په عراق او مینځنی ختیز کی آزادی باندی غږیږی. د کال ۲۰۰۳ د نومبر ٦
http://www.iri.org/11-6-03-wp.asp د ۲۰۰۵ کال د جولای

دوارو جنسونو ته مساوی حقوق....

| هیواد | په قانون کی تضمین شوی؟ ا | د شریعت استثنا؟ |
|---|---|---|
| الجزایر | هو (اساسی قانون، ۲٦ ماده) | مشخص نده ب |
| مصر | هو (اساسی قانون، ۱۱ ماده) | هو (اساسی قانون، ۱۱ ماده) |
| اندونیزیا | نه | مشخص نده ب |
| ایران | هو (اساسی قانون، ۲۰ ماده) | هو (اساسی قانون، ۱۱ ماده) |
| اردن | نه | مشخص نده ب |
| لبنان | نه | نه ت |
| مالیزیا | نه | مشخص نده ب |
| مراکش | هو (اساسی قانون، ۵، ۸ مادی) | مشخص نده ب |
| پاکستان | هو (اساسی قانون، ۲۵ ماده) | غیرمستقیم (اساسی قانون، ۲۲۷ ماده) |
| سوریه | نه | مشخص نده ب |
| تونس | نه | مشخص نده ب |
| ترکیه | هو (اساسی قانون، ۱۰ ماده) | نه |

ا تول هغه هیوادنه چه سروی پکی شویده د تولو اتباعو لپاره مساوی حقوق تضمینوی؛ د "هو" معنی دا ده چه د هغوی د مساوی حقوقو حکم په مشخص ډول جنس یادوی او وایی چه د جنس په بنا تبعیض مجاز ندی.

ب دا برخه د اسلامی قانون لپاره مشخصه استثنی نلری، خو د قانون نوری برخی یا د اساسی قانون نوری برخی داسی تعبیریدای شی.

ت د لبنان کورنی قوانین فرقه ئی دی؛ په اساسی قانون د شریعت لپاره استثنی نشته، خو هغه کورنی قوانین چه مسلمانان یی لری د ښځی ا ناریبنه تر مینځ توپیر راولی.

د **تونس** د شخصی دریځ قانون ښځو ته ټول حقونه او بشپړ حقوقی دریځ ورکړی دی (هغوی پرړدی چه شخصی کار بار او تجارت ولری او ویی چلوی، بانکی حسابونه ولری، او په خپل واک ځانته پاسپورت واخلی). ۱۰۸

په **لبنان کی** یو عام مدنی قانون، تضمین کوی چه ښځی کولی شی چه تجارت او شخصی کارو بار ولری او په محکمه کی به دهغوی شاهدی ته د نارینه دشاهدی سره یو برابر وزن ورکړل شی.

**الجزایر** نه په خپل مدنی قانون کی او نه هم په جنائی قانون یوه کی هم داسی احکام نلری چه د ښځی او نارینه تر مینځ توپیر او تبعیض وکړی. " د اساسی قانون ددی اصل کلک درناوی کیږی چه د جنسونو تر مینځ مساوات دی، او کله چه د مدنی او سیاسی حقوقو خبره راشی: ښځی د اتباعو په حیث بشپړ دریځ لری... د نارینه وو په څیر، ښځی هم بشپړ حقوقی توان لری او کولی شی چه ددی توان نه په آزادی سره کار واخلی.... هغوی حق لری چه هر رنګه جایداد واخلی، اداره ئی کړی، ترینه کار واخلی او یا ئی خرڅ کړی او حق لری چه تړونونه او تجارتی اسناد لاسلیک کړی...." ۱۰۹

---

۱۰۸ دامریکا د بهرنیو چارو وزارت. پټ یاداشت: تونس. http://www.stste.gov/r/pa/ei/bgn/5439.htm [د ۲۰۰۵ د جولای ۱۱]

۱۰۹ ملګروملتونو ته د الجزایر دایمی نمایندګی : CEDAW ته د الجزایر ۲ راپور. د کال ۲۰۰۵ د جنوری ۱. http://www.algeria-un.org/default.asp?doc=2171 [۲۰۰۵ د جولای ۱۱]

## د تحرک او حرکت حق

د تحرک حق ځو اړخونه لري او د ښځو د ژوند په کیفیت او څرنګوالی باندی ، او همدارنګه د هغوی په اساسی بشری حقوقو باندی اثر اچوی. اکثرا د مهاجرت او د تیښتی فیصلی د کورنی د ښځینه غړو سره د سلا مشورو نه پرته کیږی، او هغوی مجبوره کیږی چه خپله کورونه او خپل کورنی ماحول پریږدی، حال دا چه شاید ونه غواړی چه لاړی شی او تلل د هغوی په ګټه نه وی. اکثرا په ملک کی دننه سفر باندی حتی د خپل کور نه وتلو باندی قیودات او محدویتونه پری لګیږی. په نهایت کی د ملک نه د وتلو حق ئی او حتی د سفر شخصی اسنادو د تر لاسه کولو حق ئی ښځی چه د کورنی د کوم نارینه غړی یا میره په اجازی پوری تړلی وی.

دا ټول کارونه د مساوات د حقوقو، اود ښځی د مساوی تابعت د دریځ نه، او د شخصی حرکت د آزادی د حق نه تیری دی. همدارنګه دا د هغو ټولنو د تعلیمی او اقتصادی پرمختګ مخه هم نیسی چه داغسی قیودات منی او زغمی.

**اهداف**

* ښځو ته د ځان نه د نمایندګی کولوحق په رسمی او د سفر اسنادو کی باید تضمین شی

* ښځو ته توان ورکړل شی چه په آزاد ډول او په خپلواکه توګه د سفر بند وبست وکړی

* دا ډاډ حاصل شی چه ښځه په هغو فیصلو کی مساوی غړ ولری چه د کورنی د حرکت او د اوسیدو د ځای د ټاکنی په باره کی کیږی.

**ستری ستونزی**

۱. لکه څنګه چه ملګرو ملتونو د مهاجرت او تحرک څنګه او څه اثر په ښځو اچوی په باب رپوټ کی لیکلی دی، "د تحرک اود اقتصادی او شخصی ودی توان او آزادی د ټولو حق او د ښځو لپاره د پرنختګ د فرصتونود لټولو اساسی منبع ده." ۱۱۰

۲. په ډیرو اسلامی هیوادونو کی، د یوی ښځی دا حق چه سفر وکړی د هغی د میره د غوښتنو له امله مقیدیږی. په **ایران** کی، واده شوی ښځی باید د ملک نه دوتلو نه مخکی د خپل میره لیکلی اجازه وښیی. ۱۱۱ ثقافتی معیارونه یو بل اضافی او غیر قضائی خند ښځو ته پیښوی. نه یوازی دا چه د ښځومستقلانه سفر باید قانونی شی، بلکه په ثقافتی لحاظ باید د منلو وړ وګرځی.

---

۱۱۰ ملګری ملتونه د ښځو د پرمختګ څانګه. مهاجرت او تحرک څنګه په ښځو باندی اثر کوی.
http://www.un.org/womenwatch/daw/meetings/consult/Sweden03.htm [د ۲۰۰۵ د جولای ۱۸]

۱۱۱ http://www.state.gov/g/drl/rls/hrrp/2004/41721.htm

۳. د رسمی اسنادو تر لاسه کول او لرل معمولا یو بیروکراتیکی/اداری خنډ او مشکل وی. ښځی د پاسپورت په تر لاسه کولو او لرلو کی د ستونزو سره مخامخ کیدای شی. ۱۱۲ په **سوریه** کی یو میړه کولی شی چه خارج ته د خپلی ښځی د سفرد ممانعت غوښتنه وکړی. ۱۱۳ په **اردن** کی ښځی د پاسپورت اخیستو لپاره د میړه اجازی ته اړتیا لری. په **مراکش** کی، که څه هم چه ښځی تش په نامه د بشپړ تابعت حق لری، درسمی اسنادو دفترونه لاهم کولی شی چه د د ځینی اسنادو ورکولو لپاره نارینه شاهد وغواړی، لکه د واده دا د اولاد ثبوت. ۱۱۴ ښځی باید دا حق ولری چه د سفر د اسناد دتر لاسه کولو درخواستی ورکړی او دا توان باید ولری چه دا کار بی د خوف او بی لدی ویری وکړی چه درخواستی به له یوی مخی رد شی.

۴. د اولادونو سفر باندی د قیوداتو لګول هم د ښځو د حقوقو محدودول دی. په **تونس** کی، یوه ښځه بالکل آزاده ده چه په ملک کی دننه او بهر سفر وکړی، خو د ملک نه بهر د خپلو اولادونو د بیولو لپاره باید د هغوی پلار اجازه ولری.۱۱۵

## تطبیق

۱. د حقوقی بدلونو تطبیق معمولا د منلو وړ تولنیزو معیارونو پوری تړلی وی. که څه هم چه په اسلامی هیوادونو کی ډیرو قوانینو د یوه خاص عمر لرونکو ښځو د سفر په حق باندی قیودات سست کړیدی، خود ثقافت تمه دا ده چه ښځه باید یوازی سفر ونکړی. په همدی توګه، که څه هم چه **مصر** کی ناواده شوی مجرده ښځی چه عمر ئی د ۲۹ کلونو نه ډیر وی، په تخنیکی لحاظ مجبوره نده چه د سفر اجازه ولری، خو د قانون ددی ټکی تطبیق د یوه ځای نه د بله پوری فرق لری.۱۱٦

۲. په سفر باندی د محدودیتونو د لګولو په مسلی کی سیمه ډیراثر لری. د **پاکستان** په ځینو سیمو کی، ښځی مجبوره دی چه د ژوند غته برخه په کور کی دننه تیره کړی. ددی قاعدی یوه استثنی په ډیروغریبو سیمو کی لیدل کیږی، اوهلته د ښځی نه غوښتل کیږی چه د کورنی د ګذران دپاره ورځنیو کارونو کی برخه واخلی.۱۱۷ خوددی دود ډیره لویه وجه قانون نه بلکه دود دستور دی.

---

۱۱۲ کال ۲۰۰۴ دامریکا د بهرنیو چارو د وزارت د بشری حقوقو راپورونه.

۱۱۳ عین منبع، سوریه.

۱۱۴ د آزادی کور، "په هیوادونو کی د ښځو د حقوقو د سروی راپور؛
http://www.freedomhouse.orge/research/menasurvey

۱۱۵ د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، د دیموکراسی، بشری حقوقو، او کار څانګه. "د مذهب د آزادی نړیوال راپور کال ۲۰۰۴: تونس": http://www.state.gov/g/drl/rls/irf/2004/35509.htm. , د کال ۲۰۰۵ د اګست ۳.

۱۱٦ د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، د دیموکراسی، بشری حقوقو، او کار څانګه.

۱۱۷ د فدرالی څیړنی څانګه؛ د کانګرس کتابتون؛ "پاکستان، د یوه هیواد څیړنه؛" http://womenhistory.about.com/library/ency/blwh_pakistan+gender.htm

۳. د سيمه ايز تطبيق موضوع د سفر په اړه په خاصه توګه ډيره مهمه ده. ښځې چه د يوی سيمی نه اوځی، چه هلته سفر مجاز وی، ښائی د يوی بلی سيمی نه تيره شی چه هلته، مجاز نه وی. خارج ته د سفر اجازه لزوما ددی معنی نلری چه په کور کی به هماغسی آزادی لری؛ د سفر قيودات په هيوادونو کی دننه د يو ځايه تر بله پوری فرق لری، او دکورنی فشار يا د دود دستور فشار معمولا ښځی د ميره خوښی ته پريږدی.

**د بدلون په لور تمايلات**

۱. د MENA د سيمی د يو شمير هيوادونو اساسی قانون کی د حرکت او تګ راتګ آزادی نغښتل شويده او مساوات پکی نه يوازيد جنسونو تر مينځ بلکه د ښځی ميره تر مينځ هم مشخص شويدی. دا دغه مفکوره چه ګنی نارينه "د کور مشر" دی او يو اړخيزه فيصلی کوی، له مينځه وړی.

۲. خو بيا هم نور هيوادونه، لکه **مصر او اردن** د داسی سيستم په لور روان دی چه ښځو ته په تګ راتګ کی لا ډيره خپلواکی ورکوی او پريږدی ئی چه په آزاد ډول سفر وکړی. مګر د يوه پاسپورت اخيستل لا هم د ميره يا د پلار لاسليک غواړی. څرګنده ده چه دا خبره د مساوات، مساوی تابعت او آزاد تګ راتګ د اصولو سره تضاد لری.

**د تګ راتګ او حرکت حقوق: لنديز**

| هيواد | د سفر لپاره لازمه اجازه |
|---|---|
| الجزاير | واده شوی د ۱۸ کلنی نه وړه [۱] |
| مصر | نا واده او د ۲۱ کلونو نه وړه |
| اردن | نارينه خپلوان اجازه، د پاسپورت لپاره |
| سوريه | ميره کولی شی مخنيوی ئی وکړی |
| تونس | نه |
| ترکيه | نه |

[۱] د ۱۸ کلنی نه وړی ښځی په معمولا اجازه نلری چه په الجزاير کی واده وکړی خو ولی شی چه د قاضی په اجازه دا کار وکړی.

## کنوانسیونونه

۱. د مهاجرو او مسافرو حقوق په ډیرو نړیوالو اسنادو کی نغښتی دی. د بشری حقوقو نړیواله اعلامیه وایی چه هر شخص دا حق لری چه د خپل اصلی ملک نه ووځی او بیرته ورشی، او پناه وغواړی - او که ورکړل شی ویې منی. ۱۱۸

۲. په اساسی بشری حقوقو کی، د ژوند، آزادی او امنیت حق؛ په غلامی او نوکری کی د نه ساتل کیدو حق؛ د په خپل سر بندی کیدو، توقیف یا تبعید حق؛ د تګ راتګ د آزادی او د هر دولت په سرحکی دننه د اوسید حق؛ د واده کولو او کورنی جوړولو حق؛ او د کار، د استخدام د انتخاب او په کار کی د عادلانه او ښو شرایطو د لرلو حق شامل دی. کله چه د یوی ښځی د خپلواکه او آزاد تګ راتګ حق په خپل سرمحدود کړای شی، دا ټول حقوق په خطر کی لویږی.

د مثال په ډول د طالبانو دا غوښتنه چه په عام محضر کی دی د ښځی سره یو محرم، یا یو نارینه ولی او ساتونکی وی، نه یوازی دا چه ستونزی پیښی کړی، بلکه ښځی یی د طبی علاج د تر لاسه کولو، د خواړو د اخیستلو، او په تیره بیاد کونډو په برخه کی د ځان او په ځان پوری تړلو خلکو ته د نفقی پیدا کولو لپاره د کار کولو نه منع کړی. همدارنګه، یوه نارینه ته دا حق ورکول چه د خپلی میرمنی بندیوان شی، د کور نه د هغی د وتلو یا نه وتلو واک ولری، هم د ښځی مدنی حقوق د پښو لاندی کوی هم د هغی اساسی بشری حقوق او په یوی ډیموکراتیکی کورن کی د ښځی/میره اود جنس د مساوات او برابری داصل سره اړخ نه لګوی.

۳. CEDAW همدارنګه یو شمیر احکام لری چه مهاجرو ښځو باندی د تطبیق وړ دی. د ټولو نه مستقیم مربوط حکم کی په ۱۵(۴) مادی کی راغلی، چه غواړی چه نارینه او ښځی دی دآزادی تګ راتګ اود اوسیدو دپاره د خپل خوښی ځای په ټاکنی کی عین حقوق ولری. مګر د MENA د سیمی ډیرو دولتونو، ددی مادی د حکم نه د ځان خلاصولو لپاره د استثنأتو درخواستی ورکړی دی.۱۱۹ د نورو حکمونو تر څنګ، CEDAW غواړی چه د جنس د رول مسله دی له مینځه لاړه شی، د ښځو قاچاق دی بند او د فواحشو استثمار دی ختم، او په کار او وظیفی او تابعت کی دی تبعیض خلاص شی. ۱۲۰

---

۱۱۸ ملګری ملتونه. د بشری حقوقو نړیواله اعلامیه. http://www.un.org/overview/rights/html [د ۲۰۰۵ د جولای په ۱۸]

۱۱۹ الجزایر، بحرین، اردن، مراکش، سوریه او تونس د ۱۵ مادی ۴ پاراګراف د منلو نه دمعافیت رخواستی ورکړیدی، او څو نورو هیوادونو په عمومی توګه د هری هغی مادی د تطبیق نه دمعافیت درخواستی کړیده چه د شریعت سره تضاد لری.
www.un.org/womenwath/aw/cedaw/text/econvention.htm

۱۲۰ ملګریملتونه د ښځو د پرمختګ څانګه. د ښځو په ضد د هر رنګه تبعیض ختمولو کنوانسیون. [د ۲۰۰۵ د جولای ۱۸]

http://www.un.org/womenwatch/daw/cedaw

## نمونه وی موارد

په **الجزایر** کی ، اساسی قانونی د تگ راتگ د آزادی اود اوسیدو د ځای د انتخاب د آزادی د اصولو حفاظت کوی، او وایی چه ټول اتباع دا حق لری چه د خپل اوسیدو ځای په خپله وټاکی، او په ملی قملرو کی آزادانه تگ راتگ وکړی. همدا ماده د ملی قلمرو نه د وتلو او بیرته راتلو تضمین هم کوی. د تگ راتگ آزادی په جمعی توگه نارینه او ښځو، دواړو په برخه کی بی د هیڅ رنگه تبعیض نه صدق کوی.۱۲۱

په **تونس** کی اساسی قانون په ملک دننه د تگ راتگ او حرکت آزادی او همدارنگه د ملک نه بهر سفر آزادی تقاضا کوی او دجنس مسله پکی مطرح نده. ۱۲۲

په ۲۰۰۲م کال کی په **ترکیه** کی پارلمان د مدنی حقوقو یو قانون تصویب کړ، چه غواړی چه خارج ته د ښځو سفر کول آزاد او بی خنده وی، او پاسپورټونه او مناسب اسناد باید موجود وی. او په ترکیه کی دننه ددی قانون تطبیق شاید چه د یوه محل نه تر بله پوری فرق ولری.۱۲۳ دا کار د ترکیی داصلاحاتو نر اړخونه تقویه کوی، لکه د تعلیم او د کار کولو د حق مسله، او نه یوازی دا چه پداغسی فعالیتوو کی لاس لرل مجاز بولی، بلکه دا قابلیت هم لری چه دغسی خدمتونه خلکو ته په کورونو کی هم برابر کړی.

---

۱۲۱ ملگرو ملتونو کی د الجزایر دایمی نمایندگی: CEDAW ته د الجزایر ۲ راپور. ۲۰۰۵ د جنوری ۱.

http://www.algeria-un.org/default.asp?doc=2171 د ۲۰۰۵ کال د جولای ۱۱]

۱۲۲ د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، د دیموکراسی، بشری حقوقو، او کار څانگه. "تونس". په بشری حقوقو کی د کړو وړو په باب د هیواونو راپور. http://www.state.gov/g/drl/rls/hrrpt/2004/41733.htm. , د کال ۲۰۰۵ د جولای ۱۸.

۱۲۳ ښځی ی ښځو د حقوقو لپاره؛ "پهترکیی کی د ښځو نوی حقوقی دریځ"؛ http://www.wwhr.org/images/newlegalstatus.pdf

## نور موارد

په **پاکستان** کی، کله چه ښځی د میړه د رضا نه پرته د سفر یا تګ راتګ تکل کړی، عالی محکمی په دوامدار ډول، د ښځو د خپلواکی د حقوقو ساتنه کړی ده. ۱۲۴

په **مصر** کی نا واده ښځی چه عمرونه یی د ۲۱ کالو نه لږ وی، باید چه د خپلو پلرونو اجازه ولری چه پاسپورټ واخلی یا سفر وکړی. واده شوی ښځی دغسی اجازی ته اړتیا نلری. ۱۲۵

په **اردن** کی، دواړه هم واده شوی او هم نا واده ښځی اوس د میړه یا ولی لاسلیک ته اړتیا لری چه پاسپورټ واخلی، خو ددی حکم د اړولو لپاره هلی ځلی پیل شویدی.

---

۱۲۴ په خپلو حقوقو خبر یو: ښځی، کورنی ، قوانین او دود دستور په اسلامی هیوادونو کی،" ښځی چه د اسلامی قوانینو لاندی ژوند کوی، ۱۵۸ پانه، ۲۰۳۳، لندن: برتانیه

۱۲۵ د امریکا د بهرنیو چارو وزارت، د دیموکراسی، بشری حقوقو، او کار څانګه. "مصر".په بشری حقوقو کی د کړو وړو په باب د هیوادونو راپور. ۲۰۰۴: .http://www.state.gov/g/drl/rls/hrrpt/2004/41720.htm , د کال ۲۰۰۵ د جولای ۱۵.

# اوسیدونکی تبعه

په زیاترو اسلامی هیوادونو کی، د نارینه او ښځو لپاره ځانګړی قوانین د تګ راتګ او بشپړ تابعیت په باره کی شته دی. پداسی حال کی چه ښځی د "تبعه" د نامه یا لقب لرلو حقوقی حق لری، په اکثره هیوادوو کی نارینه د تبعه یا دهغه ملک د یوه اوسیدونکی په توګه اولادونو او ښځی ته د تابعیت د انتقال صلاحیت لری.

**اهداف**

* ښځو ته د تابعیت د مساوی او بشپړو ګټو تاکنه، اولاد او میره ته د تابعیت د انتقال په ګډون.

**ستری ستونزی**

۱. د MENA د سیمی په اکثره هیوادونو کی، نارینه کولی شی چه خپلی میرمنی ته تابعیت انتقال کړی، خو هغه ښځی چه د بهرنیانو سره ودونه کوی، نه شی کولی چه تابعیت هغوی ته یا هم خپلو اولادونو ته انتقال کړی. د **لبنان** په قانون کی، چه د سیمی یوه ښه نمونه ده، هغه اولادونه چه د یوه ملک د تبعه ښځی او بهرنی میره نه پیدا دی، د تابیعت مستحق ندی؛ مګر دغسی ښځه کونده شی کولی شی چه خپلو صغیرو اولادونو ته خپل تابیعت انتقال کړی. ۱۲۶ په **اردن** کی واده شوی ښځی په قانونی لحاظ حق نلری چه تابیعت خپلو ماشومانو ته ولیږدوی. پدی برسیره، ښځی نه شی کولی چه د خپلو میرونو لپاره چه د ملک تبعه نه وی د ملک تابیعت واخلی. ۱۲۷ په شدید مواردو کی، لکه په **متحده عربی اماراتو** کی، که یوه ښځه وغواړی د داسی چا سره واده وکړی چه د فارس د خلیج د سیمی تبعه نه وی، خپل تابعیت هم دلاسه ورکوی. دغسی قوانین اولادونو ته دا مشکلوی چه د نورو مسلو تر څنګ، عامه ښونځیو ته لاړ شی او یا هم طبی علاج تر لاسه کړی. د دغسی امتیازاتو د تر لاسه کولو لپاره، میندی پلرونه باید د اولادونو لپاره د اقامی اجازه واخلی، حتی که اولادونه د خپلی مور په ملک می زیږیدلی هم وی، او ټول ژوند ئی هملته تیر کړی هم وی. دغسی پالیسی په نهایت کی یوی ښځی ته چه خارجی سړی سره ئی واده کړی وی سزا ورکوی. ۱۲۸

---

۱۲۶ د دیموکراسی، بشری حقوقو او کار اداره. ۱۳ پانه.

۱۲۷ کال ۲۰۰۴ د امریکاد بهرنیو چارو د وزارت د بشری حقوقو رپوټونه.

۱۲۸ په مینځنی ختیز او شمالی افریقا کی د ښځو حقوق: تابیعت او عدالت، سمینه نظیر او لی امپارت، د آزادی کور، ۲۰۰۵، ۵-۶ پانی.

۲. که څه هم چه په یو شمیر هیوادونو کی په مدنی او کورنی قوانینو اصلاحات راوستل شویدی، معمولا زاړه او پخوانی قوانین د تابعیت په برخه کی حاکم دی. د مثال په ډول، که څه هم **مراکش**، په کال ۲۰۰۴ کی په قانون جوړولو کی ستر اصلاحات تصویب کړل، د تابعیت ځینی مسلی لا هم د ملیت د قانون له لاری چه په ۱۹۵۸ کی تصویب شوی وو فیصله کیږی، اود میندو دا توان چه خپلی تابعیت خپلو اولادونو ته هم ولیږدوی، مقیدوی. ۱۲۹

۳. تقریبا ټولو عربی هیوادونو CEDAW تصویب کړیدی، خو ډیرو ئی د کنوانسیون د ۹ مادی په ۲ پاراگراف کی احتیاط او منلو کی ئی استثنا ښودلی، او هغه پاراگراف وایی:

غړی هیوادونه باید د اولادونو د تابعیت په ارتباط ښځو ته د نارینه وو سره مساوی حقوق ورکړی.۱۳۰

دغسی احتیاط پدی خبری ولاړ دی چه گڼی دا حکم د شریعت سره تضاد لری. مگر دا ښکاره نده چه کوم تضاد دی موجود وی. شریعت د تابعیت د مسلی نه ډیر وړاندی راغلی دی او پدی باره کی چه ملیت او تابعیت څنگه انتقال شی څه نه وایی. داسی نظر شته چه اولادونه د پلار په دین او لاری ځی، او ځینی عالمان همدا خبره داسی تعبیروی چه گڼی پدی کی د تابعیت موضوع هم شامله ده.۱۳۱ نور هیوادونه، لکه **مصر او کویت**، ددی مادی په ارتباط د ټکنیتوب په ښودلو کی د شریعت مسله نه یادوی خو د ملیت او تابعیت موجوده قانون ته اشاره کوی، چه په هغه کی تابعیت یوازی د پلار نه اولاد نه انتقالیږی. د دی مادی په ارتباط د مصر په لیک کی راغلی دی چه "دا څرگنده ده چه د پلار د تابعیت اخیستل اولاد ته د ټولو نه مناسبه خبره ده." ۱۳۲ او هیڅ شواهد ئی ندی ورکړی چه ولی "څرگنده" ده.

۴. هغه قوانین چه اولاد ته د خپل تابعیت په لیږدولو کی د ښځی توان محدودوی، " داسی یو لړ حقوقی خبری دی چه د تبعیض د ثقافت او دود دستور ساتنه کوی او ټولنیزه بیداری پدی استقامت بیائی چه ... ښځه ددی اساسی حق نه محروموی چه یوه بشپړه تبعه ئی باید ولری."۱۳۳ او دغه حقوقی مسایل همدارنگه ژوند د غسی اولادونو او کورنیو ته سختوی.

---

۱۲۹ د آزادی کور؛ "په هیوادونو کی د ښځو د حقوق د وضعی په باب راپورونه؛ http://www.freedomhouse.org/research/menasurvey

۱۳۰ د ښځو په ضد د هر رنگه تبعیض د ورکولو کنوانسیون:

,http://www.un.org/womenwatch/daw/cedaw/text/econvention.htm#article9

د ۲۰۰۵ کال د جولای ۲۸. مصر پدی باره د خپل احتیاط د څرگندولو سره سره، لکه څنگه چه لاندی وویل شول،اوس ښځی پریږدی چه خپل تابیعت خپلو اولادونو ته ولیږدوی.

۱۳۱ بینانی او معادی. "د یوی ښځی د اولادونو تابعیت".

۱۳۲ , http://www.un.org/womenwatch/daw/cedaw/reservations-country.htm hکال ۲۰۰۵ د آگست په ۳ اخیستل شوی.

۱۳۳ فریده بینانی او زینب معادی. " د ځیرنی نتیجه: د یوی ښځی د اولادونو تابعیت، د اسلامی هیوادونو د عقیدو اواصولو او د نړیوالی ټولنی د اصولو په ارتباط،" د ملگروملتونوانکشافی پروگرام. په عربی سیمی کی د حاکمیت پروگرام ,(UNDP-POGAR) http://www.pogar.org/publications/gender/nationality/nationality.pdf , کال ۲۰۰۳ ، ۲ پانه.(د ۲۰۰۵ د جولای په ۲۷ اخیستل شوی.)

| هیواد | اولادونه | میره | په CEDAW 9-2 کی تکنیتوب |
|---|---|---|---|
| | ښځی تابعیت ... ته انتقالوی | | |
| الجزایر | نه | نه | هو |
| مصر | نه | نه | هو |
| اندونیزیا | | | نه |
| ایران | نه | نه | لاسلیک کړی ندی |
| اردن | نه | نه | هو |
| لبنان | یوازی کونډی | نه | هو |
| مالیزیا | | | نه |
| مراکش | که اقامه ولری | نه | هو |
| پاکستان | | | نه ا |
| سوریه | | | هو |
| تونس | که اقامه ولری | نه | هو ا |
| ترکیه | هو | نه ب | هو |

ا پدی برسیره، د هیواد د اساسی قانون سره د تضاد په ارتباط هم عمومی اندیښنه شته.

ب ترکی ښځی چه خارجی نارینه سره واده وکړی، په حقیقت کی خپل تابعیت د لاسه ورکوی.

## د بدلون په لور تمایلات

۱. په **کویت** کی، ښځو د کال ۲۰۰۵ د می په میاشتی کی د رایو ورکولو حق تر لاسه کړ. د تابعیت په برخه د هغو حقوق لا هم د تعریف په حال کی دی.

۲. هغه هیوادونه چه غواړی د خپلی یوی تبعه ښځی اولادونه چه پلار ئی بهرنی وی، وساتی، د تابعیت قوانین نرموی تر څو ښځو ته دا حق ورکړل شی چه یوازی د بشپړ تبعه په نامه یاده نه شی بلکه امتیازات ئی هم ولری چه وکړای شی خپله تابعیت خپلی کورنی او اولادونو ته هم ولیږدوی. دمثال په ډول، په کال ۲۰۰۴ کی د **مصر** د تابعیت قانون کی تعدیل راوستل شو، تر څو ښځو ته اجازه ورکړل شی چه خپل تابعیت خپلو اولادونو ته انتقال کړی. دا به د مصری ښځیواو خارجی

میرونو اولادونو ته توان ورکړی چه په عامه ښونځیو کی سبق ووایی، د مصر په پوځ او پولیسو کی خدمت وکړی، او د تابعیت د نورو امتیازاتو نه چه ورته نه ورکول کیدل خوند واخلی. ۱۳۴

**نمونه وی وموارد**

**ترکیه** کی د ښځی نه میره ته د تابعیت د انتقال اجازه شته خو یو اوږد اداری جریان باید تیر کړی، مګر که یو میره وغواړی چه خپلی خارجی ښځی ته خپل تابعیت ورکړی، هغه جریان بیا ډیر لنډ دی.

په **تونس** کی، د تابعیت قانون په ۱۹۹۳ کی تعدیل شو تر څو اولادونو ته د تابعیت د انتقال په ارتباط میندوډیر حقوق ورکړل شی. اوس قانون یوه اولاد ته چه د تونسی مور او خارجی پلار نه پیدا وی اجازه ورکوی چه د تونس تبعه شی، پدی شرط چه اولاد او یا مور او پلار دواړه مخکی لدینه چه اولاد بالغ شی دا غوښتنه وکړی، او یا پلار ددی غوښتنی سره مخالفت ونلری.۱۳۵

د کال ۲۰۰۴ نه راپدیخوا، **مصر** هم یوی ښځی ته چه میره ئی خارجی وی اجازه ورکوی چه خپل تابعیت خپلو اولادونو ته ولیږدوی. د مصر د تابعیت قانون تقریبا یو میلیون تنه خلک چه په مصر کی اوسیږی، تازه د تابعیت مستحق وګرځول. دا قانون یو کال وخت ورکوی چه د هغه په ترڅ کی خلک د تابعیت د اخیستو درخواستی ورکولی شی، خو ددی قانون په تطبیق کی د پام وړ ستونزی شته دی. ۱۳٦

په **مراکش** کی، ښځی کولی شی چه خپل تابعیت خپلو اولادونو تهانتقال کړی که اولادونه یی په مراکش کی زیږیدلی وی او بلوغ ته د رسیدلو نه دوه کاله مخکی د تابعیت د اخیستو درخواستی ورکړی.۱۳۷

د **عراق** د اساسی قانون مسوده کی راغلی دی چه ښځی او نارینه دواړه کولی شی چه خپل تابعیت خپلو اولادونوته انتقال کړی.

---

۱۳۴ ریم لیلا، "آخر تبعه شول"، هفته ایزه خپرونه الاهرام، په انترنیت کی، د کال ۲۰۰۴ جولای http://weekly.ahram.org.eg/2004/697/eg10.htm.۷ د کال ۲۰۰۵ د آګست په ۳ اخیستل شوی.

۱۳۵ د آزادی کور، "د ښځو د حقوقو سروی، د هیوادونو راپور: تونس،" ۲۹۷ پانه.

http://www.freedomhouse.org/research/menasurvey/, د کال ۲۰۰۵د آګست په ۳ اخیستل شوی؛ مسیت، مانیکا، "میندی، په عربی نړی کی احساس کوی چه په خپلو کورنو کی بندیانی دی،" ډیلی ستار،

http://www.amanjordan.org/english/daily_news/wmview.php?ArtID=4115، د کال ۲۰۰۵ د آګست په ۳ اخیستل شویدی.

۱۳٦ ریم، "آخر تبعه شول".

۱۳۷ د آزادی کور، "د ښځو د حقوقو سروی، د هیوادونو راپور:مراکش،"

http://www.freedomhouse.org/research/menasurvey/

# کور کی زور زیاتی او تشدد

په کور کی زور زیاتی او تشدد په ټولی نړی کی یوه ستونزه ده، که څه هم چه معمولا یی راپوررونه پدی نه ورکول کیږی چه، شخصی ځایونو کی پیښیږی، د جنس په لحاظ د زور زیاتی قربانی د ټولنیزو فشارونو لاندی وی، او د ښو قوانینو او مقرراتو نشتوالی او د قانونی سزاوو نه تطبیقیدل. ځینی مسلمانان پدی عقیده دی چه اسلام د ښځو وهل ډبول او د میړه زور زیاتی توجیه کوی، او دا خبره د کورنی تشدد سره د مبارزی چاری سختوی.

**اهداف**

* د ښځی د حفاظت ډاډینه (د زور زیاتی نه خلاصون، اود تیری او زور زیاتی د راپور ورکولو توان)

* د ښځی د خپلواکی زیاتول ( په حقوقو باندی او د تیری د راپور ورکول په لارو چارو باندی خبریدل، منابعو ته لاس لرنه، اود داسی شبو موجودیت چه ښځو ته توان ورکړی چه د زور زیاتی نه ځان وباسی)

* په معیاری او جدی حکومتی مقرراتو او تدبیرونو باندی تأکید، چه ښځی په خپلو کورونو کی محفوظی وساتی او د زور زیاتی عاملینو ته سزا ورکړی

* عام خلک د کورنی زور زیاتی او تشدد په ناوړه اثرونو خبر کړای شی[۱۳۸]

**ستری ستونزی**

۱. اسلامی عالمان په عمومی ډول، کورنی زور زیاتی غندی، خو پدی برخه کی عنعنوی فکر او نظر لا هم شته. تعلیمی او د خلکو د خبرتیا لپاره مبارزه پکار ده.

۲. د کورنی زور زیاتی او تشدد په ضد واضح او څرګند قوانین ددی ستونزی د مخنیو د پاره مهم دی. ډیر هیوادونه لکه **الجزایر او پاکستان** د کورنی تشدد په خلاف مشخص قوانین نلری؛ د میړه زور زیاتی او وهل ډبول د تیری په ضد د عامومعیاری قوانینو لاندی راځی.[۱۳۹] دا معمولا د کورنی زور زیاتی د پیښو تعقیب مشکلوی: دغسی قوانین معمولا په مساوی ډول نه تطبیقیږی.

---

۱۳۸ په اسلامی نړی کی کورنی زور زیاتی او وهل ډبول د ودونو د ماتیدو ډیر لوی عامل دی. د مثال په توګه په مراکش کی، همدا دهغو ښځو دپاره لوی دلیل دی چه غواړی خپل ودونه ختم کړی. حجر ۲۳۳.

۱۳۹ د ډیموکراسی، بشری حقوقو او کار څانګه، د امریکاد بهرنیو چارو وزارت، "د بشری حقوقو د اعمالو په باره کی د هیوادونو راپور- ۲۰۰۴: الجزایر،" او ...د هیوادونو راپور - ۲۰۰۴: پاکستان،" د کال ۲۰۰۵ د فبروری ۲۸، او د کال ۲۰۰۵ د جون په ۳۰ اخیستل شوی. http://www.state.gov/g/drl/rls/hrrp/2004/41718.htm او

http://www.state.gov/g/drl/rls/hrrp/2004/41743.htm

د کورنی زور زیاتی په باب مشخص قوانین دی سره مرسته کوی چه زور زیاتی غیر قانونی شی او شاید دغسی اعمال لکه په **پاکستان** کی چه روان دی، بند کړی، چه پولیس په **فعالانه** ډول **هغه** ښځی چه غواړی د کورنی زور زیاتی راپور ورکړی شړی.

۳. **هغه** قوانین چه د داسی کسانو په وړاندی نرم دی چه " په عادلانه دلیل" په زور زیاتی لاس پوری کوی، لکه په **لبنان او سوریه** کی، ښځو ته دا ډیره سختوی چه د داسی میړونو نه چه وهل ډبول کوی وتښتی او یا مسلی ته د حل لاره پیدا کړی، ځکه میړونه کولی شی چه د دغسی توجیهاتو له امله د ملامتی نه ځانونه خلاص کړی. ( د ننګ په نامه دوژنو راپور وګوری.)

۴. د ښځو حقوق د داسی قوانینو له لاری خوندی کیدای شی چه **هغوی** ته اجازه ورکړی چه د داسی ودونو نه چه پکی وهل ډبول وی وتښتی، او کورنی زور زیاتی د طلاق دلیل وګرځوی. مګر په ډیرو هیوادونو کی لکه **پاکستان** ښځی بیرته هغو کورونوته چه زور زیاتی پکی وی ستنول کیږی او پدی توګه هغوی نه شی کولی چه د زور زیاتی نه وتښتی. ۱۴۰ په **اردن** کی، د ښځو وهل ډبول د طلاق دلیل کیدلی شی. ۱۴۱

۵. **هغه** قوانین چه یوه سړی ته اجازه ورکوی چه د یوی ښځی په عفت باندی د تیری کولو سزا ونه وینی او دهغی سره واده وکړی، د هغی زمانی نښی دی چه ښځو هیڅ رنګه خپلواکی او عدالت ته لاس لرنه ندرلوده. دغسی قوانین **هغه** جرایم نور هم پیچلی کوی چه د ښځو په ضد کیږی، او ښځی هماغه سړیو سره واده کولو ته مجبوروی چه په اول سر کی یی په **هغی** باندی د تیری نیت کړیدی او دا یی ثابته کړی چه د هغی د حقوقو او خپلواکلی درناوی نه کوی. دغسی زاړه قوانین د کتباونو نه د لری کیدو په حال کی دی. مصر په کال ۱۹۹۹ کی خپل جنائی قانون بدل کړ چه د ښځو په عزت باندی د سزا نه د **هغو** تیری کونکو معافیت له مینځه وړی، چه د خپلو تیریو د قربانیانو سره واده کوی. ۱۴۲

٦. د ډبول شوو ښځو سره د ملاتړ شبکی، د ښځو د حقوقو د تضمینولو لپاره ډیری مهمی دی. په ډیر هیوادونو کی، لکه **تونس، اردن، او مالیزیا** غیر حکومتی مؤسسی، NGO ګانی د ډبول شوو ښځو سره د مرستی لپاره خاص تیلفونی لاینونه او نوری منابع لری؛ په **مالیزیا** کی هم، حکومت دا کار کوی. دا منابع د ښځو د پاره چه هځه کوی د زورزیاتی نه ځانونه وباسی ډیری مهمی دی. مخکنی (وقایوی) تعلیم او د خلکود پوهولو روزنه هم ښی او لازمی خبری دی.

---

۱۴۰ د دیموکراسی، بشری حقوقو او کار څانګه، د امریکاد بهرنیو چارو وزارت، "د بشری حقوقو د اعمالو په باره کی د هیوادونو راپور- ۲۰۰۴: پاکستان،" د کال ۲۰۰۵ د فبروری ۲۸، http://www.state.gov/g/drl/rls/hrrp/2004/41743.htm د کال ۲۰۰۵ د جون په ۳۰ اخیستل شوی.

۱۴۱ د دیموکراسی، بشری حقوقو او کار څانګه، د امریکاد بهرنیو چارو وزارت، "د بشری حقوقو د اعمالو په باره کی د هیوادونو راپور- ۲۰۰۴: اردن،" د کال ۲۰۰۵ د فبروری ۲۸، http://www.state.gov/g/drl/rls/hrrp/2004/41724.htm, د کال ۲۰۰۵ د جون په ۳۰ اخیستل شوی.

۱۴۲ تادروس، ماریز، " د تیری کونکو د پاره د تیښتی الفاظ باید نه وی"، الاهرام اوونه نیزه خپرونه، انترنیت کی، د کال ۱۹۹۹ د اپریل ۱۴. په انترنیت کی، http://weekly.ahram.org.eg/1999/424/eg3.htm.. کال ۲۰۰۵ د آګست په ۳ اخیستل شوی.

## تطبيق

۱. د کورنی زور زياتی د قوانينو تطبيق په ټولو ثقافتونو کی د ملاتړ کونکو اقداماتو تقاضا کوی، او اسلامی نړی ددی نه مستثنی نده. حتی هغوملکونوکی چه کورنی زور زياتی پکی غير قانونی دی، قربانيان معمولا په راپور ورکولو کی ټکنی وی.

۲. ډير اسلامی هيوادونه، د دغسی زور زياتی په وړاندی نرمښت ښيی اوحتی معافوی يی

"چه د تحريک په نتيجه کی پيښ شوی وی" (مثلا د ننگ په نامه وژنی). ۱۴۳ پداسی حال کی ډير هيوادونه، د امريکا په شمول، د داسی جرايمو په وړاندی چه د تحريک په نتيجه کی پيښ شوی وی نرمښت ښيی، په اسلامی هيوادونو کی قاضيان اکثرا دغه مقررات د ښځو په وړاندی په شديد تعصب سره تطبيقوی. تبعيضی قوانين دا ستونزه نوره هم پسی سختوی؛ پدی کی هغه قوانين هم راځی چه د ښځی د شاهدی ارزښت، د نارينه د شاهدی د نيمائی سره برابر گڼی، او يا دا چه يو سړی چه د يوی ښځی په عفت باندی ئی تيری کړی وی هغه وخت محکوموی، چه ځلور نارينه گان پری شاهدی ورکړی. ۱۴۴

۳. په حقوقی پاليسی او د هغو په عملی کولوکی د استحکام د نشتوالی معنی دا ده چه ډيری ښځی د خپلو حقوقی حراستونو نه خبری ندی. د قانون د بشپړ انفاذ د پاره دا لازمی ده چه تعليمی مبارزی وشی، چه ښځی په خپلو حقوقو او قانونی منابعو خبری شی.

---

۱۴۳ په اردن کی، مثلا د زور زياتی په ارتباط قانون کی داسی الفاظ شته چه زياتی او تشدد د "غصی په وخت" شويدی چه د قربانی د "غير قانونی او خطرناکه" عمل په نتيجه کی را پاريدلی؛ پدی برسيره، په قانون کی په ۲۰۰۱ کال کی د يوه تعديل د راتلو پوری، اردن هغه نارينه وو ته د قانون د منگلو نه بشپړ معافيت ورکاوه چه خپلی ښځينه خپلوانی يی چه زنا ئی کړی وه وژلی او يا ئی زخمی کولی.

۱۴۴ مثلا، د ډاکټری شازيه خالد قضيی ته وگوری: کريستاف، نيکولاس. " د دهشت يوه بله ځيره"، د کال ۲۰۰۵ د جون ۳۱ او " په عفت باندی د يوه پاکستانی تيری او د مينی پاکستانی داستان"، د کال ۲۰۰۵ د آگست ۲، نيويارک ټايمز ورځپانه.

## کورنی تشدد

| هیواد | قانون کی مشخص ذکر شوی | د طلاق موجب | د ننګ وژنه کی نرمښت شته |
|---|---|---|---|
| الجزایر ا | | | هو |
| مصر | نه | | |
| اندونیزیا | هو ب | هو | نه |
| ایران | | | هو |
| اردن | نه | کله کله | هو |
| لبنان | نه | هو | هو |
| مالیزیا | هو | هو | نه |
| مراکش | نه | هو | هو |
| پاکستان | نه | هو | هو |
| سوریه | هو | | هو |
| تونس | هو | هو | نه |
| ترکیه | هو | هو | نه |

ا

ب

## نمونه وی موارد

په **تونس** کی کورنی تشدد غیر قانونی دی. تونس کورنی تشدد داسی جرم بولی چه د نورو جرایمو نه فرق لری او د کورنی تشدد جرم ته دوه برابره ډیره سزا ورکوی. که میره د خپلی ښځی سره په زور وصلت وکړی، په قانون کی دا د ښځو په عفت باندی تیری بلل کیږی او د نورو دغسی تیریو نه فرق نلری؛ سزا یی عمری قید دی، او که تشدد پکی شوی وی سزا یی مرگ ده.۱۴۵

معمولا، ښځی د کورنی تشدد اوزور زیاتی سره د مبارزی لپاره د ټولنیزه شبکو نه کار اخلی، او د مینځگړتوب لپاره پلرونو، نورو نارینه خپلوانو، یا د ټولنی مشرانوته شکایتونه کوی. دا مهمی منابع دی چه باید د عامو خلکو د خبرتیا مبارزو کی شامل کړای شی. په ډیرو مواردو کی ښځی، په قانون کی د خپلو حقوقو نه اصلا خبری ندی، او دا د خبرتیا د مبارزی ضرورت او لزوم ښکاری کوی.۱۴۶

د ښځود غیر حکومتی مؤسسو د ابتکارونو، د ټولو نه مهم د ښځو د مرستو د سازمان په ځواب کی، **مالیزیا** د ۱۹۹۴م کال د کورنی تشدد په مقرری کی اصلاحات راوستل، (په ۱۹۹۶ کی قانون شو)، او کورنی تشدد پکی په پراخه توگه تعریف شویدی، د جسمی تشدد گواښ؛ "جنسی یا نورو" اعمالو تر سره کولو ته چه قربانی حق لری وی نکړی د قربانی مجبورول؛ او حتی "د شور شر جوړول او د مال له مینځه وړل او ورانول" او قربانی ته د "رنځ او کړاو" پیښول هم پکی شامل شوی دی. ۱۴۷

په مالیزیا کی لاهم کورنی تشدد ډیر پیښیږی. ځکه نو، فکر کیږی چه د شاهدی قواعدو باندی باید غور وشی، تر څو د مرتکبینو په ضد قانونی اقدام آسانه شی. همدارنگه، غیر حکومتی مؤسسی او حکومت، دواړه، د کورنی تشدد قربانیانو ته مشورتی تسلائی خدمات هم برابروی.۱۴۸

---

۱۴۵ د ډیموکراسی، بشری حقوقو او کار څانگه، د امریکاد بهرنیو چارو وزارت، "د بشری حقوقو د اعمالو په باره کی د هیوادونو راپور- ۲۰۰۴: تونس،" د کال ۲۰۰۵ د فبروری ۲۸، http://www.state.gov/g/drl/rls/hrrp/2004/41733.htm د کال ۲۰۰۵ د جون په ۲۱ اخیستل شوی.

۱۴۶ انجل فاستر، د مینځنی ختیز او شمال افریقا د پروگرام رئیس، د تولد او تناسل پوری مربوطی صحی چاری، د عالمانو د وودرو ویلسن په نړیوال مرکز کی وینا، د کال ۲۰۰۵ جون ۸.

۱۴۷ **http://www.learningpartnership.org/legislation/natl_malaysia.phtml** , د کال ۲۰۰۵ د جون په ۲۱ اخیستل شوی.

۱۴۸ د ډیموکراسی، بشری حقوقو او کار څانگه، د امریکاد بهرنیو چارو وزارت، "د بشری حقوقو د اعمالو په باره کی د هیوادونو راپور- ۲۰۰۴: مالیزیا،" د کال ۲۰۰۵ د فبروری ۲۸، http://www.state.gov/g/drl/rls/hrrp/2004/41649.htm د کال ۲۰۰۵ د جون په ۲۱ اخیستل شوی.

# د ننگ په نامه وژنی

د ننگ په نامه وژنی دداسی قتلونو تعریف دی چه په کورنی کی دننه د کورنی د نامه او شهرت د پاکولو لپاره چه د کورنی کوم غړی معمولا ښځی خراب کړی وی، کیږی. قربانی پداسی عمل تورن کیږی چه کورنی او ټولنه یی نامناسب کار بولی او معمولا جنسی بڼه لری. او په خاص ډول پدی کی زنا او د واده نه مخکی جنس اړیکی او تماسونه او یا د کورنی د اجازی نه پرته واده کول، بی شرمانه حرکات او داسی شیان شامل دی. کله کله همدا چه د غیر مناسب عمل شک راشی، کافی بلل کیږی او پدی پسی څوک نه گرځی چه بدعمل په ریښتیا هم شوی دی او که نه. په ښایسته ډیرو مواردو کی، هغه بی غزتی چه باید د یوی ښځی د وژلو له لاری پاکه شی، په ښځی پوری هیڅ رنگه ارتباط نلری او هغه پکی ملامته نه وی، د مثال په توگه، که ښځه وتښتول شی یا یی په عفت باندی تیری وشی، او یا هم فقط د ظالمانه غیبت هدف وگرځی مثلا کوم خواستگار ته ورکړل شوی نه وی او هغه ورپسی بدویل شروع کړی. خو د ننگ او شرم د عنعنی ریښه قومی او قبایلی دود دستورنو پوری تړلی دی. پداسی حال کی چه ددغسی پیښنو د شمیر معلومول گران دی، د ملگرو ملتونو د وگړو د وجهی صندوق موسسه اټکل کوی چه هر کال کوم ۵۰۰۰ ښځی او جینکی پدغه نامه د خپلو کورنیو د غړو له لاسه وژل کیږی.۱۴۹

د دغسی ښځو قاتلان معمولاً بی خاره گرځی، او په حقیقت کی، ښائی چه په ټولنه کی د خپل دی عمل په وجه شاباسی هم واخلی. په نورومواردو کی هغوی ښائی محکمه شی خو سزا نه ورکول کیږی یا هم ډیره لږه سزا ورکول کیږی. ددی خبری دوه مطلبه دی: یو دا چه د ښځی نا مناسب جنسی عمل نارینه مجبورولی شی چه د یوه جنایت مرتکب شی او په بشپړه توگه ملامت ونه گڼل شی او دا د یوه میره، پلار او یاهم د کورنی د بل نارینه غړی کار دی چه د کورنی د ښځو په شخصی اعمالو باندی قضاوت وکړی او سزا ورکړی، حتی تر دی چه ژوند یی ور ختم کړی. او دا یوه عقیده هم د قانون د حاکمیت سره اړخ نه لگوی.

دا د یادونی وړ ده چه مینځنی ختیز کی د ننگ په نامه جنایتونه هم په عیسویانو کی او هم مسلمانانو کی کیږی. د دفاع د پاره د "ننگ" د لفظ استعمال په نورو سیمو کی هم منل شویدی، لکه برازیل. د ننگ پوری تړلی جرایم ذاتا اسلام پوری تړلی ندی، بلکه زیاتره د قومی او قبایلی عنعنوی ارزښتونو پوری ارتباط لری.

**اهداف**

* په اسلامی هیوادونو کی ننگ په نامه وژنی بندی شی، ا دغسی دفاع غیر قانونی وبلل شی
* د " دننگ په نامه د وژنی" او نورو قتلونو تر مینځ فرق له مینځه ویوړل شی
* د هغو ځوانو ښځو ساتنی ته چه دننگ په نامه د وژلو خطر یی وی، په موقع نوری لاری چاری برابری شی

---

۱۴۹ د ښځو د وضعی په باب د ملگرو ملتونو کمیسیون، UNFPA په خبرونو کی.

http://www.unfpa.org/news/coverage/february%2026-march%2011%202005.htm د کال ۲۰۰۵ دجون په ۱۵ اخیستل شوی.

## ستری ستونزی او تطبیق

۱. پدی مواردو کی ، قاتلان تال د قربانی نارینه خپلوان وی، لکه پلار، ورور، یا میره. کومه ښځینه خپلوانه هم شاید په جنایت کی لاس ولری. کله کله، د کورنی یو ډیر ځوان غړی د قتل د تر سره کولو لپاره ټاکل کیږی، او دا د قانونی تعقیب نه تیښته لا پسی آسانه کوی.

۲. د ننگ جرایم پدی بهانه ولاړ وی چه د کورنی، قبیلی یا قوم عزت ته د ښځی د کوم جنسی عمل له لاری تاوان اوښتی دی او د ښځی جسم او عمل باید د هغی د نارینه خپلوانو له خوا کنترول شی، قضاوت پری وشی او بندیز پری ولگول شی.۱۵۰ په ځینو نادره حالاتو کی د یوی خطا کاری ښځی نارینه شریک/یار وژل کیږی او یا دواړه وژل کیږی. دا اعمال د داسی زړو او پخوانیو عدلی سیستمونو د دوام ښکارندوی دی چه د پلار واکی دود پوری تړلی دی.

۳. د ځینی اسلامی هیوادونو په قضائی اقداماتو کی د ننگ په نامه وژنه لا هم خاص مقام لری. د مثال په توگه، که څه هم چه د ننگ په نامه وژنه په **لبنان** کی غیر قانونی ده، **هغه** نارینه چه دا کار کوی، پریښودل کیږی چه په خپلو محاکمو کی ددی مسلی نه د جرم د تخفیف لپاره کار واخلی او ښائی چه فقط د څو میاشتو قید سزا ورکړل شی.

۴. دی ته ورته دفاعیه هغو ښځو ته میسره نده چه د میره یا بل نارینه په وژلو تورنی وی.

۵. د پاکستان په برخه کی، ورثه کولی شی چه قاتل وبخښی. په ځینی نورو هیوادونو کی هم همداسی ده لکه اردن. د ډیری خفیفی سزا اخیستو بله لاره ده د قاتل "بخښنه" ده ، او دا توان د قربانی نزدی نارینه خپلوان لری، چه معمولا د قتل مرتکب سره نزدی علایق هم لری او هغه شخص وی چه د ښځی د قتل امر ئی په اول سر کی ورکړی وی. نو یو پلار چه خپله لور په خپل زوی وژنی، بیا زوی "بخښی"، چه که سزا ورکړل هم شی، خفیفه وی.

## نمونه وی موارد

### تونس

په ۱۹۹۳ کی، د تونس حکومت داسی قوانین وضع کړل چه هغه میکونه چه خپلی ښځی وهی تکوی، په پنځو کالو قید محکوم شی او د "ننگ په نامه" وژنی او نورو وژنو تر مینځ فرق ئی له مینځه ویوړ.۱۵۱

---

۱۵۰ "دښځو مقابل کی د تشدد له مینځه وړل: تجربه او پروگرام." UNFPA روم. ایتالیا، ۱۹/۱۵ سپتمبر ۲۰۰۳

۱۵۱ تونس د هغو هلو ځلو له امله ستایل شوی چه د ښځو د حقوقو د خوندی کولو لپاره یی کړیدی. دامریکاد بهرنیو چارو وزارت.

http://usinfo.state.gov/djr/Archive/2005/Jun/15-735866.html **[د کال ۲۰۰۵ د جولای په ۱۲ اخیستل شوی]**

## نور موارد

### اردن

په اردن کی دا مسله چه د ننگ په نامه د لونو، خویندو او ښځو وژل دی جنایت وبلل شی، لویه ټولنیزه موضوع گرځیدلی او د ملک د باچا دویم عبدالله په گډون، د دی دود د ځینو لوړ رتبه مخالفینو پام یی ځانته ورگرځولی دی.۱۵۲ "باچا د داسی قوانینو ملاتړ کړی چه د ننگ په نامه وژنه د نورو قتلونو سره برابر گڼی او عام خلک یی هڅولی دی چه ددی قانون ملاتړ وکړی... دا حقیقت چه شاهی مانۍ دغسی دریځ غوره کړیدی، ددی معنی لری چه مرتکبینو ته سخته سزا ورکول کیږی او د دننگ د وژنیو کلک تحقیقات د محکمو او پولیسو له خوا کیږی. د باچا ملاتړ همدارنگه د مبارزینو ډلو ته زړه ورکړی چه دننگ د وژنو په ضد په ډیر قوت وغږیږی." ۱۵۳ د کال ۲۰۰۱ د ډسمبر په میاشت کی، د اردن کابینی د مدنی دریځ په قانون کی یو شمیر تعدیلونه تصویب کړل. د جزا د قانون د یوه تعدیل له امله، دننگ په نامه د جرایمو مرتکبین نور د مرگ د سزا نه معاف ندی. قاضیان لا هم اجازه لری چه د محکوم سزا ته تخفیف ورکړی. مگر، یو بند په قانون کی ورزیات کړای شو چه هغه ښځی هم چه په ورته حالاتو کی خپل میرونه وژنی، د سزا د تخفیف نه برخورداره شی. د اردن په قانون کی دا بدلونونه د یوه مؤقت قانون په شکل کی هغه وخت راوستل شول چه پارلمان رخصت وو، ځکه ولسی جرگی یی مخالف کاوه. پدی توگه، ددی دپاره چه قانون دایمی شی بیا هم د پارلمان تأئید ته اړتیا لری.

### ترکیه

ددی پوهی سره چه د ننگ په نام وژنی د یو لړ خاصو ارزښتونو او خاص سلوک له مخی کیږی، د ترکیی حکومت دهغو خلکو د سوابقو په معلومولو بنا وکړه چه د دغسی جرایمو مرتکبین دی. د ترکیی مقاماتو هیله دا ده چه پدی قتلونو او جرمونو باندی د محکوم شوو بندیانو د سوابقو او ژوند په څیړلو سره یو لړ تعلیمی پروگرامونه او د دغسی قتلونو د مخنیوی یا وقایوی پالیسی جوړی کړی.۱۵۴

---

۱۵۲ مدینغم، والری. "په مینځنی ختیز او شمالی افریقا کی د کورنیو قوانینو اصلاحات." د یونسکو سیمینار، په مغرب او د هغی نه وراندی سیمو کی د کورنیو قوانینو تکاملی سیر. د کال ۲۰۰۵ د می ۳. (د کال ۲۰۰۵ د جولای په ۱۲ اخیستل شوی).

۱۵۳ ستیفن فرانکلین، "اردن د 'ننگ په نامه' وژنو ته د سزا ورکولو اقدام پیل کوی"، شیکاگو تریبیون ورځپانه، د کال ۲۰۰۰ د سپتمبر ۱.

۱۵۴ "ترکیه د ننگ په نامه وژنو په باب څیړنی کوی." MSNBC.http://www.ntvmsnbc.com/news/328660.asp

[د کال ۲۰۰۵ د جون په ۱۵ اخیستل شوی]

| هيواد | د ننگ په نامه د وژنو مسله کی حقوقی دريځ |
|---|---|
| الجزاير | د جزأ د قانون ۲۷۹ ماده وايی چه ښځه يا ميره، هر يو چه بل په زنا کی ونيسی، د سزا نه معافيت لری. |
| مصر | د جزأ د قانون ۲۳۷ ماده د ميره لپاره چه د زنا نه ئی په خبريدو سره خپله ښځه وژنی خفيفه سزا غواړی. |
| اندونيزيا | د ننگ په نامه وژنی نشته |
| ايران | يوازی د قربانی پلار حق لری چه مجرم ته د مرگ سزا وغواړی؛ د ايران په قانون کی سزا نرمه ده. |
| اردن | د ننگ د جرايمو د سزا نرمښت مجاز دی. "هغه شخص چه د قربانی د غير قانونی او خطرنام عمل په نتيجه کی د قهراو غصی په وخت د جرم مرتکب کيږی، د سزا د تخفيف وړ گرځی." ۱<br>يو بند د کال ۲۰۰۱په مؤقت قانون کی فسخ شو او په ځای يی يو نوی بند ورزيات شو چه يوی ښځی ته هم چه ميره د زنا د ليدو نه وروسته وژنی د سزا تخفيف ورکوی. |
| لبنان | که يو مدافع ثابته کړای شی چه جرم يی د ننگ سره ارتباط درلود، سزا يی د ۱ نه د ۷ کاله پوری قيد ته تخفيفيږی. ا د جزأ د قانون ۵٦۲ ماده (د يوه سړی د پاره چه خپله ښځينه خپلوانه د چا سره د غير قانونی جنسی اړيکو په وخت ووينی، خفيفه سزا ورکوی. د ۱۹۹۹ م کاله پوری، دغه قانون په ځينو شرايطو می مجرم د سزا نه بيخی معاف کاوه. |
| ماليزيا | |
| مراکش | د ننگ په نامه جرايم ډير نادره دی؛ د جزأ د قانون ۴۱۸ ماده وايی: " د ميره له خوا، د يوی ښځی او د هغی د يار قتل، جرح او وهل ټکول هغه وخت د معافيت وړ دی چه د زنا د ناڅاپی ليدو په وخت يی مرتکب شی." |
| پاکستان | د ننگ پوری تړلی جرايم د حد اکثر قيد، ۲۵ کاله ، او حد اقل قيد، ۱۰ کاله، سزا لری، که څه هم چه د قربانی ورثه د بخښنی حق لری. |
| سوريه | قانون (د جزأ د قانون ۵۴۸ ماده) په مشخص ډول د ننگ پوری تړلو جرايمو ته خفيفه سزا ټاکی. |
| تونس | د ننگ په نامه د قتل او نورو وژنو تر مينځ هيڅ فرق نشته. |
| ترکيه | د قتل په قوانينو کی پخوا داسی يوه مشخصی ماده وه چه د داسی جرم چه مرتکب يی "په غصه اوتحريک" شوی وی، حد اکثره سزا يی چه ۲۴ کاله وه ۸ کالو ته کموله . په کال ۲۰۰۳ کی دا سزا بيرته ۱۴ کلونو قيد ته لوړه شوه. وروسته له هغه چه اروپائی اتحاد فشار پری راوست، ترکيې د کورنيو په غړو باندی د خپلو سزاو د تخفيف لپاره د"غصه کيدو او تحريکيدو" دليل نه استفاده منع کړه. |

---

۱ "ولسی جرگی بيا هم د جزأد قانون د ۳۴۰ مادی الغا ونه منله"، د اردن ټايمز ورځپانه، د کال ۲۰۰۰ د جنوری ۲۰. http://www.jordanembassyus.org/01272000001.htm [د کال ۲۰۰۵جولای په۱اخيستل شوی.]

## ضمیمه

## نړیوال کنوانسیونونه او تړونونه

### د ښځو په ضد د هر رنګه تبعیض د له مینځه وړلو کنوانسیون

د کنوانسیون متن د انترنیت نه ددې پتې نه په څو ژبو کې اخیستل کیدای شي:

http://www.un.org/womenwatch/daw/cedaw/cedaw.htm,

**د CEDAW منل او تصدیق**

| هیواد | لاسلیک کړی؟ | ملحوظات لري |
|---|---|---|
| الجزایر | هو | ۲؛ ۹_۲؛ ۱۵_۴؛ ۱۶: ۲۹_۱ |
| مصر | هو | ۲؛ ۹_۲؛ ۱۶؛۲۹_۱ |
| اندونیزیا | هو | ۲۹_۱ |
| ایران | نه | میسر ندی |
| اردن | هو | ۹_۲؛ ۱۵_۴؛ ۱۶_۱c,d,g |
| لبنان | هو | ۹_۲؛ ۱۶_۱,c,d,f,g ۲۹_۱ |
| مالیزیا | هو | ۵ ا؛ ۷ب؛ ۱۱؛۱۶_۱,a,c,f,g |
| مراکش | هو | ۲؛ ۱۵_۴؛ ۹_۲؛ ۱۶؛ ۲۹_۱ |
| پاکستان | هو | ۲۹_۱* |
| سوریه | هو | ۲؛ ۹_۲؛ ۱۵_۴؛ ۱۶_۱c,d,f,g؛ ۲۹_۱ |
| تونس | هو | ۹_۲؛ ۱۵_۴؛ ۱۶_۱ c,d,f,g,h؛ ۲۹_۱ |
| ترکیه | هو | ۲۹_۱ |

ا http://www.un.org/womenwatch/daw/cedaw/, د کال ۲۰۰۵ د جون په ۲۸ اخیستل شوی.

ب. برسیره پدی یو بل عمومی ملحوظ هم شته او هغه دا چه دا د ملک د اساسی قانون سره تضاد کی راځی.

## د ښځو په ضد د هر رنګه تبعیض د لری کولو کنوانسیون

ددی کنوانسیون غړی هیوادونه،

منی چه د ملګرو ملتونو منشور په اساسی بشری حقوقو، د بشر په فردی کرامت او انسانی ارزښت اود نارینه او ښځو په مساوی حقوقو باندی خپله عقیده بیا تائیدوی،

منی چه د بشری حقوقو نړیواله ابلاغیه دغه اصل باندی تأکید کوی چه تبعیض مجاز ندی او اعلان کوی چه ټول انسانان آزاد او په کرامت او حقوقو کی مساوی پیدا شوی او هرڅوک د ټولو یادو شوو حقوقو او آزادیو د لرلو مستحق دی، بی د کوم توپیر نه د جنسیت د توپیر په شمول،

منی چه د بشری حقوقو د نړیوالو کنوانسیونونو غړی هیوادونه مکلفیت لری چه نارینه او ښځو دواړو ته د مساوی حقوق د ورکول تضمین کوی چه د ټولو اقتصادی، ټولنیزو، کلتوری او مدنی او سیاسی حقوقو نه برخورداره شی او خوند تری واخلی،

هغه نړیوال کنوانسیونونه په نظر کی نیسی چه د ملګرو ملتونو او د خاصو ادارو د سرپرستی لاندی د ښځو او نارینه وو د حقوقو د مساوات لپاره شویدی،

هغه پریکړی، ابلاغیی او سپارښتنی هم منی چه د ملګرو ملتونو اود خاصو ادارو له خوا د ښځو ا نارینه وو د حقوقو د مساوات لپاره شویدی،

مګر، اندیښمن دی چه ددی مختلفو فیصلو سره سره بیا هم د ښځو په ضد تبعیض لا روان دی،

یادونه کوی چه دښځو په وړاندی تبعیض د حقوقو د مساوات د اصل او بشری کرامت ته د درناوی د اصل نه تیری دی او د خپلو هیوادونو په سیاسی، ټولنیز، اقتصادی او کلتوری ژوند کی د نارینه وو سره په عین اندازه، د ښځو د ګډون د لاری خند دی، او د ټولنی او دکورنی د سوکالی مخه نیسی او خپلو هیوادونو او بشری ټولنی ته خدمت کی د ښځو د استعدادونو بشپړانکشاف سختوی،

اندیښمن دی چه په غریبی او نیستی کی ښځی خواړو، صحی خدماتو، تعلیم، روزنی او د کار او نورو اړتیاوو فرصوتنو ته حد اقل لاس لرنه لری،

متیقن دی چه د نوی نړیوال اقتصادی نظام ټینګیدل به چه په مساوات او عدالت بنا دی، د نارینه او ښځو تر مینځ د مساوات په زیاتولو کی د پام وړ ونده واخلی،

تاکید کوی چه د اپارتاید او تبعیض، هر رنګه نژادی توپیر، نژادی تعصب، استثمار، نوی استثمار، تیری او تجاوز، بهرنی اشغال او تسلط او د هیوادونو په کورنیو چارو کی لاس وهنو له مینځه وړل، د خپلو بشپړوحقوقو نه د نارینه او ښځو د برخورداریو لپاره ضروری دی،

تصدیقوی چه د نړیوالی سولی او امنیت تقویه، د نړیوال تاو تریخوالی کمیدل، د ټولو هیوادونو تر مینځ صرف نظر لدینه چه څه رنګه ټولنیز او اقتصادی نظامونه لری دوه اړخیزه همکاری، عمومی او بشپړه بی وسلی کیدل، په تیره بیا د کلک او مؤثر نړیوال کنترول لاندی اتومی خلع سلاح، د عدالت د اصولو بیا تائید، د هیوادونو په اړیکو کی مساوات او دوه اړخیزه ګټه، د هغو خلکو د خود ارادیت او خپلواکی حق منل چه د پردیو او استعمار د تسلط او اشغال لاندی اوسیږی، همدارنګه د ملی حاکمیت او د خاوری تمامیت ته درناوی، به ټولنیز پرمختګ او

انکشاف تقویه کړی او په نتیجه کی د نارینه او ښځو تر مینځ د بشپړ مساوات په راوستلو کی مرسته کوی،

متیقن دی چه د یوه ملک بشپړ او پوره پرمختګ ، او د نړی سوکالی، او د سولی داعیه ددی ایجاب کوی چه ښځی په ټول ځانګو کی په مساوی ډول د نارینه وو سره حد اکثر ونډه واخلی،

د دی خبرو په نظر کی نیولو سره چه د کورنی په هوسائی اود ټولنی پرمختیا کی ښځی څومره ستره ونډه اخیستی چه تر اوسه پوری سمه منل شوی هم نده، مور ته ټولنه څومره ډیر اهمیت ورکوی او هغه ونډه چه مور او پلار دواړه ئی په کورنی کی اود اولادونو په روزنی کی اخلی، او داولاد راوړلو کی د ښځی ونډه باید د هغی په ضد د تبعیض کولو سبب ونګرځی، او دا چه د اولادونو روزنه او لویول، د ښځی او نارینه او د ټولی ټولنی ګډ کار او مسؤلیت غواړی.

پدی پوه دی چه د ښځو او نارینه وو تر مینځ د بشپړ مساوات د راوستلو لپاره په ټولنی کی د نارینه او همدارنګه د ښځو د عنعنوی او پخوانی رول بدلون ضروری دی،

اراده لری چه هغه اصول چه د ښځو په ضد د تبعیض د له مینځه وړلو په ابلاغیی کی راغلی دی عملی کړی او په همدی مقصد، داسی تربیرونه وضع کړی چه د هر نګه او هری بنی دغسی تبعیض د له مینځه وړلو لپاره پکار دی،

په لاندی ټکو یی موافقه وکړه:

اوله برخه

۱ ماده

د اوسنی کنوانسیون په مقصد، د "ښځو په ضد تبعیض" معنی هر رنګه توپیر، انزوا یا محدودیت دی چه د جنس په بنا ولاړ وی او په سیاسی، اقتصادی، ټولنیز، کلتوری، مدنی یا هری بلی برخه کی د نارینه ووسره برابر د ښځو، واده شوی وی او که نا واده، په بشری حقوقو او اساسی آزادیو باندی اثر اچوی، ترینه یی اخلی، او یا ئی عمدا د خنډ سره مخامخ کوی.

۲ ماده

غړی هیوادونه د ښځو په ضد هر رنګه تبعیض غندی او دا منی چه بی له کوم خنډ او ځنډ نه په هره مناسبه طریقه د ښځو په ضد د تبعیض د ختمولو پالیسی غوره کوی او دا لاندی اقدامات کوی:

(ا) په خپلوملی اساسی قوانینو یا نورو مناسبو قوانینو کی، که تر اوسه یی نه وی کړی، د نارینه او ښځی د مساوات اصل ځایوی او دا یقین حاصلوی چه د قانون اونورو مناسبو لارو نه دا اصل په عمل کی ومنل شی؛

(ب) مناسب قوانین او نور تدبیرونه، د بندیزونو په شمول وضع کوی چه د ښځو په ضد هر رنګه تبعیض منع شی؛

(پ) د نارینه سره په مساوی ډول د ښځو د حقوقو د ساتنې لپاره قانون وضع شی تر څو دا ډاډ حاصل شی چه د با کفایته ملی محاکمو او نورو عامه ادارو له خوا د هر رنگه تبعیضی عمل په وړاندی د ښځو موثر حفاظت وشی؛

(ت) د ښځو په ضد د هر رنگه تبعیضی عمل او اقدام نه ډډه وشی او ډاډ حاصل شی چه عامه مقامات او اداری پدی برخه کی د خپلو مکلفیتونو سره سم اجراأت وکړی؛

(ث) ټول لازم تدبیرونه ونیسی، چه د هر چا، سازمان یا مؤسسی له خوا د ښځی په ضد تبعیض له مینځه لاړ شی؛

(ث) ټول لازم تدبیرونه ونیسی، د قوانینو د وضع کولو په گډون، چه هغه موجود قوانین، مقررات، دودو دستود، او اعمال واړول شی یا له مینځه یوړل شی چه د ښځو په ضد تبعیض کوی؛

(ج) ټول هغه ملی جزائی احکام واړول شی چه د ښځو په ضد تبعیض گڼل کیږی.

۳ ماده

غړی هیوادونه باید په ټولو څانگو کی ، په تیره په سیاسی، ټولنیز، اقتصادی او کلتوری برخو کی هر رنگه مناسب اقدامات وکړی ، د قوانینو د وضع کولو په گډون، چه د ښځو د بشپړ انکشاف او پرمختگ ډاډ حاصل شی، تر څو دا تضمین شی چه ښځی، نارینه سره د مساوات پر بنا د بشری حقوقو او بنیادی آزادیو نه برخوداره شی او خوند تری واخلی.

۴ ماده

۱. غړی هیوادونه خاص موقت تدبیرونه تصویب کړی چه هدف یی د نارینه او ښځو تر مینځ دمساوات راستو چټکول وی او څنگه چه پدی کنوانسیو کی راغلی دی د ښځو په وړاندی تبعیپ ونه شی، خو په هیڅ توگه باید داسی عواقب ونلری چه هر یوه ته ځانگړی اوغیر مساوی معیارونه وټاکی؛ کله چه د مساوات هدف تر لاسه او مساوی سلوک ټینگ شی، دا تدبیرونه باید قطع شی؛

۲. غړی هیوادونه یو لړخاص تدبیرونه، دهغو په گډون چه په کنوانسیون کی راغلی دی وضع کړی چه هدف یی اولاد پیدا کول تبعیضی کار ونه بلل شی.

۵ ماده

غړی هیوادونه باید داسی تدبیرونه وضع کړی چه:

(ا) د ښځو او نارینه وو د سلوک ټولنیز او کلتوری دودونه په دی هدف واړوی چه تعصبات او رسم او رواجونه او نور ټول هغه اعمال له مینځه لاړ شی چه د یوه جنس د ټیټوالی یا اوچتوالی د مفکوری پر بنا ولاړ وی او یا هم د نارینه او ښځو لپاره خاص رولونه ټاکی؛

(ب) دا ډاډ حاصل شی چه په کورنی تعلیم کی په مناسب ډول، د اولاد راوړل د یوی ټولنیزی وظیفی په توگه وپیژندل شی، او د نارینه او ښځو عام مسولیتونه د اولادونو په پالنی او

روزنی کی ومنل شی، او پدی پوه شی چه په ټولوموارد و کی باید د اولاد ګټه په کلکه په نظر کی ونیول شی.

٦ ماده

هیوادونه باید، د قوانینو په ګډون، ټول مناسب تدبیرونه وضع کړی چه د ښځو هر رنګه قاچاق او جنسی استفاده بنده شی.

دویمه برخه

٧ ماده

غړی هیوادونه باید ټول هغه مناسب تدبیرونه وضع کړی چه په سیاسی او دعامه ژوند په چارو کی د ښځو په وړاندی تبعیض له مینځه ویسی، په تیره بیا، ښځو ته د نارینه وو سرا برابر، دا لاندی حقوق تضمین کړی:

(ا) په ټولو انتخاباتو او عامه ریفرینډمونو کی د رای ورکولو او په ټولو عامه انتخابی ادارو کی د انتخابیدو حق؛

(ب) د حکومتی پالیسیو د جوړولو په جریان او دهغو په عملی کولو کی د ګډون او په عامه انتخابی مقام کی د کار کولو او په عامه محضر او د حکومت په ټولو سطوحو د کار کولو حق؛

(پ) په هغوغیر حکومتی مؤسسو او ټولنو کی ګډون چه د ملک د عامه او سیاسی ژوند سره سر او کار لری.

٨ ماده

غړی هیوادونه باید ټول هغه مناسب تدبیرونه وضع کړی چه ښځو ته د نارینه سره برابر، بی د تبعیض نه داسی فرصتونه مهیا کړی چه په هغو کی په نړیواله سطحه د خپل حکومت نمایندګی وکړی او د نړیواله مؤسسو په کارو کی ګډون وکړی.

٩ ماده

١. غړی هیوادونه باید ښځو ته د تابعیت اخیستو، بدلولو یا ساتلو په برخه کی د نارینه سره برابر مساوی حقوق ورکړی. هغوی باید دا ډاډ حاصل کړی چه په تیره بیا د کوم بهرنی شخص سره په واده کولو او یا د میره له خوا د تابعیت په بدلیدلو سره په اتومات ډول د ښځی تابعیت هم بدل نشی، یاهغی ته د تابعیت نه لرلو حیثیت ورنکړل شی او یا یی د میره تابعیت په زور پری و نه تپل شی.

٢. غړی هیوادونه باید ښځوته د نارینه سره برابراومساوی حقوق د اولاد د تابعیت په برخه کی ورکړی.

۱۰ ماده

غړی هیوادونه باید ټول مناسب تدبیرونه وضع کړی چه د ښځو په ضد تبعیض ختم شی، تر څو دا ډاډ حاصل شی چه ښځی د نارینه وو سرا برابر حقوق د تعلیم په برخه کی ولری او په تیره بیا دا ډاډ حاصل کړی چه د نارینه او ښځو تر مینځ دا مساوات وی چه:

(ا) د وظیفی او د مسلکی لارښونی عین شرایط ورکړل شی، په هر رنګه تعلیمی مؤسساتو کی د درس ویلو او د دیپلوم تر لاسه کولو حق ولری هم په اطرافی ځایونو کی هم په ښارونو کی؛ دا مساوات باید د مکتب نه مخکی دوران، عمومی، تخنیکی او مسلکی او د تخنیک عالی تعلیماتو او همدارنګه د مسلکی تعلیماتو په برخه کی موجود وی؛

(ب) عین تعلیم نصاب، عین امتحان،عین درسی موادو ته د عین سویه او معیار په بنا او د ښونځیو ساحو ته او عین واسایطو ته لاس لرنه؛

(پ) د ښځو اونارینه وو د رول او کار په باب د هر رنګه زړو خیالاتو له مینځه وړل په هره سطحه کی او د هر رنګه تعلیم کی، د ګډو تحصیلاتو او نورو تعلیمی پروګرامونو د هڅولو له لاری چه داهدف پری تر لاسه شی او په تیره بیا، د درسی کتابونو او د ښونځیو د پروګرامونو داړولو او د ښونی د میتودنو د بدلولو له لاری:

(ت) د سکالرشیپونو او نورو تعلیمی بورسونو نه د استفادی عین فرصتونه؛

(ث) د تعلیم د دوام لپاره پروګرامونو ته عین لاس لرنه، د پاخه عمر او د سواد زده کولو د پروګرامونو په ګډون، په تیره بیا هغه چه هدف یی په ممکنه مخکنی وخت کی د نارینه او ښځو په تعلیمو کی د موجودی خلا له مینځه وړل وی؛

(ج) د ښونځی نه د ښځینه زده کونکو د وتلو د اندازی کمول او هغو جینکیو او ښځو لپاره د خاصو پروګرامونو برابرول چه مخکی له وخته د ښونځی نه وتلی وی؛

(چ) په سپوټونواو جسمانی تعلیم کی د فعالی برخی اخیستنی عین فرصتونه؛

(ح) مشخځوتعلیمی معلوماتو ته لاس لرنه چه د کورنیو د صحت او هوسائی ډاډ حاصل شی د کورنی پلان جوړولو په باب د معلوماتو په ګډون.

۱۱ ماده

۱. غړی هیوادونه باید ټول مناسب تدبیرونه وضع کړی چه د کار کولو په برخه کی د ښځو په حق کی تبعیض ختم شی تر څو نارینه او ښځو مساوات پر بنا، عین حقوق ورکړل شی، په تیره بیا:

(ا) د کار کولو حق د ټولوانسانانو نه بیلیدونکی حق دی؛

(ب) د کار د عین فرصتونو د لرلو حق، دداسی درخواستیو په ګډون چه یوه کار ته دانتخاب مساوی او عین معیارونه ولری؛

(پ) د خپل مسلک او وظیفې د آزاد انتخاب حق، د ترفیع اخیستو، د وظیفې د مصونیت او د ټولو امتیازاتو او دخدمت د شرایطو د لرلو او د مسلکي تعلیم د تر لاسه کولو حق، د کار د زده کولو د حق په ګډون، پر مخ تللي مسلکي تعلیم او د بیا بیا روزنې حق؛

(ت) د مساوي پاداش حق، د ګټې په شمول، او د کار د ارزښت په بنا د مساوي رویه حق او همدارنګه د کار په ارزیابۍ کې د مساوي ګڼل کیدلو حق؛

(ث) د تقاعد او عامه ګټې دتر لاسه کولو حق، په تیره د تقاعد، بې کارۍ، ناروغۍ معیوبیت او زاړه عمر او یا هم نور داسې حالت په وخت چې کار کول ورته ممکن نه وي همدرنګه د با معاشه رخصتۍ حق؛

(ج) د صحت د ساتنې او د کار د مصؤنو شرایطو د لرلو حق، د ولادت د حق د تضمین په ګډون؛

۲. ددې دپاره چه د ښځو په وړاندې د واده کولو یا اولاد راوړلو له امله د تبعیض مخه ونیول شي، او دا ډاډ حاصل شي چه د کار کولو مؤثر حق لري، غړي هیوادونه باید، دا تدابیر ونیسي:

(ا) د امیندوارۍ اویا د ولادت د رخصتۍ له امله د کار نه د ایستل کیدو ممنوعیت او د واده کیدو له امله تبعیض او د کار نه برطرفي ممنوعیت؛

(ب) د ولادت لپاره د با معاشه رخصتۍ ټاکل د معادله ټولنیزه امتیازاتو سره بې لدینه چه وظیفه، رتبه، او یا ټولنیز مکافات د لاسه لاړ شي؛

(پ) د داسې احکامو هڅول چه د لازمو ټولنیزه خدماتو ملاتړ تر لاسه شي تر څو میندې پلرونه وکړای شي چه خپل کورنې مسؤلیتونه او د وظیفې مکلفیتونه تر سره کړي او په عامهڅوند کې ګډون وکړي په تیره بیا د د ماشوم د ساتنې او پالنې د تأسیساتو د جوړولو له لارې؛

(ث) د امیندوارۍ په وخت د ښځو خاص حفاظت او د داسې کارونو نه د هغوی ساتنه چه ورته تاوان رسوي.

۳. د هغو مسلو په ارتباط حمایوي قانون جوړ شي چه پدې مادې کې راغلي دي اوباید د علمي او تکنالوژیکې پوهې په رڼا کې وخت نا وخت پرې غور هم وشي او څنګه چه لازمه وي تعدیل، لغو یا تمدید شي.

۱۲ ماده

۱. غړي هیوادونه باید ټول هغه مناسب تدبیرونه وضع کړي چه د روغتیا په چارو کې د ښځو په ضد تبعیض ختم کړي، تر څو دا ډاډ حاصل شي چه د مساوات پر بنا نارینه او ښځې، صحي خدماتو ته، د کورنۍ د پلان جوړولو په ګډون، لاس لرنه ولري.

۲. ددې مادې د ۱ پاراګراف په نظر کې نیولو سره، غړي هیوادونه باید دا ډاډ حاصل کړي چه ښځوته د دامیندوارۍ په اړه مناسب خدمات میسر شي، ولادت او د ولادت نه وروسته موده کې څرنګه چه لازمه وي وړیا خدمات ولري او د امیندوارۍ په وخت او د تې ورکولو په وخت پوره او صحي خواړه ولري.

۱۳ ماده

غړی هیوادونه باید ټول هغه مناسب تدبیرونه وضع کړی چه د ښځو په ضد تبعیض، د اقتصادی او ټولنیز ژوند په نور برخو کی له مینځه لاړ شی، تر څو دا یقینی شی چه ښځی اونارینه د مساوات پر بنا عین حقوق ولری په تیره بیا:

(ا) د کورنیو امتیازاتو حق؛

(ب) د بانک نه د پور ، د کور اخیستو لپاره د قرضی تر لاسه کولو او نورو مالی کریدتونود اخیستو حق؛

(پ) په تفریحی فعالیتونو، سپورټونواو د کلتوری ژوند په هر اړخ کی د ګډون کولو حق.

۱۴ ماده

۱. غړی دولتونه باید هغه مشخصی ستونزی په نظر کی ونیسی چه اطرافی ښځی ورسره مخامخ دی، او هغه مهم رول له پامه ونه غورځوی چه اطرافی ښځی یی د خپلو کورنیو د اقتصادی بقا په برخه کی لری، د اقتصاد په هغی سکتور کی د کار کولو په ګډون چه پیسی نه ورکوی، او باید ټول مناسب اقدامات وکړی تر څو دا یقین حاصل شی چه د دی اوسنی کنوانسیون ټول احکام په اطرافی سیمو کی د ښځو په برخه کی عملی شی.

۲. غړی هیوادونه بای دټول مناسب اقدامات وکړی چه په اطرافی سیمو کی د ښځو په ضد تبعیض ختم شی، تر څو دا داډ حاصل شی چه د نارینه وو سره د مساوات پر بنا هغوی د اطرافی سیمو په انکشاف کی برخه او ترینه ګټه واخلی او په تیره بیا، باید دغسی ښځو ته ددی حقوقو دتر لاسه کیدو اطمینان حاصل شی:

(ا) چه په هر سطحه د انکشافی پلان په جوړولو او عملی کولو کی ګډون وکړی؛

(ب) چه بشپړو روغتیائی تاسیساتو ته لاس لرنه ولری، د معلوماتو، سلا مشوری او کورنی پلان جوړولو د خدماتو په ګډون؛

(پ) چه د ټولنیزه خدماتو نه مستقیما ګټه واخلی؛

(ت) چه هر رنګه روزنهاوتعلیم، رسمی یا غیر رسمی، تر لاسه کړی، د دواد زده کولو په ګډون، او همدارنګه د ټولو ټولنیزه خدماتو نه ګټه واخلی چه تخنیکلی قابلیت یی ډیر شی؛

(ث) چه په خپلو پښو ولاړی ډلی او کوپراتیفونه جوړ کړی، تر څو اقتصادی فرصتونو او امکاناتو ته د استخدام او یا د شخصی کار له لاری دسترسی ولری؛

(ج) چه په ټولو ټولنیزه فعالیتونو کی ګډون وکړی؛

(چ) چه د کرهنی کریدت او پورونو، د مارکیتینګ تأسیساتو، مناسبی تکنالوجی ته، او د ځمکی او کرهنی د اصلاحاتو او همدا رنګه د ځمکی د بیا ویش پروګرامونو ته دمساوات پر بنا لاس لرنه ولری.

(ح) چه د ژوند پوره شرایط ولری، په تیره بیا کور، اوبه او بریښنا ترانسپورت او ارتباطی وسایل.

خلورمه برخه

۱۵ ماده

۱. غړی هیوادونه باید په قانون کی ښځی او نارینه مساوی او برابر وبولی.

۲. غړی هیوادونه باید ښځو ته په مدنی چارو کی داسی حقوقی توان ورکړی چه د نارینه سره مساوی وی او عین امکانات ورته ددی توان د عملی کولو لپاره برابر کړی. په تیره بیا، باید ښځو ته مساوی حق ورکړی چه تړونونه وکړی، جایداد اداره کړی او باید په محکمو او استعماعیه غونډرو کی په هر مرحلی کی د هغوی سره مساوی سلوک وکړی.

۳. غړی هیوادونه دا منی چه ټول قراردادونه او نور ټول هغه خصوصی وسایل چه حقوقی اثرات لری، او د ښځو د حقوقی توان د محدودولو لپاره وضع شوی وی، ړنګ او له مینځه ویوړل شی.

۴. غړی هیوادونه باید نارینه اوښځو ته عین حقوق په هغو قوانینو چه د سفر او تګ راتګ سره او همدارنګه د استوګنځی د انتخاب د آزادی سره اړه لری، ورکړی.

۱٦ ماده

۱. غړی هیوادونه باید ټول مناسب اقدامات وکړی چه د ښځو په ضد تبعیض په ټولو هغو چارو کی ختم شی چه د واده، او کورنیو اړیکو سره ارتباط لری او په تیره بیا دا داډ حاصل کړی چه د مساوات پر بنا نارینه او ښځه دا حقوق ولری:

(ا) د واده کولو عین حق؛

(ب) د خپل ژوند د شریک د انتخاب په برخه کی د آزادی عین حق، او یوازی د خپل خوښی او رضا په بنا واده شی؛

(پ) او د وداده په وخت اود هغه د ړنګیدو په وخت عین حقوق او مسؤلیتونه ولری؛

(ت) د مور پلار په توګه عین حقوقو او مسؤلیتونه صرف نظر لدینه چه وداه ده او که نه، په هغوی چارو کی چه اولادونو پوری یی تړلی وی؛ او په ټولو هغو چارو کی باید د اولاد ګټه مقدمه وی؛

(ث) عین حق چه په آزادی او مسؤلیت سره دا فیصله وکړی چه څومرهاولادونه غواړی او په څومره فاصله کی یی غواړی، او معلوماتو، روزنی او وسایلو ته لاس لرنه ولری تر څو د خپلو دغو حقوقو د عملی کولو توان پیدا کړی؛

(ج) د اولادونو د ساتنی، سرپرستی، تولیت، او په فرزندی نیولو په اړه عین حقوق او مسؤلیتونه ولری، یا د ملی پارلمان هغو ورته ادارو ته عین لاره ولری چه دغه مفکوری پکی دی؛ او په دی ټولو مواردو کی باید د اولادونو ګټی مقدمی وی؛

(چ) د ښځی او میړه پهتوګه باید عین شخصی حقوق ولری، د کورنی نوم د ټاکلو او د مسلک او وظیفی د غوره کولو د حق په ګډون؛

(ح) ښځه ميړه دواړه بايد د ملکيت، اخيستلو، اداری، او د جايداد د ورکولو، که وړيا وی او يا ډير قيمته خرڅولو عين حقوق ولری.

۲. د اولاد کوژدن او واده بايد هيڅ رنگه حقوقی اثر ونلری، او ټول لازم اقدامات، د قانون وضع کولو په گډون بايد وشی چه د واده حد اقل عمر وټاکل شی او واده په رسمی توگه درج او ثبت شی او دا ثبتول جبری وی.

پنځمه برخه

۱۷ ماده

۱. د اوسنی کنوانسيون په عملی کولو کی د پرمختگ د دوام لپاره، بايد د ښځو په ضد د تبعيض د له مينځه وړلو په باب يوه کميته وټاکل شی (چه پس لدی به د کميټی په نامه ياديږی) چه په اول سر کی د کنوانسيون په قوت کی د شامليدو په وخت بايد د اته لس تنو نه جوړه وی، او وروسته له هغه چه تصويب او د ۳۵ هيوادونو له خوا په کنوانسيون کی رسما شامل شی، درويشت تنه داسی ماهرين پکی وی چه لوړ اخلاقی مقام ولری او په هغو مسايلو کی چه کنوانسيون بيان کړی وارد وی. دا ماهرين بايد د غړو هيوادونو ل خوا د هغوی د خپلو خلکو نه انتخاب شی او په شخصی حيثيت پکی کار وکړی، او په مساوی جغرافيائی لحاظ به دا نمايندگان د مختلفو تمدنونو او حقوقی سيستمونو نه وټاکل شی.

۲. د کميټی غړی به د پټو رايو له لاری د هغو خلکو د نومونو د ليست نه وټاکل شی چه غړو هيوادونو برابر کړی وی. هر هيواد کولی شی چه د خپلو اتباعو نه يوتن کانديد کړی.

۳. مقدماتی انتخابات به په اوسنی کنوانسين کی د شامليدو د نيټی نه شپږ مياشتی وروسته وشی. د هرو انتخابتو د نيټی نه لږ تر لږه دری مياشتی مخکی د ملرگو ملتونو عمومی منشی بايد يو ليک غړو هيوادونوته واستوی او هغوی دیته وبولی چه د خپلو نومل شوو خلکو نومونه په دوه مياشتو وړاندی کړی. عمومی منشی بايد د الفبا په حساب يو ليست جوړ کړی او ټولو نومل شوو خلکو نومونه د هغه هيواد دنامه لاندی چه هغوی يی نوملی دی پکی واچوی، او دا ليست غړو هيوادونو ته وسپاری.

۴. د کميټی دغړو انتخابات بايد د غړو هيوادونو په هغی غونډی کی وشی چه د ملگرو ملتونو په مقر کی د عمومی منشی له خوا جوړيږی. پدی غونډی کی چه د غړو هيوادونو دريو کی وده برخی نصاب بايد پکی وی، کميټی ته انتخابيدونکی اشخاص بايد هغه نومل شوی خلک وی چه د ټولو نه زياتی رايی وگټی او د غړو هيوادونو د موجودو او رای ورکونکو استازو د رايو مطلق اکثريت ويسی.

۵. د کميټی غړی بايد د يوی څلور کلنی دوری لپاره انتخاب شی. مگر، د په اولو انتخاباتو کی د انتخاب شوو غړو له جملی نه د نهو تنو دوره بايد د دويم کال په پای کی ختمه شی؛ د لومړنيوانتخاباتو نه سمدستی وروسته بايد ددغو نهو تنو نومونه د کميټی د رئيس له خوا وټاکل شی.

٦. کمیټی ته د پنځو اضافی غړو انتخاب باید د پنځه دیرشم تأئید یا الحاق نه وروسته، د دی مادی د ۲،۳، او ۴، پاراگرافونو د احکامو مطابق تر سره شی. د دوه اضافی غړو د کار دوره باید د دویم کال په پای کی ختمه شی، ددی دوه تنو نومونه به د کمیټی د رئیس له خوا ټاکل کیږی.

٧. د عادی تشو ځوکیو لپاره به د هغو غړو هیوادونو نه چه ماهر یی د کمیټی دغړی په توگه خپل کار پری ایښی وی، باید یو بل ماهر د خپلو اتباعو نه وټاکی، او کمیټه یی باید تائید کړی.

٨. د کمیټی غړی باید، د عمومی ټولنی د تائید سره، د ملگروملتونو د منابعو نه، دداسی شرایطو سره دومره معاش واخلی چه عمومی ټولنی فیصله کړی وی او د کمیټی د مسؤلیتونو اهمیت پکی په نظر کی نیول شوی وی.

٩. د اوسنی کنوانسیون په رڼا کی د ملگرو ملتونو عمومی منشی باید لازم مامورین او تاسیسات د کمیټی د موثر کار لپاره برابر کړی.

۱۸ ماده

١. غړی هیوادونه باید د کمیټی دغور لپاره د ملگرو ملتونوعمومی منشی ته د هغو قانونی، قضا ئی، اداری تدبیرونو په باره کی یو رپوټ وړاندی کړی، چه هغوی ددی کنوانسیون د احکامو د مؤثر تطبیق او نورو پرمختگونو لپاره وضع کړی وی، او دا رپوټ باید:

(ا) په قوت کی د دی هیواد د شاملیدو نه د یوه کال په موده کی برابر شی؛

(ب) د هغی نه وروسته باید لږ تر لږه په هرو څلورو کلونو کی او هرکله چه کمیټه یی وغواړی داسی رپوټ وړاندی کړی.

٢. پدی رپوټونو کی باید هغه عوامل، او ستونزی چه د اوسنی کنوانسیون د مکلفیتونو د تر سره کولو لاره کی موجود وی یاد شی.

۱۹ ماده

١. کمیټه باید خپل مقررات او قواعد وټاکی.

٢. کمیټه باید خپل مامورین د دوه کلنو دورو لپاره وټاکی.

۲۰ ماده

١. کمیټه باید په عادی حالاتو کی ددی دپاره په کال کی غونده وکړی چه، د دوو هفتو نه زیات نه وی، تر څو په هغو رپوټونو باندی غور وکړی چه د اوسنی کنوانسیون د ۱۸ مادی په رڼا کی ورسپارل شویدی.

۲. د کمیټې غونډې باید معمولا د ملګرو ملتونو په مقر کې یا بل مناسب ځای که چه کمیټې غوره کړې وې وشي. (تعدیل د تصویب موضع)

۲۱ ماده

۱. کمیټه باید ، د اقتصادي او ټولنیزې شورا، له لارې هر کال د ملګرو ملتونو عمومي ټولنې ته د خپلو فعالیتونو راپور ورکړي او کولې شي چه نظریات او عمومي سپارښتنې د هغو رپوټونو اومعلوماتو د څېړلو په بنا ورکړي چه غړو هیواونو ورلیږلي وي. دغسې نظریات او عمومي سپارښتنې باید د کمیټې په راپور کې د هغو تبصرو سره یوځای وي چه که د غړو هیوادونو نه وررسیدلې وي.

۲. د ملګروملتونو عمومي منشي باید د کمیټې دا رپوټونه د ښځو د وضعې کمیسون ته د خبرتیا لپاره ولیږي.

۲۲ ماده

اختصاصي اداري باید مستحقې وي چه ددې کنوانسیون د هغو احکامو په تطبیق باندې د غور کولو په وخت حاضرې وي چه د هغوی د فعالیتونو سره ارتباط لري. کمیټه کولې شي چه دغه اختصاصي اداري وبولي چه د کنوانسیون د هغواحکامو د عملي کولو په باب چه د هغوی د فعالیتونو سره اړخ لګوي، خپل راپورونه ورته ورکړي.

شپږمه برخه

۲۳ ماده

ددې کنوانسیون هیڅ ټکې باید په هغو احکامو باندې ناوړه اثر وا نه چوي چه د نارینه او ښځو تر مینځ د مساوات راوستو لپاره ګټور دي او پدې لاندې موادو کې موجود وي:

(ا) د یوه غړي هیواد په قانون کې؛ یا

(ب) په هر نړیوال کنوانسون، تړون یا موافقې کې چه په هغه هیواد کې نافذ وي.

۲۴ ماده

غړي هیوداونه کولې شي چه هر رنګه تدبیرونه په ملي سطح وضع کړي چه دهدف یې د هغو حقوقو بشپړ تر لاسه کول وي چه پدې اوسنې کنوانسیون کې راغلي دي.

۲۵ ماده

۱. اوسنی کنوانسیون باید د ټول هیوادونو لاسلیک کیدو ته خلاص وی.

۲. د ملګرو ملتونو عمومی منشی د اوسنی کنوانسیون امانتدار ټاکل شویدی.

۳. اوسنی کنوانسیون باید تائید شی. د تائید اسناد باید د ملګروملتونو عمومی منشی ته ورکړل شی.

۴. اوسنی کنوانسیون باید ټولو هیودانو ته د ګډون کولو په مخ خلاص وی. او ګډون باید په هغه سند کی شامل شی چه د ملګرو ملتونو د عمومی منشی سره دی.

۲٦ ماده

۱. غړی هیوادونه هر وخت کولی شی چه د اوسنی کنوانسیون د تعدیل درخواستی د ملګرو ملتونوعمومی منشی د خبرولو له لاری په لیکلی توګه وکړی.

۲. د ملګرو ملتونو عمومی ټولنه باید د غسی درخواست په ارتباط د ګامونو اخیستو فیصله وکړی.

۲۷ ماده

۱. اوسنی کنوانسیون باید د ملګرو ملتونو عمومی منشی ته د تائید یا الحاق د شلو اسنادو د سپارل کیدود نیټی نه وروسته په د یارلسمه ورځ نافذ شی.

۲. د هر هغه هیودا لپاره چه اوسنی کنوانسیون د تصویب د شلو اسنادو د سپارل کیدو دوخت نه وروسته، تائیدوی یا ورسره الحاق کوی، باید چه د خپل تائید یاالحاق د اسنادو دوړاندی کولو د نیټی نه وروسته دیارلسمی ورځی باندی باید پکی شامل شی.

۲۸ ماده

۱. که کوم هیواد د تصویب یا الحاق په وخت څه ملحوظات لری، د ملګروملتونو عمومی منشی باید د هغه متن تر لاسه او ټولو غړو هیوادونو ته ورکړی.

۲. هغه ملحوظات چه د اوسنی کنواسیون د مقصد او هدف سره برابر نه وی، باید ونه منل شی.

۳. ملحوظات هر وخت بیرته اخیستل کیدای شی او دا کار د داسی خبرتیا له لاری باید وشی چه د ملګرو ملونو عمومی منشی ته واستول شی، او هغه به بیا ټول غړی هیوادونه خبروی. دغسی خبرتیا باید په هماغه ورځ چه ور ورسیږی نافذه شی.

۲۹ ماده

۱. د دوو یا زیاتره هیودانو تر مینځ د اوسنی کنوانسیون د تعبیر او تطبیق په باب هر رنګه اختلاف او جنجال چه د خبرو له لاری حل نه شی، باید د هری خواد غوښتنی په اساس، باید حکمیت ته وړاندی شی. که چیری د درخواستی د تاریخ نه په شپږ ورځو کی، دواړه خواوی د حکمیت د تشکیل په څرنګوالی موافقی ته ونه رسیږی، هره خوا کولی شی چه دا جنجال دعدالت نړیوالی محکمی ته د داسی درخواستی له لاری وسپاری چه د محکمی د مقرراتو سره اړخ ولګوی.

۲. هر غړی هیواد کولی شی چه د اوسنی کنوانسیون د لاسلیک یا د تصویب په وخت اعلان وکړی چه خپل ځان ددی ماده د ۱ پاراګراف منلوته مکلف نه بولی. نو غړی هیوادونه باید د کوم غړی د دغسی فیصلی او ملحوظاتو له امله مقید نه شی.

۳. هر غړی هیواد چه د دی مادی د ۲ پاراګراف مطابق ئی خپل ملحوظات وړاندی کړی وی، کولی شی چه خپل ملحوظات هر وخت چه وغواړی، د ملګرو ملتونو عمومی منشی ته د خبرتیا استولو له لاری بیرته واخلی.

۳۰ ماده

د اوسنی کنوانسیون ، عربی، چینائی، فرانسوی، روسی او هسپانوی ژبو متنونه، هر یو په مساوی ډول مؤثق دی او د ملګرو ملتونو عمومی منشی ته سپارل شویدی.

پدی توګه ګواهی ورکوم چه دا منم چه ما، چه لاسلیک می لاندی لیدل کیږی، اوسنی کنوانسیون لاسلیک کړی دی.[۱۵۵]

د اولاد/ماشوم د حقوقو کنوانسیون: ۱۷ پانی.

---

۱۵۵ اسلامی هیوادونو د کنوانسیون په ځینو بندونو باندی ملحوظات ښودلی دی (جدول ته لاړ شی). دویمه ماده د تبعیض ساده غندنه ده، اود تولو لاسلیک کونکو داسی ژمنه پکی ده چه د جنس په بنا تبعیض سره به د څولارو نه کلکه مبارزه کوی . د ۹ مادی ۲ پاراګراف اولادونو ته د تابعیت د انتقال په باره کی ده (د نورو تفصیلاتو لپاره د تابعیت فصل وګوری). ۱۵ ماده د قانون په وړاندی د ښځی د مساوات غږ کوی او په محکمو کید قراردادونو کولو او د استوګنځی په ټکلو کی د ښځو لپاره د مساوی حقوقو تضمین غواړی. ۱٦ ماده د واده، طلاق اود اولاد د سرپرستی په باره کی ده. ۱۹ مادی ۱ پاراګراف هیوادونوته اجازه ورکوی چه د ترون نه تیری د عدالت نړیوالی محکمی ته وړاندی کړی. د ۲۹ مادی ۲ پاراګراف په مشخص ډول دا څرګندوی چه د ترون لاسلیک کونکو ته ددی صلاحیت منل اختیاری دی او ډیر شمیر هیوادونو دغه معافیت وغوښت.

# داسلامی لغتونو لیست (د لغتونو معنی)

**فسخ** - د واده ړنګول. په مختلفو دلایلو واده فسخ کیدای شی ، چه په اکثرو کی یی دا خبره وی چه میړه یا ښځه یا اسلام ته او یا هم د اسلام نه اوښتی وی.

**فقه** - اسلامی قانون او حقوقی احکام، فقه د څلورو مذهبونو حقوقی احکامو ته ایشاره ده.

**حدیث** - "عنعنات" د پیغمبر محمد (ص) د ژوند مثالونه، چه ښیی چه هغه څه ویل او څه یی کول او څه یی منل. د قرآن تر څنګ حدیث هم د اسلامی قانون اساس دی.

**عده** - د طلاق نه وروسته د یوی ښځی د انتظار موده،معمولا دری میاشتی وی ( خو که هغه امیندواره ویموده یی اوږدیږی).

**اجبار** - جبری واده، چه د ناوی د ولی له خوا ی بند وبست شوی وی.

**کفه** - دښځی او نارینه تر منځ چه احتمال لری په آینده کی ښځه او میړه شی، معمولا ټولنیزاو اقتصادی دریځ پوری تړلی وی.

**خول** - یوه وسیله چه د هغی له لاری یوه ښځه کولی شی خپل میړه ته د پیسو ورکولو له لاری طلاق واخلی (معمولا د ټول مهر یا د هغه د یوی برخی بیرته ورکول وی).

**مذهب** - (جمع یی مذاهب دی) اسلامی قانونی کی د عقیدو مکتبونه دی. په سنی اسلام کی څلور مذهبونه دی: حنفی، مالکی، شافعی، او حنبلی. شیعیه مذهبی قانون کله کله د پنځم مذهب په، جعفری، نامه یادیږی.

**مهر** - جهیز دی چه د زوم له خوا د واده په وخت ناوی ته ورکول کیږی.

**متاع** - تاوان دی چه میړه یی د طلاق نه وروسته ښځی ته ورکوی ، که طلاق کی ملامت میړه وی.

**مدونه** - د مراکش کورنی قانون

**مبارت** - خول وګوری

**قاضی** - په اسلامی محکمی کی یو مذهبی قاضی

**شریعه** - معیاری اسلامی قانون چه د قرآن او حدیث نه جوړ دی.

**تفریق** - طلاق چه د میړه یا ښځی له خواد قاضی د حکم په اساس، د زخمی کیدو، نا خوښیوا و یا د واده د مکلفیتونوتر سره کولو کی د میړه د ناکامی په وجه، اخیستل شوی وی.

**طلاق** - د واده ړنګول (اسلامی واده). د طلاق معنی هر رنګه طلاق دی. یو خاص اسلامی طلاق چه جنجالی بلل کیږی، دا دی چه میړه دری څله ناری کړی چه طلاق. او پدی توګه خپله ښځه دری څله طلاقوی. که یو میړه د طلاق حق خپلی میرمنی یا دریم ګړی ته ورکړی، دی ته د طلاق تفویض وایی. دا کار د واده په وخت او یا د واده نه وروسته د توافق په حالت کی کیدای شی.

**تعلیق** - مشروط طلاق، او شرطونه معمولا د طلاق په وخت ایښودل کیږی.

**ولی** - قانونی سرپرست. ولی باید نارینه وی او معمولا پلار وی )یا هم که پلار مړ وی نیکه)؛ خو هر نارینه خپلوان ولی کیدلی شی.

## راند

د راند مؤسسه د یوی مستقلی، غیر انتفاعی مؤسسی په توگه په کال ۱۹۴۸ کی جوړه شوه. خپل نوم یی د څیړنی او انکشاف د الفاظو د گډولو نه اقتباس کړیدی، دا نوی مؤسسه د امریکا د عام خلکو د سوکالی او امنیت په مقصد د علمی، تعلیمی او خیریه اهدافو په مخ بیولو او تقویی ته وقف شوه.

تقریبا ۲۰ کاله، په خصوصی او عام سکتورنو کی د تصمیم گیری او فیصله کونکو مقاماتو د هغو مسلو د ریښتینو تحلیلونو او مؤثره حلونو د پیدا کولو لپاره د راند مؤسسی ته مخ اړولی دی، چه دا ملک او نړی ورسره مخامخ دی. پدی ستونزو کی داسی مهمی اقتصادی او ټولنیزه مسلی لکه تعلیم، غریبی، جنایت، او محیط او همدارنگه یو لړ د ملی امنیت مسلی شاملی دی.

نن ورځ د راند څیړونکی او تحلیل کونکې په خپلو ځانگو کی ډیر تکړه او لایقه ماهرین دی او د خصوځی او عامه سکتور د تصمیم گیری او فیصله کونکو مقاماتو سره په گډه کار کوی چه د نن ورځی مشکله، حساسه او مهمو پروبلمونو ته د حل لاری پیدا کړی. ډیری عالی او ریښتینی څیړنی او ریسرچ ته د خپلی غوښتنی او د تحلیل او ریسرچ د ډیرو پیچلو او پر مخ تللو وسایلو په مرسته چه دکلونو په اوږدو کی تر لاسه شویدی،راند، د خپلو مشتریانو سره په گډه د داسی پوهی، ژور دید، معلوماتو، لارو چارو او حلونو په پیدا کولو باندی کار کوی چه مؤثر او دوامدار وی.

د مینځنی ختیز د عامه پالیسی دپاره د رنډ مرکز(CMEPP) ، د مینځنی ختیز په باره کی ماهرین برابروی. د CMEPP تحلیل کونکی د سیمی او شا او خوا علاقو د سیاسی، ټولنیز، اقتصادی، او تکنالوژیکی انکشافاتو نه با خبره دی. CMEPP د ریسرچ او تحلیل له لاری د عامه او خصوصی سکتور د فیصله کونکواو تصمیم گیری مقامات سره د ستونزو په حل کولو، د سختو چارو د په مخ بیولو او د داسی لارو چارو پیدا کولو کی مرسته کوی چه ټولنه امن، بیداره او سوکاله شی.

### د عالمانو لپاره د ووډرو ویلسن نړیوال مرکز

د عالمانو لپاره د ووډرو ویلسن نړیوال مرکزد جمهور رئیس ویلسن په ویاړ یو ملی مرکز دی چه کانگرس په ۱۹۶۸ کی په واشنگټن ډی سی کی جوړ کړ. دا یوه بی طرفه مؤسسه ده، چه په خصوصی او دلتی پیسو چلیږی، او د ملی او جهانی چارو کی څیړنی کوی. د ویلسن مرکزد آزادو خلاصو عالمانه، اوبیطرفانه مباحثو بندو وبست کوی. دا مرکز د ووډرو ویلسن افکارو او اندیښنې ژوندی ساتی: د نړی د مختلفو نظریاتو او د جهانی پالیسیو تر مینځ د ارتباط ټینگولو له لاری؛ د داسی مختلفو افرادو د رسیرچ، مطالعی ، مباحثی، او همکاری د هڅولوو له لاری چه د پالیسی او پوهی سره په ملی او نړیوالی سطحی دلچسپی لری.

د ووډرو ویلسن د مرکز د مینځنی ختیز پروگرام د ۱۹۹۸ په فبروری کی، د مینځنی ختیز په ډیرو هیوادونو کی د امریکا د مشغولیت او د هغو بیشانه ډیرو بدلونو په رڼا کی پرانیستل شو چه په هغی سیمی کی راغلی دی. پر ځنیو مسایلو نه برسیره، دا پروگرام د اوږدی مودی انکشافاتو او په سیاسی، ټولنیز او اقتصادی پرمختیا او دامریکا سره د اړیکو څرنگوالی باندی دهغو اثرات څیړی. د مینځنی ختیز پروگرام کورنی او بهرنی سیمه ایز ماهرین خپلو غونډو، کنفرانسونو،او

کله کله هم د راپورونو لیکلو ته وربولی. کنفرانسونه او غونډی د اوږدی مودی سیاسی، ټولنیز او اقتصادی انکشافات په سیمی او منفرده ایالتونو کی څیړی؛ په نړیواله چارو کی د مینځنی ختیز رول؛ په سیمه کی دامریکا ګټی؛ د تروریزم ګواښ؛ او د سیمی د هیوادونو نه ستراتیژیکی ګواښونه څیړی. دا پروګرام خاصه توجه د ښځو، ځوانانو، مدنی ټولنی، مؤسساتو، او د اسلام رول، او دیموکراتیکو او استبدادی تمایلاتو ته کوی.